د پوهنې وزارت

پښتو

دولسم ټولګی

(د دري ژبو لپاره)



پښتو – دولسم ټولګی (د دري ژبو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.



ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې
هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي
پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي
هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي
لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به
لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحیم

د پوهنې وزارت

پښــتو

دولسم ټولگی

د دري ژبو لپاره

۱۳۹۸ هـ. ش. کال

د کتاب ځانګړتیاوې

مضمون: پښتو

مؤلفین: د تعلیمي نصاب د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې د درسي کتابونو مؤلفین

اېډېټ کوونکي: د پښتو ژبې د اېډېټ ډیپارټمنټ غړي

ټولګی: دولسم (د دري ژبو لپاره)

د متن ژبه: پښتو

انکشاف ورکوونکی: د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست

خپروونکی: د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هجري شمسي

د چاپ ځای:

چاپخونه:

برېښنالیک پته: curriculum@moe.gov.af

د پوهنې د وزیر پیغام

اقرأ باسم ربک

د لوی او ښښونکي خدای ﷻ شکر په ځای کوو، چې موږ ته یې ژوند رابښلی، او د لوست او لیک له نعمت څخه یې برخمن کړي یو، او د الله تعالی پر وروستي پیغمبر محمد مصطفی ﷺ چې الهي لومړنی پیغام ورته (لوستل) و، درود وایو.

څرنګه چې ټولو ته ښکاره ده ۱۳۹۷ هجري لمریز کال د پوهنې د کال په نامه ونومول شو، له دې امله به د ګران هېواد ښوونیز نظام، د ژورو بدلونونو شاهد وي. ښوونکی، زده‌کوونکی، کتاب، ښوونځی، اداره او د والدینو شوراګانې د هېواد د پوهنیز نظام شپږګوني بنسټیز عناصر بلل کېږي، چې د هېواد د ښوونې او روزنې په پراختیا او پرمختیا کې مهم رول لري. په داسې مهم وخت کې د افغانستان د پوهنې وزارت د مشرتابه مقام، د هېواد په ښوونیز نظام کې د ودې او پراختیا په لور بنسټیزو بدلونونو ته ژمن دی.

له همدې امله د ښوونیز نصاب اصلاح او پراختیا، د پوهنې وزارت له مهمو لومړیتوبونو څخه دي. همدارنګه په ښوونځیو، مدرسو او ټولو دولتي او خصوصي ښوونیزو تأسیساتو کې، د درسي کتابونو محتوا، کیفیت او توزیع ته پاملرنه د پوهنې وزارت د چارو په سر کې ځای لري. موږ په دې باور یو، چې د باکیفیته درسي کتابونو له شتون پرته، د ښوونې او روزنې اساسي اهدافو ته رسېدلی نشو.

پورتنیو موخو ته د رسېدو او د اغېزناک ښوونیز نظام د رامنځته کولو لپاره، د راتلونکي نسل د روزونکو په توګه، د هېواد له ټولو زړه سواندو ښوونکو، استادانو او مسلکي مدیرانو څخه په درناوي هیله کوم، چې د هېواد بچیانو ته دې د درسي کتابونو په تدریس، او د محتوا په لېږدولو کې، هیڅ ډول هڅه او هاند ونه سپموي، او د یوه فعال او په دیني، ملي او انتقادي تفکر سمبال نسل په روزنه کې، زیار او کوښښ وکړي. هره ورځ د ژمنې په نوي کولو او د مسؤولیت په درک سره، په دې نیت لوست پیل کړي، چې د نن ورځې ګران زده‌کوونکي به سبا د یوه پرمختللي افغانستان معماران، او د ټولنې متمدن او ګټور اوسېدونکي وي.

همدا راز له خوږو زده کوونکو څخه، چې د هېواد ارزښتناکه پانګه ده، غوښتنه لرم، څو له هر فرصت څخه ګټه پورته کړي، او د زده کړې په پروسه کې د ځیرکو او فعالو ګډونوالو په توګه، او ښوونکو ته په درناوي سره، له تدریس څخه ښه او اغېزناکه استفاده وکړي.

په پای کې د ښوونې او روزنې له ټولو پوهانو او د ښوونیز نصاب له مسلکي همکارانو څخه، چې د دې کتاب په لیکلو او چمتو کولو کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، مننه کوم، او د لوی خدای ﷻ له دربار څخه دوی ته په دې سپېڅلې او انسان جوړوونکې هڅې کې بریا غواړم.

د معیاري او پرمختللي ښوونیز نظام او د داسې ودان افغانستان په هیله چې وګړي یې خپلواک، پوه او سوکاله وي.

د پوهنې وزیر

دکتور محمد میرویس بلخي

فهرست

حمد



ـ تاسې د حمد د کلمې په معنا او مفهوم پوهېږئ چې څه ته وايي؟

ـ په تېرو ټولګيو کې مو د پښتو ژبې د لوست په کتابونو کې د حمد په نامه څه لوستي؟

ـ د حمد اصلي موخه او هدف څه دی؟

د حمد لغوي معنا ثنا، صفت او ستاینه ده. په اصطلاح کې هغه منظومه یا منثوره وینا یا شعر دی چې د الله ﷻ ثنا، صفت او ستاینه پکې راغلې وي.

موږ د پښتو ژبې د پخوانیو او معاصرو (اوسنیو) شاعرانو د شعرونو په مردفو دیوانونو او شعري ټولګو کې داسې شعرونه مومو چې د الله ﷻ ستاینې، ثنا او صفت ته ځانګړي شوي دي. په دغه ډول شعرونو کې هر شاعر له خپل فطري استعداد او ذوق سره سم د شعر په خوږه او رنګینه ژبه د خدای ﷻ د عظمت او صفتونو بیان کوي. موږ د دې ټولګي د لوست پیل ((د عبدالقادر خان خټک)) په حمدیه شعر کوو:

که پر تن د هر وېښته ژبې هزار کا
بیا دا ژبې یې هزار هزار گفتار کا

که سیندونه د جهان واړه سیاهي شي
قلمونه د جهان واړه اشجار کا

پرېښتې، سړي، پیریان سره راټول شي
په بیان په کښو هزار ځله تکرار کا

د خپل خدای ﷻ د نعمتونو په حساب شي
گومان مه کړه چې یې یو نعمت په شمار کا

حکیمان که واړه جمع د عالم شي
په هوا به یو ورق کله قرار کا

چې بې ستنو یې آسمان دی درولی
حیرانېږي چې نظر ورته هوښیار کا

باد او خاوره، اور، اوبه که هر څو ضد دي
په یوه مکان کې جمع دا چهار کا

حرکات د هیڅ اشیا نه شي بې حکمه
سکنات کله پخپله په اختیار کا

ښایسته کاندي آسمان په شپه په ستوریو
په ورځ ځمکه ښایسته په لاله زار کا

له یوه باغه مېوې له یوې ځمکې
تفاوت یې د لذت ترمنځ بسیار کا

د میږي د ښو آواز اوري بې غوږو
چې په توره شپه په تور کاڼي ګوزار کا

نږدې لېرې یې لیدو ته برابر دي
د نظر حجاب یې غر نه یې دیوار کا

دا دنیا لکه مزرع د آخرت ده
پکې کر ځینې د ګلو څوک د خار کا

که ګنج غواړې رنځ کوه عبدالقادره!
مزدوري به یې هم ومومي چې کار کا
(عبدالقادر خان خټک)

عبدالقادر خان خټک:

د پښتو ژبې نومیالی او خوږ ژبې شاعر، د خوشحال خان خټک زوی و. په ۱۰٦۳هـ.ق. د پښتونخوا پېښور په اکوړه خټک کې زېږېدلی او تر ۱۱۲۵هجري قمري کال پورې یې ژوند یقیني دی. د لوړې پوهې او ادبي استعداد خاوند و. په نظم او نثر کې یې ډېر آثار لیکلي او ژباړلي دي. ځینې آثار یې چې موږ په واک کې لرو دا دي: د اشعارو دیوان (حدیقه خټک)، ګلدسته، یوسف زلیخا، نصیحت نامه، خلوېښت حدیثونه، قصیده برده.

د متن لنډيز:

الله ﷻ پر انسانانو ډېر نعمتونه لورولي دي. دا نعمتونه دومره ډېر او له شمېره تېر دي چې که انسانان او پېريان سره راټول شي، د نړۍ سيندونه يې سياهي او د ونو ټوټې يې ټول قلمونه شي، بيا هم پرې دا نعمتونه ټول نه ليکل کېداى شي او نه شمېرل کېږي.

الله ﷻ آسمان بې ستنو درولى دى. د شپې يې پر ستورو او د ورځې يې پر لمر ښکلى او روښانه کړى. هېڅ شى بې د خداى ﷻ له حکم څخه حرکت او سکون نشي کولاى.

د نړۍ پر مخ چې هر څه ته گورې د خداى ﷻ د حکمت څرگنده نښه ده. انسان ته پکار دي چې دې هر څه ته په غور او دقت وگوري او پر خپل خداى ﷻ کلک باور او ايمان ولري، د زړه له کومي د هغه اطاعت او عبادت وکړي. دا نړۍ د هغې نړۍ (آخرت) لپاره د يوې کروندې حيثيت لري. دلته دې نېکې چارې ترسره کړي چې هورې په آخرت کې يې اجر او ثواب ومومي.

فعاليتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي، وروسته دې زده‌کوونکي په وار سره د شعر يو يو بيت د ټولگي په وړاندې ولولي. ښوونکى دې د لوستلو پر مهال د هغوى د غلطيو په سمولو کې مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې پر دوو ډلو بېل کړاى شي. يوه ډله دې په متن کې د جمع نومونه او بله ډله دې مفرد نومونه لست کړي، بيا دې د هرې ډلې استازى هغه د ټولگي په وړاندې په لوړ غږ ولولي. ښوونکى دې د اړتيا په وخت کې مرسته وکړي.

جمع نوم: هغه نوم دی چې له یوه څخه ډېر څیزونه یا شیان نوموي، لکه: غرونه، ګلونه، څمکې او . . . .
مفرد نوم: چې یو څیز نوموي، لکه: غر، څمکه، ګل او . . . .

ښوونکی دې په دې لاندې پوښتنو د لوست ارزیابي وکړي:

۱ـ د ټول متن د مفهوم په باب څومره پوهېدلي یاست، هغه په لنډیز سره ووایاست.

۲ـ د څو هغو نعمتونو نومونه واخلئ چې الله ﷻ انسانانو ته وربخښلي دي.

۳ـ دا نړۍ څنګه د آخرت مزرعه او کرونده ده؟

٤ـ د الله ﷻ د قدرتونو او حکمتونو په باب څومره پوهېږئ، په لنډون سره یې بیان کړئ.

۳ـ د ټولګي زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي، د یوې ډلې یو زده‌کوونکی دې د حمدیه شعر د خپلې خوښې یو بیت پر تخته ولیکي، د بلې ډلې یو زده‌کوونکی دې پخپله خوښه پاخېږي، د هغې معنا او مفهوم دې پخپله ژبه ټولګیوالو ته ووایي.

٤ـ زده‌کوونکي دې لاندې لغتونه معنا او په مناسبو جملو کې وکاروي.

ـ اشجار ـ حکمیان ـ سکنات ـ حجاب

ـ مزرع ـ رنځ ـ ګنج

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د یو شمېر هغو نعمتونو په باب چې الله ﷻ انسانانو ته ورکړي، څو کرښې ولیکي او په راتلونکي ښنتو لوست ساعت کې دې هغه د ټولګیو په وړاندې ولولي.

دُعــا

لويه خدايه!

موږ له تا څخه مرسته غواړو، موږ ته دې په خپلې لارې باندې د تللو توفيق راکړې!

پروردګاره! زموږ زړونه، ذهنونه او فکرونه د علم او پوهې په رڼا روښانه کړې.

موږ ته وس راکړې چې د خپل ځان، کورنۍ، هېواد او نړۍ په باره کې نېکې هيلې ولرو او ښه ښه فکرونه وکړو.

زموږ په وينا او عمل کې يووالى راولې چې دنيا مو ودانه او آخرت مو وربانديې ښايسته شي.

خدايه! موږ ته لارښوونه وکړې چې د خپلو مېندو، پلرونو، استادانو، هېوادوالو او نړيوالو خدمت وکړو.

موږ ته توان راکړې چې د مشرانو عزت او پر کشرانو شفقت وکړو.

لويه خدايه! موږ نوي ټولګي ته راغلي يو. د دې ټولګي درسونه هم د تېرو په شان ستا په نامه پيلوو.

موږ ته دا توان او وس راکړې چې په برياليتوب يې سرته ورسوو.

آمين

(يا رب العالمين)



ـ تاسې د نعت د کلمې په لغوي او اصطلاحي معنا او مفهوم پوهېږئ؟

ـ دمخه مو د پښتو لوست په کتابونو کې د نعت په نوم شعر لوستی دی؟

ـ په نعتیه شعرونو کې، په ځانګړې توګه کوم ډول مطالب بیانېږي؟

نعت په لغت کې غوره او نېکې ستاینې ته وايي. په اصطلاح کې هغه منظومه یا منثوره وینا ده چې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمدﷺ صفت او ستاینه پکې شوې وي.

موږ او تاسې د دې ټولګي په دویم لوست کې د یونس خیبري لیکلی نعت لولو.

هـر چـې سـرفـراز وي پـه اسـلام د محمدﷺ
ورد بـه يې ثنا وي صبح و شـام د محمدﷺ
ميم وحـې د ميم و دالـه دا څلـور حرفونه
ډېـر شـو مـشـرف پـه ذاتـي نـام د محمدﷺ
((مـيـم)) يې مرتبې تـه آسمانونه شـوو د پاسه
عـرش يې سر بلند کـا پـه اقـدام د محمدﷺ
تـاج د بـاد شـاهـی يې پـه سر شـو لـه درگاهه
کېښنو شـو قـدم د عـرش پـه بـام د محمدﷺ
واړه مطالب چـې يې خـواهـش وو لـه ښتنه
سـم راغـلـه هـمـه واړه پـه کـام د محمدﷺ
((حـی)) چې د ابجد په حسابونو کې اتـه شوه
شــوه اتــه جـنـتـه تـر انـعـام د محمدﷺ
قـد پـه بـزرگـی تـر آسمانونو و د پـاسه
څـکـه سـيـوری نـه درلــود قـيـام د محمدﷺ
کـل عـالـم کـه واړه پـه ثـنـا شـي تـر قيامته
يـو صـفـت بـه نـه کـا تـم تـمـام د محمدﷺ
خـلاص بـه شي پـه حشر دا آفتاب د گرمايی
نـنـوځـه د شـرعـي پـه خـيـام د محمدﷺ
کل مرسل نبي و پـاک رسـول و ته محتاج دي
ټـول پـه دا گـواه دي خـاص و عـام د محمدﷺ
داغ د غلامی يـې پـر جبين لـره ((يـونـسـه))!
شـاه دې صـدقـه شـي تـر غـلام د محمدﷺ

یونس خیبری: د پښتو ژبې پیاوړی او خوږ ژبی شاعر دی. په دولسمه هجري پېړۍ کې یې ژوند کاوه، د رحمان بابا د ادبي مکتب له پیروانو او شاگردانو څخه دی.
د شعرونو دیوان یې راپاتې دی. په ۱۳۵۵ لمریز کال د اطلاعات او کلتور وزارت له خوا د څېړندوی عبدالله بختاني په سریزه او تعلیقاتو چاپ او خپور شوی دی.

د متن لنډیز:
هر څوک چې د الله ﷻ له لوري د حضرت محمد ﷺ په راوړي سپېڅلي دین (اسلام) باندې مشرف شي، هغه به پر دغه ستر پیغمبر ﷺ درود وایي او په ستاینه او ثنا به یې بوخت وي. حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ ډېر او تر ټولو غوره بنده دی چې هغه یې عرش معلی ته وباله. دا د حضرت محمد ﷺ معجزه وه چې سیوری یې پر ځمکه نه پرېوت. د اسلام ستر پیغمبر د داسې ډېرې ستاینې او صفت وړ دی چې که ټول عالم یې ثنا او صفت وایي، نو تر قیامته به یې تمام نه کړي، هغوی چې په رښتینې معنا د حضرت محمد ﷺ شرعي احکام ومني د قیامت په ورځ به له سختې تندې او گرمۍ څخه وژغورل شي. حضرت محمد ﷺ ته الله ﷻ دا اعزاز او ویاړ هم وربخښلی دی چې د قیامت په لویه ورځ به ټول نبیان او مرسلان د هغه شفاعت ته اړ وي.

فعالیتونه

۱ـ د ښوونکي له خوا د متن تر لوستلو او لازمو څرگندونو وروسته دې زده‌کوونکي متن په ډېر دقت په چوپتیا سره ولولي، بیا دې له څو زده‌کوونکو څخه وغوښتل شي چې په وار

سره متن د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۲ـ د ټولګي زده‌کوونکي دې پر دریو ډلو ووېشل شي او دې ته دې وګومارل شي چې یوه ډله د متن عربي کلمې، بله دري کلمې او دریمه پښتو کلمې لست کړي، بیا دې د هرې ډلې استازی د ټولګي په وړاندې د کلمو لست ولولي. ښوونکی دې هغه د تختې پر مخ ولیکي.

۳ـ ښوونکی دې ستونزمن لغتونه معنا کړي او زده‌کوونکي دې په نوبت سره د هغو په جملو کې د استعمالولو لپاره تختې ته وربولي. ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې مرسته وکړي، زده‌کوونکي دې هغه پخپلو کتابچو کې ولیکي.

٤ـ ښوونکی دې دا لاندې کلمې پر تخته ولیکي او له زده‌کوونکو څخه دې وغواړي چې د هغو متضادې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکي:

۱ـ سرفراز	۲ـ سم	۳ـ جنت	٤ـ سیوری	۵ـ صفت
٦ـ غلامي	۷ـ ګرمایي	۸ـ محتاج	۹ـ سربلند	۱۰ـ شام

۵ـ ښوونکی دې د لاندې پوښتنو په کولو د زده‌کوونکو د پوهېدو کچه وآزمویي:

څوک د لوست مفهوم په لنډو الفاظو ویلی شي؟

الله جل جلاله حضرت محمد ﷺ ته څه ډول اعزاز وربخښلی و؟

د حضرت محمد ﷺ له معجزو څخه یوه بیان کړئ.

د قیامت پر ورځ به نور نبیان او مرسلان ولې د حضرت محمد ﷺ شفاعت ته اړ وي؟

کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې د حضرت محمد ﷺ د ژوند او غوره اخلاقو په اړه څو کرښې مقاله ولیکي، په راتلونکي پښتو ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته واوروي.

پښتانه او پښتو



ـ زموږ په هېواد کې کوم لوی قومونه استوګن دي؟

ـ تاسې له کومو ژبو سره آشنا او لږ و ډېر پرې پوهېږئ؟

زموږ په هېواد کې ګڼ شمېر لوی او واړه قومونه استوګن دي چې یو واحد ملت یې جوړ کړی دی. پښتانه د دې هېواد تر ټولو لوی قوم او توکم دی چې څو زره کلن لرغونی جوت تاریخ لري. پښتو د دې قوم او ولس ژبه ده. په دې لوست کې پښتانه د یو لرغوني آریايي توکم او د دوی ژبه (پښتو) د یوې لرغونې آریايي ژبې په توګه درپېژنو.

له تاریخي او توکمیزو څېړنو څخه پوره جوته شوې چې پښتانه له اصله او توکمه آریایان او د دوی ژبه ((پښتو)) یوه لرغونې آریایي ژبه ده. دمخه تر دې چې د پښتنو د توکم او د دوی د ژبې د لرغوني تاریخي پس منظر په اړه څه ووایو د لرغوني آرین توکم په اړه به چې پښتانه هم د هغه یوه برخه وه، لنډ بحث وکړو او د هغه په ترڅ کې به راته په لرغونو آریایي قبایلو کې د پښتون ولس شتون جوت شي.

په عمومي توګه د آرین یا آریانا نوم ډېر لرغونی دی. تاریخ لیکونکي وايي هغه قومونه چې له میلاد څخه څو زره کاله پخوا د آمو له غاړو څخه په باختر، هند او ایران کې خپاره شول، آرین نومېدل. د آرین کلمه په سنسکریت کې د ((آریا)) او په زند کې د ((ایریا)) په نوم راغلې چې د ((شریف)) او ((نجیب)) معنا لري، په ریګویدا او اوستا کې هم څو ځایه دا نوم راغلی او داسې یادونه شوې چې ((خدای تعالی د آرین توکم پیدا کړ.))

هیرو ډوټ (٤٢٥ _ ٤٨٤ق. م.) هم په خپلو آثارو کې څو ځایه د ((آرین)) یادونه کوې او وايي چې میدي قومونه پخوا ((آرین)) بلل کېدل.

په پښتو ژبه کې د ((آرین)) کلمې ریښه ((آر)) اوس هم د ((اصل)) او ((بنیاد)) په معنا کارول کېږي، لکه: د زرغوني کاکړې په دې لاندې شعر کې:

شیخ متي چې خلیلي و   دی له آره لوی ولي و

مؤرخین وايي چې آریایان له خپل لومړني ټاټوبي څخه تر لېږدېدنې او هجرت دمخه په یوه سیمه کې اوسېدل چې ((آریانا ویجه)) او د ځینو روایاتو له مخه د ((آریانا ورشه)) په نامه یاده شوې ده. ویل کېږي چې دا یوه غرنۍ سیمه وه چې لرغونو آریایانو هغه تر ډېره وخته له بهرنیو یرغلونو څخه خوندي ساتلې وه. وروسته بیا د ځای د تنګوالي له کبله دوی کوچېدو ته اړ شول. د آمو د سردریا له سرچینو څخه خپاره شول، په بخدي او باختر کې یې مدنیت جوړ کړ. دغه لرغوني آریایي قبایل له میلاد څخه دوه نیم زره کاله پخوا ختیځ او لویدیځ ته په کوچیدو اړ شول.

د لرغونو آريايانو په مذهبي کتاب ((ريګويدا)) کې د لسو آريايي قبيلو ترمنځ د يوې جګړې پېښه ياده شوې، په هغو کې يوه د ((پښتون)) قبيله هم وه چې هغه د ((پکته)) په نوم ياده شوې او د دوی مشر توريانه (تورې وهونکی) ښودل شوی دی.

هغه لس آريايي قبيلې چې د ((ويسومترا)) په مشرۍ يې له ((سوداس)) سره جګړه کړې، دا دي:

۱ـ پکته (پکتويس = پکهت = پښتون).

۲ـ بهالانا (د بولان درې خلک).

۳ـ شيوا (چې د اباسين په غاړو کې اوسېدل).

۵ـ ويشانن.

٦ـ انو (چې د پنجاب د راوي رود پر غاړه اوسېدل).

۷ـ د روهيو (دا قوم هم له انو قوم سره يو ځای اوسېده).

۸ـ يادوو

۹ـ توروا شا

۱۰ـ پورو (دګندهارا شاوخوا خلک).

همدارنګه د آريانا په دغه مذهبي کتاب کې خو ځايه نور هم د پکتها (پښتون) قوم يادونه شته او د دوی پاچا ((پکتها)) ښودل شوی دی.

د ريګويدا په کتاب کې له لسو قبايلو سره يو ځای او په ځانګړې توګه د پښتون قبيلې يادونې موږ ته راجوتوي چې له ميلاد څخه د لږ و ډېر ۱٤۰۰ کاله (له نن څخه درې زره څلوره سوه کاله) پخوا هم پښتون ولس موجود و.

تر ريګويدا وروسته زموږ بل مهم تاريخي سند د ((اوستا)) مذهبي کتاب دی چې له ميلاد څخه ۱۰۰۰ کاله وړاندې په بلخ کې ليکل شوی دی.

په دغه کتاب کې څو ځايه د بخدي نوم راغلی دی او تاريخ ليکونکی په دې عقيده دي چې په ويدا مذهبي کتاب کې د ((پکتها)) کلمه ((پ)) په ((ب)) ک، په ((ښ)) او ((ت)) په ((د)) اوښتې، نو له ((پکهت)) څخه بخت، پخت، بخد = پښت جوړ شوی او لرغونی

پکتها یا بخت وروسته ((بخدی)) د دوی په نامه د ښار نوم شو.

وروسته بیا د یوناني تاریخ لیکونکو په لیکنو کې د ((پښتون)) قبیلې او د هغوی د ټاټوبي یادونه په تفصیل سره شوې ده. په دې لړ کې لومړنی یوناني مؤرخ او جغرافیا لیکونکی هیرو ډوټ (۴۲۵ ــ ۴۸۴ ق.م.) دی چې په خپله مشهوره جغرافیه کې د پښتنو نوم اخلي او د پښتنو هېواد د ((پکتیکا)) په نوم یادوي.

نوموړی لیکي چې دا سیمه د اندوس پر غاړه پرته، خلك يې ډېر غښتلي او مېړني دي. د دوی کالي پوستینان دي، وسلې يې غشي او لیندۍ دي. په دود کې باختري خلکو ته ورته دي.

په همدغه وخت کې چې کله سکاي لاس یوناني امیرالبحر د داریوش (۴۸۶ ــ ۵۲۱ ق.م.) له خوا د عرب سمندرګي د غاړو د موندنې او کشف لپاره وګومارل شو، نو د پښتنو د ټاټوبي (پکتیکا) په لاره اندوس ته لاړ. نوموړی په خپله سفرنامه کې څو ځله د ((پکتیکا)) یادونه کوي.

وروسته بیا بطلیموس له میلاد څخه دمخه دویمه پېړۍ کې د پښتنو هېواد د ((پکتین)) په نوم یاد کړی او ویلي يې دي چې دا سیمه د پارو پامیزاد سویل ته پرته او د پکتیانو استوګنځی دی.

له دې پورته او داسې نورو یادونو څخه دا جوتېږي چې له میلاد څخه دمخه پېړیو کې هم پښتانه د يو قوم او ولس په توګه خلکو پېژندل او د ریګویدا په کتاب کې یاد شوی ((پکهت)) او د یوناني مؤرخینو او جغرافیا لیکونکو ((پکتهی، پکتیس)) او ((پکتیوس)) یادونو ترمنځ بدلون د یوناني ژبو او لهجو له امله دی.

دا پورتني نظریات وروسته لویدیځو ختیځ پوهانو، لکه ترومپ او ګریرسن هم منلي دي او د جغرافیايي موقعیت له مخې يې پکتیوس ((پښتانه)) وبلل او دا يې د یوې علمي نظریې په توګه ثابته کړه. اوس تاریخ لیکونکي او توکم څېړونکي په ریګویدا کې یاد شوی ((پکهت)) او د یوناني تاریخ لیکونکو ((پکتیوس)) پښتون ولس ګڼي، نو د پښتنو مدنیت او د دغه ولس د نامه تاریخ ډېر لرغونی دی او لږ تر لږه يې تر (۱۴۰۰ ق.م.) پورې لرغونتیا رسېږي.

پښتو ژبه:

موږ دمخه دمعتبرو تاریخي سندونو په رڼا کې جوته کړه چې پښتانه د یوې لرغونې آریایي قبیلې او ولس په توګه په (۱٤۰۰ق. م.) کې موجود وو. کله چې ولس او قوم شتون ولري، نو د ژبې شتون يې هم حتمي او لازمي دی.

د تاریخي څېړنو له مخې معلومه شوې چې له میلاد څخه (۳۰۰۰) کاله دمخه لرغونو آریایانو یا آرین قبیلې لومړی د اریک پر نوم په یوه ژبه خبرې کولې او بیا څومره چې خواره واره او یوه خوا بله خوا وکوچېدل، ژبه يې هم لومړی په بېلو بېلو لهجو او وروسته د زمانې په تېرېدو پر ځانګړو ژبو وېشل شوې ده.

په دغه لړ کې پښتو هم یوه زړه او لرغونې آریایي ژبه ده چې د نسبتي ((و)) په زیاتوالي سره د پښت ــ پکهت ته منسوبېږي او پښت یا پکهت هماغه ستره آریایي قبیله ده چې لږ و ډېر ۳٤۰۰ کاله پخوا يې د ریګویدا په سندرو یا مذهبي سرودونو کې یادونه شوې ده.

د زیاترو ختیځ پوهانو په نظر لرغونې پښتو، سانسکریت او اوستا د خویندو ژبو په نومونو یادېږي چې اوس سانسکریت او اوستا مړې او یوازې پښتو د یوې ژوندۍ ژبې په توګه پاتې ده.

پښتو د لرغونې آریانا (اوسني افغانستان) هغه لرغونې ژبه ده چې له زرګونو کلونو راهیسې د دې خاورې اوسېدونکي پرې غږېدلي، بډای ادب او فرهنګ لري.

پښتو هغه ژبه ده چې په همدغه لرغونې سیمه کې زېږېدلې، د ودې او پرمختیا پړاوونه يې وهلي او دې اوسني حالت ته رارسېدلې ده. د زمانې په دې اوږده بهیر کې کله کله له خنډونو سره مخامخ شوې او کله کله يې بیا د پرمختګ لپاره د روزنې او پالنې لاسونه هم پر سر تېر شوي دي.

د زمانې اوښتون، د دې خاورې حساس جغرافیوي موقعیت او پر دې هېواد او سیمه د بهرنیو یرغلونو او کورنیو خپلمنځي جګړو په پایله کې د پښتو ژبې د فرهنګي پانګې ډېره برخه له منځه تللې له خاورو سره خاورې شوې ده. تر اسلام دمخه د پښتو ژبې کومه لیکلې بېلګه اوس زموږ په لاس کې نشته چې دغې ژبې به څه ډول لیک درلود، خو دا چې په دغه

سیمه کې یوناني، خروشتي، ارامي او ځینې نور لیکونه دود وو، پښتو ژبې به هم خامخا له دغو لیکدودونو څخه یو خپل کړی و.

کله چې زموږ په هېواد (لرغوني افغانستان) کې د اسلام سپېڅلی دین خپور شوی، تر هغې را وروسته پښتنو هم د لرغوني افغانستان د نورو توکمونو او قومونو په څېر د خپلې ژبې د ثبت او لیکلو لپاره عربي لیکدود خپل کړی او د پښتو د ځانګړو اتو غږونو لپاره یې د تورو ځانګړې بڼې (ډ، ړ، ږ، ښ، ځ، څ، ټ، ڼ) ټاکلې دي.

پر پښتو ژبې اوس له افغانستان او پښتونخوا سربېره د نړۍ په نورو هېوادونو کې تر پنځوس میلیونو زیات وګړي غږېږي، بډای لیکلي او شفاهي ادبیات او په ډېره پیرزو رسنیو کې غږېزې او چاپي خپرونې هم لري.

د متن لنډېز:

په دې لوست کې مو ولوستل چې پښتانه یو لرغونی آریایي توکم او پښتو لرغونې آریایي ژبه ده. پښتون ولس لرغونی تاریخي پس منظر لري او د آریایي او د آریایي توکم دغه قبیله له نن څه لږ و ډېر ۳٤۰۰ کاله وړاندې د آریایانو په مذهبي سرودونو (ریګویدا) او بیا وروسته د ۱۰۰۰ق.م. شاوخوا په (اوستا) کې یاده شوې ده. سربېره پر دې یوناني تاریخ پوهانو، لکه هیرودوټ هم د پښتون قوم او د هغوی د ټاټوبي (پکتیکا) یادونه کوي.

هغسې چې ۳٤۰۰ کاله وړاندې د پښتون ولس شتون جوت دی، نو ویلی شو چې ولس موجود و، ژبه به یې خامخا موجوده وه، نو د پښتو ژبې لرغونتیا هم ۳٤۰۰ کاله وړاندې زماني ته رسېږي.

پښتو د لرغوني آریانا (اوسني افغانستان) هغه لرغونې ژبه ده چې له زرګونو کلونو راهیسې پرې د دې هېواد اوسېدونکي غږېدلي، له بډای ادب او فرهنګ نه برخمنه ده.

فعالیتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې د ښوونکي له متن لوستنې او لازمو څرګندونو وروسته د متن یو یو پراګراف په وار سره ولولي. ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې لازمه مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې متن په غور او دقت سره ولولي، په هغو کلمو یا لغتونو چې نه دي پوهېدلي، هغه دې له ځان سره لست کړي. بیا دې په ترتیب سره هر زده‌کوونکی خپلې لست کړې ستونزمنې کلمې د ټولګي په وړاندې ولولي.

۳ـ ښوونکی دې د زده‌کوونکو د لست کړېو ستونزمنو کلمو مجموعي توحیدي لست د تختې پر مخ ولیکي. ځینې کلمې دې په خپله د زده‌کوونکو په وسیله معنا کړي او هغه چې زده‌کوونکي یې نشي حل کولی پخپله دې حل او توضیح کړي.

٤ـ زده‌کوونکي دې د تختې پر مخ لیکل شوي لغتونه پخپلو کتابچو کې ولیکي.

۵ـ زده‌کوونکي دې پر دوو ډلو ووېشل شي، یوه ډله دې وګومارل شي چې د متن لومړۍ برخه چې د پښتنو د اصل او نسب په هکله ده او بله ډله دې د متن دویمه برخه چې د پښتو ژبې په هکله ده، په غور او دقت سره په چوپه خوله ولولي. بیا دې د لومړۍ ډلې یو یو زده‌کوونکی د ټولګي په وړاندې د متن معنا او مفهوم پخپله ژبه ووایي، وروسته دې د دویمې ډلې یو یو زده‌کوونکی د ټولګي په وړاندې د پښتو ژبې په هکله د متن معنا او مفهوم پخپلو لنډو الفاظو ټولګیوالو ته ووایي. ښوونکی دې له ټولو زده‌کوونکو سره د اړتیا په وخت کې د مفاهیمو د افادې د سمون لپاره لازمه مرسته وکړي.


۶ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې د کچې ارزونه وشي:

- د پښتنو اصل له کوم توکم څخه دی؟
- د پښتون قوم د لرغونتيا تاريخي پس منظر څو زره کاله وړاندې زمانې ته رسېږي؟
- په کوم لرغوني کتاب کې د نورو لسو آريايي قبيلو ترڅنګ د پښتون قوم يادونه هم شوې ده؟
- د پښتو ژبې لرغونتيا کومې زمانې ته رسېږي؟
- کومو يوناني پوهانو په خپلو کتابونو کې د پښتنو او د هغو د هېواد او ټاټوبي يادونه کړې او هغه په کومو نومونو نومولی دی؟
- له اسلام څخه دمخه په افغانستان کې کوم ليکدودونه رواج وو؟
- پښتو ژبې د ثبت او ليکلو لپاره اوس کوم ليکدود کارول کېږي؟
- په پښتو ژبه اوس په افغانستان، پښتونخوا او نوره نړۍ کې څومره وګړي خبرې کوي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د لوست مفهوم په خپلو لنډو جملو کې وليکي، د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه د نورو ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

د کمپیوټر او انټرنیټ اهمیت
(خبري اترې)



- تاسې کمپیوټر پېژنئ چې څه ډول وسیله ده او د څه لپاره کارول کېږي؟
- د انټرنیټ له نامه سره آشنا یاست، څه معنا او مفهوم لري؟

کمپیوټر نن سبا په ژوند کې د ساینس او پرمختګ ډېره مهمه وسیله ده چې بشر ته یې سترې اسانتیاوې را پیدا کړې دي. نه یوازې دا چې پر هغې لیکنه کولی شو، بلکې نورې ډېرې چارې، لکه: محاسبه، انځور کښنه، جدول جوړونه او داسې نور د همدې وسیلې په واسطه سرته رسېږي او هم د کمپیوټر د زده کړې په صورت کې له انټرنیټ څخه چې نړۍ یې د یو کلي په څېر سره رانږدې کړې د ټولې دنیا له حالاتو څخه خبرېدای شو، نو ځکه دا اړتیا ده چې هر څوک یې زده کړي او ورته لاس رسی ولري.

په دې لوست کې مو تاسې زده‌کوونکو ته د کمپیوټر او انټرنیټ د پېژندنې او اهمیت په اړه ځینې خبرې اترې راوړې چې هم به مو له دغو وسیلو سره آشنا کړي او هم به مو په پښتو ژبه د خبرو اترو کولو ځواک پیاوړی کړي.

ایمل: دا دی له خبره سره ټول سوالونه مې حل کړل، که دا کمپیوټر نه وای په دوو ورځو کې مې هم نشوای حل کولی.

جمیل: ایمله ښنګه داسې شپه او ورځ په دغه ماشین لګیا یې، ټک او ټوک دې شروع کړی دی راځه چې لږ ساعت د فوټبال لوبه وکړو.

ایمل: جمیله، فوټبال خو په خپل وخت کې کوو، ته راشه چې تا ته هم کمپیوټر در زده‌کړم.

جمیل: ستا ډېرې خبرې یادې دي، هسې خپل ماغزه ولې اوبه کړم.

ایمل: جمیله، دا خبره مه کوه تردې وروسته چې د چا کمپیوټر نه وي زده هېڅ چېرته هم کار نه شي کولای.

جمیل: مکتب چې یې ویلی وي، لیک او لوست یې چې زده وي ښنګه کار نشي کولای؟

ایمل: دا خبره خو دې سمه ده، خو له دې وروسته په دفترونو کې خلک په قلم کاغذ باندې څه نه لیکي، ټول کارونه په کمپیوټر کېږي، په کمپیوټر.

جمیل: په کمپیوټر، دا څه وایې، نو خلک به څه کوي؟

ایمل: خلک مجبوره دي چې ټول کمپیوټرونه زده کړي.

جمیل: نو کمپیوټر باندې، خو یوازې خط لیکل کېږي دا نور کارونه به ښنګه کړي؟

ایمل: و ساده ګله، یوازې خط نه چې وایم د دنیا هر کار پرې کېږي.

جمیل: خو ما هم پرې پوه کړه چې کوم کارونه پرې کېږي؟

ایمل: خط لیکل، محاسبه، د انجینرۍ نقشې جوړول، عکسونه اخیستل، آشنا خو څه به درته وایم نن سبا په دنیا کې داسې کار نشته چې په کمپیوټر نه کېږي.

جمیل: نه بابا چې داسې ده، زه خو په کور کې کمپیوټر نه لرم دا به ښنګه زده کوم؟

ایمل: هېڅ غم مه کوه د ورځې یو ساعت زموږ کور ته راځه زه یې درسره په یادولو کې مرسته کوم.

جمیل: یاره ایمل انډیواله ته خو دې تر ډېره ژوندی اوسې.

ایمل: ته دې هم ژوندی اوسې.

جمیل: دا دومره کاغذونه دې څنګه مخې ته ایښې دي، په دې کې خو ځینې چاپ شوي هم دي کنه.

ایمل: هو، دا خو مې په دې کمپیوټر کې د یوې موضوع په اړه تحقیق او پلټنه وکړه او له کمپیوټر څخه مې ډېر معلومات ترلاسه کړل.

جمیل: څه، څه تحقیق، په کمپیوټر کې دې څه رقم تحقیق وکړ. کتابونه دې په کې لیکلي دي.

ایمل: کمپیوټر سره یو لین نښلول کېږي چې انټرنېټ ورته وایي تحقیق مې په هغې کې وکړ.

لیلما: السلام علیکم ستړي مه شئ.

دواړه: وعلیکم السلام.

جمیل: لیلما دا کمپیوټر خو هم عجیبه شی دی او دا بل شی چې اوس یې ایمل نوم واخیست دا خو بیخي عجیبه شی دی، نوم یې څه شی و؟

ایمل: انټرنېټ، په دې کې لیلما له ما نه هم ډېره ښه پوهېږي.

لیلما: هو انټرنېټ خو نن سبا په دنیا کې ډېر غټ پرمختګ دی.

جمیل: په دې نو کوم کوم کارونه کېږي، له تحقیق نه پرته؟

لیلما: په انټرنېټ کې خلك کولای شي د نړۍ په ډېرو ژبو او په خاص ډول په انګرېزۍ ژبه د هر شي په باره کې تحقیق کوي او معلومات پیدا کولای شي.

جمیل: څومره ښه، د هر شي په باره کې پکې معلومات وي؟

لیلما: د هر هغه شي په باره کې پکې معلومات وي چې انسانانو لیکلي او انټرنېټ ته یې ورکړي دي.

جمیل: ښه نور پرې کوم کارونه کېږي؟

لیلما: نور دا چې په انټرنېټ باندې یوازې په څو دقیقو کې د دنیا هر ملك ته خطونه هم استولای شو. یو بل سره په هماغه وخت کې خبرې هم کولای شو.

ایمل: او جمیله! اوس پرې خلک له یو ملک نه بل ته پیسې هم لیږي رالیږي.

جمیله: دا بانکونو والا له همدې لارې پیسې لیږي، لکه زما د تره زوی ته له جرمني نه یې خپل ماما ته پیسې راواستولې.

ایمل: بالکل له همدغې لارې یې اوس خلک رالیږي.

لیلما: بل دا چې خلک اوس په انټرنېټ کې سوداګري هم کوي. د یو چا چې څه شی په کار وي کارخانې والا ته یې د هغوی په آدرس لیکي چې ما ته دومره مال راولېږه او ما دومره پیسې ستاسو په پته درولېږلې. کارخانې والا لومړی پیسې اخلي، بیا هغه سړي ته مال لیږي.

جمیل: په رښتیا چې دا خو عجیبه شی دی، کاشکې زما هم یاد وای.

لیلما: داګوره جمیله په دې انټرنېټ باندې په سلګونو کارونه نور هم کېږي.

ایمل: خو زما نه دی زده نو ...

لیلما: خیر دی د دې لپاره چې انټرنېټ زده کړې اول باید کمپیوټر زده کړې. په کمپیوټر کې به درسره زه مرسته وکړم.

جمیل: ښېخې سمه ده سر له همدې نن ورځې څخه زه کمپیوټر زده کول شروع کوم، اوس نو ځمه کور ته د خدای ﷻ په امان.

دواړه: په مخه دې ښه.

د متن لنډیز:

کمپیوټر نن سبا په ژوند کې د ساینس د پرمختګ خورا مهمه لاسته راوړنه ده چې بشریت ته یې ډېرې سترې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. په کمپیوټر کې نه یوازې لیکنه کېدلای شي، بلکې ډېر پېچلي موضوعات او مسایل، لکه انځورونه، محاسبه، ډېر مغلق جدولونه او نورې چارې ترسره کېدلای شي او همدارنګه د کمپیوټر په زده کړې سره کولای شو چې له انټرنېټ څخه هم ګټه واخلو او د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو د علمي

پرمختګ، اقتصادي غوړېدنې او نورو ځېرنیزو موضوعګانو په اړه په ښه شېبو کې د خپلې غوښتنې وړ معلومات ترلاسه کړو. د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې نوی نسل ټول د کمپیوټر په کارونه او زده کړې پوهېږي، همدغه لامل دی چې له انټرنېټ څخه هم ګټه اخیستلای شي. له نېکه مرغه د ساینس دغه غوره لاسته راوړنې زموږ هېواد ته هم لاره موندلې، نن سبا ډېر ځوانان د کمپیوټر په زده کړه بوخت دي او د انټرنېټ په کارولو هم بریالي دي چې دا کار زموږ د راتلونکي نسل سره د لازیاتو علمي پرمختګونو په هکله زیاته مرسته کولای شي.

فعالیتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې لوست په چوپتیا سره ولولي او د هغه مفهوم دې په خپل ذهن کې وساتي.

۲ـ د ښوونکي د تدریس په مهال دې زده‌کوونکي غوږ ونیسي چې د کلمو په سم تلفظ او د جملو په جوړولو پوه شي.

۳ـ یو زده‌کوونکی دې د کمپیوټر د اهمیت او ارزښت په اړه څو جملې ووایي او بیا دې د هغو څخه یوه غوره جمله د تختې پر مخ ولیکي. بل زده‌کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د نومورې جملې په هکله دې خپله خبرې وکړي.

٤ـ ښوونکی دې د ټولګي ټول زده‌کوونکي پر دوو ډلو ووېشي او هغوی ته دنده ورکوي چې لومړۍ ډله د کمپیوټر په اړه او دویمه ډله د انټرنېټ په هکله څو څو جملې ولیکي، بیا دې یو تن استازی د ټولګي مخې ته راشي او خپل معلومات دې نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي،

د هرې ډلې معلومات چې سم او غوره وي ښوونکی دې هغه ډله وستايي.

۵ـ یو زده‌کوونکی دې د تختې مخې ته راشي د کمپیوټر او انټرنېټ په اړه دې خپل معلومات نورو ټولګیوالو ته وړاندې کړي.

۶ ـ څو تنه زده‌کوونکي دې د تختې مخې ته راشي او د ایمل او اجمل له خبرو اترو څخه په استفادې سره دې د لوست مفهوم په ساده ژبه نورو ټولګیوالو ته بیان کړي.

۷ـ څو تنه زده‌کوونکي دې په وار سره ووايي چې تر دې وروسته د کمپیوټر او انټرنېټ د زده کړې او له هغو څخه د کار اخیستلو په هکله څه ډول تصمیم لري او خپله پرېکړه دې نورو ټولګیوالو ته ووايي.

۸ـ کوم زده‌کوونکي د کمپیوټر د زده کړې په اړه کتابونه لوستلي دي او که نه، که چېرته يې لوستې وي، د هغو نومونه دې ووايي او خپلو نورو ټولګیوالو ته دې په دغه اړه معلومات وړاندې کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کمپیوټر او انټرنېټ د اهمیت او ارزښت په اړه یو یا دوه مخه مقاله ولیکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

> د خدای ﷻ په وړاندې تر ټولو ګران بنده ګان متقیان او پرهېزګاران دي

پیر محمد کاکړ



ـ تاسې د پښتو په پخوانیو شاعرانو کې د چا له نوم سره آشنا یاست؟

ـ د کومو پخوانیو شاعرانو شعرونه مو لوستي دي؟

د پښتو د ادبي تاریخ دویمه (منځنۍ) یا کلاسیکه دوره د پښتو ژبې او ادبیاتو د ودې او پرمختیا یوه زرینه دوره بلل کېږي. په دغه ادبي دوره کې ډېر پیاوړي شاعران او لیکوالان رامنځته شوي چې د نظم او نثر د زیات شمېر کتابونو په لیکلو یې د پښتو ادبي پانګې ته ډېر بډاینه وربخښلې ده. د دغې دورې په نومیالیو ادیبانو کې یو هم پیرمحمد کاکړ دی چې د خپل وخت نومیالی دیني عالم هم و، شاعر او لیکوال هم. په دې لوست کې یې درپېژنو:

پیرمحمد کاکړ د پښتو ژبې نومیالی شاعر، لیکوال او عالم دی. د زېږېدنې کال یې په دقیقه توګه نه دی معلوم، ادبي څېړونکي یې د ۱۱۲۰هـ.ق. او ۱۱۳۰هـ.ق. ترمنځ کلونه اټکلوي. د سهیلي پښتونخوا د کاکړستان د ژوب د هندوباغ د سیمې د ((یعقوبي)) کلي استوګن و.

پیرمحمد کاکړ په ځوانۍ کې د دیني علومو په زده کړې پسې کندهار ته چې د هوتکیانو د واکمنۍ په وخت (۱۱۱۹ ـ ۱۱۵۰هـ.ق.) کې زموږ د هېواد پلازمینه او علمي ـ کلتوري مرکز و، تللی و. هلته یې له نومیالیو علمانو څخه زده کړې، کړې وې. په کندهار کې د پوره نوم او شهرت خاوند شوی او بیا خپلې سیمې کاکړستان ته تللی و.

لوی احمد شاه بابا چې د خپلې واکمنۍ پر وخت (۱۱۶۰ هـ.ق. ۱۱۸۶هـ.ق.) د پیرمحمد کاکړ له علمي او ادبي شهرت نه خبر شوی، څو ځل یې کندهار ته د ورتګ بلنه ورکړې وه، خو هغه نه وه منلې، بالاخره په هره وسیله چې و، راېستل شوی و چې کندهار ته ورشي.

پیرمحمد کاکړ ته په احمدشاهي دربار کې د دیني او ادبي علومو د تدریس چارې ورسپارل شوې او د لوی احمدشاه بابا زوی شهزاده سلیمان یې له ځانګړو شاګردانو څخه و چې په پوره اهتمام یې د هغه د علمي او ادبي روزنې چارې ترسره کولې.

د احمدشاه بابا د مړینې پر وخت (۱۱۸۶هـ.ق. کال) چې د هغه مشر زوی شهزاده تیمور په هرات کې و، لومړي وزیر شاه ولي خان له موقع څخه په استفادې خپل زوم، د احمدشاه بابا کشر زوی شهزاده سلیمان، پاچا کړ. پیرمحمد کاکړ د خپل خاص شاګرد په واکمنۍ ډېره خوښي څرګنده کړه او خپل یو تالیف کړی کتاب ((معرفت الافغاني)) چې درباریانو ته یې د پښتو ژبې د لیک لوست زده کړې لپاره لیکلی و، نوموړي واکمن ته وړاندې کړ، خو دا چې د شهزاده سلیمان د واکمنۍ موده ډېره لنډه وه، د تېمور په راتګ سره یې له واکمنۍ څخه لاس واخیست او هغه د تېمور شاه په نوم واکمن شو.

د پیرمحمد کاکړ د شعرونو له مطالعې څخه ښکاري چې د تیمور شاه د واکمنۍ په دوره کې له شهزاده سلیمان سره د ډېرو نژدې اړیکو له امله ده ته په دربار کې خپل پخوانی قدر، عزت او درناوی نه دی پاتې، خو بیا هم په بشپړه توګه له پامه هم نه دی غورځېدلی.

له تیمور شاه څخه وروسته د شاه زمان او شاه محمود سدوزي د واکمنیو په وخت کې هم د دربار په نومیالیو عالمانو او ادیبانو کې یاد و. د شاه محمود سدوزي له هغه فرمان څخه چې پر ۱۲۱۶هـ.ق. کال خپور شوی، داسې څرګندېږي چې پیرمحمد کاکړ هم دغه مهال د نورو عالمانو په څېر له دربار څخه امتیاز او مواجب ترلاسه کاوه.

سربېره پر دې چې پیرمحمد کاکړ د خپل وخت له نومیالیو دیني پوهانو او مدرسینو څخه و، د پښتو او دري ژبو تکړه شاعر، ژبپوهاند او تاریخ لیکونکی هم و. د پښتو او دري ژبو د لرغونې او خپلې زمانې د ادبیاتو ژوره مطالعه یې درلوده، په ادبي فنونو، فصاحت او بلاغت ښه پوهېده او د استادۍ مقام ته رسېدلی و. نوموړی د یو ځانګړي ادبي سبک او لارې خاوند و چې په خپله زمانه او راوروسته وختونو کې نورو ډېرو شاعرانو د هغه پیروي کړې او د ده د لوړ ادبي مقام یادونه او ستاینه یې په ډېر درنښت کړې ده.

پیرمحمد کاکړ د تدریس د چارو ترڅنګ یو شمېر د نظم او نثر کتابونه هم لیکلي دي، هغه چې د زمانې له تویاني سیلیو راپاتې دي، دلته یې په لنډه توګه درپېژنو:

۱ـ د اشعارو دیوان: پیرمحمد کاکړ د خپلو شعرونو دیوان پر ۱۱۹۶هـ.ق. بشپړ کړی دی. دا دیوان لومړی ځل پر ۱۳۰۳هـ.ق. کال په هند او دویم ځل پر ۱۳۲۵ لمریز کال په کابل کې پښتو ټولنې او په دې وروستیو کې په کوېټه او پېښور کې بیا بیا چاپ شوی دی.

۲ـ معرفت الافغاني: دا کتاب د دې لپاره لیکل شوی چې د وخت واکمنو درباریانو ته پښتو لیک لوست زده کړي او په نتیجه کې د دربار او دفتر ټولې رسمي لیکنې په پښتو کړي.

دا کتاب لومړی ځل په ۱۳۴۱هـ.ق. کال په لاهور او دویم ځل په ۱۳۵۶لمریزکال په کابل کې چاپ او خپور شوی دی.

۳_ د پښتنو تاریخ: وایي چې پیرمحمد کاکړ د احمدشاه بابا په امر د پښتنو یو تاریخ هم په پښتو ژبه لیکلی و. د دې کتاب یوه قلمي نسخه د امیرعبدالرحمان په دربار کې موجوده او د دربار منشي ملامحمد خان افغان نویس ته سپارل شوې وه، خو له ۱۳۰۰هـ.ق. راوروسته تر ننه ورکه ده.

٤_ هدایت المبتدي: د اسلامي فقهې د ابتدایي مسایلو کتاب دی چې پیرمحمد کاکړ په دري ژبه نظم کړی، قلمي نسخه یې شته.

پر دې پورتنیو آثارو سربېره د پیرمحمد کاکړ د دیوان د یوې قلمي نسخې په پای کې څو پاڼې د قلمي نسخې د خطاط په قلم کښل شوي چې پښتو نثر یې روان، د جنت او قیامت د ورځې په هکله بحث دی. ځینې ادبي څېړونکي دا اټکل کوي چې دا هم کېدای شي د پیرمحمد کاکړ کوم اثر وي چې نوم به یې ((قیامت نامه)) یا ((جنت نامه)) و.

د وروستیو ادبي تاریخي څېړنو له مخې د پیرمحمد کاکړ ژوند تر ۱۲۱٦هـ.ق. کال پورې یقیني دی، خو دا چې وروسته به په کوم کال مړ شوی وي، نه ده معلومه. دومره څرګنده ده چې په کندهار کې وفات شوی او د (شاه ولي) پر غاړه په لویه هدیره کې د حضرت جي صاحب زیارت ته نژدې ښخ او قبر یې معلوم دی.

دلته یې د شعر یوه بېلګه لولو:

بند پر بند دې غوښ د سترګو په خنجر کړم
بیا سیراب دې هم په وینو د ځیګر کړم

هر سحر چې کړې ناله پر ګل له سوزه
عشق مدام هغه بلبله د سحر کړم

درسته شپه راته اغزي شي د کیکرو
بې له تا چې خواب د پرو پر بستر کړم

سوز ګداز د محبت مې دې نصیب کړ
په سره اور کې دې دلبره سمندر کړم

ته یو دم زما و لور ته عزم نه کړې
زه له ځانه ستا و لورو ته سفر کړم

یو نظر د تورو سترګو عنایت کړه
په دربار کې دې له غمه خاکستر کړم

ساقي را کړه یو ځل مې د لعلو لبو
چې پرې یخ زه پیر محمد سوی ټټر کړم

د متن لنډيز:

پیرمحمد کاکړ د پښتو ادبیاتو د کلاسیکي یا منځنۍ دورې پیاوړی لیکوال او شاعر و چې د زوکړې زمانه یې ۱۱۲۰هـ.ق. ـ ۱۱۳۰هـ.ق. کلونو ترمنځ اټکل شوې ده. اصلاً د سهیلي پښتونخوا د ژوب اوسېدونکی و. د احمدشاه بابا د واکمنۍ پر وخت د هغه په غوښتنه کندهار ته راغلی او په دربار کې د دیني علومو د تدریس دنده ورسپارل شوې وه. تر ۱۲۱٦هـ.ق. کال پورې یې ژوند یقیني دی.

د نظم او نثر یو شمېر لیکلي کتابونه یې راپاتې دي چې د نوموړي د لوړ علمي، ادبي او فرهنګي شخصیت څرګندويي کوي. دغه آثار یې څرګند دي: د شعرونو دیوان، معرفة الافغاني او هدایت المبتدي.

فعالیتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې په وار سره د متن یو یو پراګراف ولولي، استاد دې د اړتیا په وخت کې مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د پیرمحمد کاکړ د ژوند او شخصیت په اړه خبرې وکړي.

۳ـ زده‌کوونکي دې متن په چوپه خوله په غور او دقت سره ولولي او په هغه کې دې ادات په نښه کړي، هر یو دې په نښه کړي ادات په خپل وار د ټولګي په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې مرسته وکړي. په متن کې د موجودو اداتو یو بشپړ لست دې له هغو څخه ترتیب او د تختې پرمخ ولیکي.

ادات:

هغه ناخپلواکه کلمې دي چې په ځانګړې توګه کومه معنا او مفهوم نه افاده کوي، خو کله چې له نورو خپلواکو کلمو سره په جملو کې یو ځای شي، نو بیا معنا ورکوي. ادات د جملو په جوړښت او رغونه کې اساسي ونډه لري او پرته له هغو جملې نه

جوړېږي. ادات دا لاندې ډولونه لري:

(۱) ارتباطي ادات، لکه: هسې، که څه هم او داسې نور. (۲) د عطف ادات، لکه: او، که، یا او نور. (۳) د اضافت ادات (د)، لکه: د احمد قلم. (٤) تشبیهي ادات، لکه: غوندی، په څېر، په دود، په توګه او نور.

٤ـ زده‌کوونکي دې په وار سره تختې ته وروبلل شي چې هر یو ادات په جمله کې استعمال یا د یو ادات په مرسته یوه جمله جوړه کړي. نور زده‌کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

٥ـ ښوونکی دې په دې لاندې پوښتنو د لوست د زده کړې ارزونه وکړي:

- پیرمحمد کاکړ د کوم واکمن په عصر کې ژوند کاوه او په دربار کې کومه دنده ورسپارل شوې وه.
- پیرمحمد کاکړ اصلاً د پښتونخوا د کومې سیمې اوسېدونکی و، د چا په غوښتنه کندهار ته راغلی و.
- د پیرمحمد کاکړ د نظم او نثر کوم کتابونه لیکلي دي؟
- د پیرمحمد کاکړ ژوند تر کوم کال پورې یقیني دی؟
- د پیرمحمد کاکړ د شعر مفهوم بیان کړئ.

٦ـ زده‌کوونکي دې د پیرمحمد کاکړ د شعر یو یو بیت په لوړ غږ خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله خوښه د کورنۍ دندې په توګه د پښتو د کلاسیکې دورې د کوم شاعر د ژوند په باب لنډ معلومات ولیکي او په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

د پښتو ادب معاصره دوره



ـ تاسې د ادبیاتو د تاریخ له نامه او اصطلاح سره آشنا یاست، پوهېږئ چې ادب تاریخ څه ته وایي؟

ـ تاسې د ادبیاتو په تاریخ کې د ادبي دورې نوم اورېدلی دی؟

ـ دمخه ټولګیو کې مو د پښتو ادبي تاریخ کومې دورې لوستې دي؟

ـ معاصره ادبي دوره څه معنا او مفهوم لري؟

د ادبیاتو تاریخ، د تاریخ په بېلا بېلو دورو کې د یوې ژبې د ادبیاتو د ودې او پرمختیا جریان او بهیر څېړي. د هرې ژبې ادبیات په تاریخي لحاظ په څو بېلا بېلو دورو وېشل کېږي.

همدې اصل ته په کتنې سره د پښتو ژبې ادبیات هم په بېلا بېلو تاریخي دورو بېلېږي. تاسې د ښوونځي په مخکنیو ټولګیو کې د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره او منځنۍ یا کلاسیکه دوره ولوستله، په دې ټولګي کې به د پښتو معاصره ادبي دوره ولولئ.

ادبي دوره د ادبیاتو په تاریخ پورې اړه لري. دلته چې موږ د پښتو ادب تاریخ په معاصره ادبي دوره بحث کوو، نو لازمه ده چې لومړی د ادبیاتو تاریخ وپېژنو.

د ادبیاتو تاریخ یا ادبي تاریخ د ادبپوهنې د یوې مهمې او اساسي څانګې په توګه هغه پوهنه ده چې د یوې ژبې د ادبیاتو د پیدایښت او ودې جریان له تاریخي شرایطو سره د ارتباط په ترڅ کې څېړي.

د هرې ژبې او ولس ادبي تاریخ په بېلا بېلو دورو وېشل کېږي، نو د همدې معیار له مخې پښتو ادبي تاریخ هم په درېو سترو دورو وېشل شوی چې لومړۍ یا لرغونې او کلاسیکه یا منځنۍ دورې مو دمخه ټولګیو کې لوستي دي، اوس د پښتو معاصره ادبي دوره درپېژنو.

موږ په خپلو ادبي څېړنو کې د پښتو ادب تاریخ د درېمې یا معاصرې دورې د پیلامې په هکله بېلا بېل نظرونه لرو: ځینې د دې ادبي دورې پیل هند ته د انګرېزانو د راتګ وخت ګڼي او ځینې نور زموږ پر هېواد باندې د انګرېزانو لومړنی یرغل (۱۸۳۹م.) د پښتو د معاصر ادب پیلامه بللې ده.

ځینو څېړونکو د نولسمې میلادي پېړۍ په اوایلمو کلونو کې د پښتو د هنري ـ ادبي نثر پیدایښت د پښتو د معاصرې ادبي دورې پیلامه بولي. همدارنګه ځینو څېړونکو د پښتو د معاصر ادب د ودې او پرمختیا لومړنی پړاو د امیر حبیب الله خان په عصر کې د سراج الاخبار رامنځته کېدل بولي.

خو د پښتو ادب زیاتره څېړونکي په دې خبره یوه خوله دي چې د پښتو د معاصر ادب د رامنځته کېدو لپاره د نولسمې پېړۍ په اوایلمو کلونو کې لارې چارې او شرایط برابر شوي دي. دا وخت زموږ په هېواد کې د امیر شېرعلي خان د دویمې پلا واکمنۍ سره برابره ده. امیر شېرعلي خان چې په ۱۲۸۶هـ.ق. (۱۸۶۹م.) کال د هند امبالي له کنفراس څخه راوګرځېد، نو کورنیو اصلاحاتو ته یې خپله پوره پاملرنه واړوله او یو لړ داسې ریفورمونه یې پلي کړل چې په هغو کې د ځمکو د مالیاتو اصلاح او سمون، د پوستي

عصري سيستم تآسيس، عسکري تشکيلاتو، عصري ښوونځيو او روغتونونو رامنځته کول او داسې نور سمونونه او بدلونونه شامل وو. همدغه مهال امير شېرعلي خان خپلې ملي ژبې پښتو ته ځانګړې پاملرنه وکړه او په دې لړ کې چې هغه کوم لومړی ګام پورته کړ، هغه د هېواد د ملکي ادارو نومونه، عسکري رتبې، اصطلاحات او قوماندې په پښتو ژبه اړول وو. د اميرشېرعلي خان د فرمان له مخې د عسکري قواعدو کتاب قاضي عبدالقادر په پښتو وژباړه او چاپ شو.

د واک پر سر کورنيو جګړو او بهرنيو يرغلونو دا بهير يو څه ټکنی کړ او بيا د حبيب الله د واکمنۍ پر مهال ډېر ګړندی پيل او پرمخ لاړ. ادبي څېړونکو د پښتو ادب معاصره دوره چې د نولسمې ميلادي پېړۍ د اويايمې لسيزې څخه پيل او تر ننه رارسېږي په دې لاندې بېلو بېلو پړاوونو وېشلې ده:

لومړی پړاو (۱۸۷۰م. ـ ۱۹۰۱م.):

د پښتو د معاصرې ادبي دورې لومړی پړاو په زماني لحاظ د نولسمې عيسوي پېړۍ له اويايمو کلونو څخه پيل او د شلمې پېړۍ تر پيلامې يا د امير حبيب الله خان د واکمن کېدو تر وخته رارسېږي.

په دغه پړاو کې د پښتو د معاصر ادب د رامنځته کېدو د لارو چارو د پيلامې او ادامې په اړوند د ټولو ادبي هلو ځلو تاريخي بهير شامل دی.

دغه ادبي پړاو له هغه وخت او مهال سره سمون خوري چې پښتون ولس له نوي عصري ژوند سره آشنا او له نويو عصري مشکلاتو او ربړو سره لاس په ګرېوان شوی دی.

موږ وينو چې پښتو اديبانو د خپلو ځانګړو احساساتو او غوښتنو له تنګې دايرې څخه دباندې د قدم اېښودلو هڅه او لټه کړې او د خپل ټول ملت، هېواد او ان دا چې د نړۍ او

بشریت په هکله یې فکر کړی او د وخت اساسي غوښتنې د ادب موضوعات گرځېدلي دي.

د دغه پړاو په نومیالیو لیکوالو او شاعرانو کې د نور محمد نوري افغاني (د غنچه روه لیکوال) ملا فیض محمد اخونزاد (د روضة المجاهدین ناظم) ملاعبدالباقي کندهاري (د تبین الواجبات ناظم) مولوي احمد (د آدم خان درخانی، گنج پښتو لیکوال) میا حسیب گل کاکاخیل (د نقش نگین ناول ژباړن)، میا محمد یوسف کاکاخیل (د توبة النصوح ناول ژباړن) قاضي میراحمد شاه رضواني (د بهارستان افغاني او شکرستان افغاني لیکوال او مدون) او نورو نومونه د بېلگې په توگه یادولی شو.

دویم پړاو:

د پښتو ادبیاتو تاریخ (معاصره دوره) لیکوال کاندید اکاډیمسن محمد صدیق روهي دې پړاو ته د روښانتیا پړاو ویلی دی.

موږ د دغه پړاو د پښتو ادبیاتو د ودې او پرمختیا د بهیر خرنگوالی په دوو برخو کې مطالعه کوو:

الف_ په سراجیه عصر کې د پښتو ادب وده او پرمختیا (۱۹۰۱م. _ ۱۹۱۹م.):

امیرعبدالرحمان خان په ۱۹۰۱م. کال ومړ او پر ځای یې زوی حبیب الله خان د واک پر گدۍ کښېناست. نوموړی چې د پلار پر خلاف د نرم طبیعت خاوند او د سوکاله ژوند پلوی و، واک ته د رسېدو په لومړیو کې یې هغو کسانو ته چې د ده د پلار د واکمنۍ پر مهال د هغه د استبدادي چار چلند له مخې له هېواد نه بهر او دننه په هېواد کې له یوې سیمې نه بلې ته کوچېدلي او فرار شوي وو، د عفوې اعلان وکړ.

له دې امله زیات شمېر نومیالي شخصیتونه، لکه محمود طرزي، غلام محی الدین افغان او نور له هېواد او خلکو سره د ژورې مینې په احساس او ملي روحیه له نویو مترقي

افکارو سره یو ځای خپل هېواد ته د خدمت په هیله کابل ته راغلل. هغوی ته په ټولنیزو، سیاسي او دولتي چارو کې د خدمت او سیاسي فرهنګي هلو ځلو موقع په لاس ورغله او دغسې په هېواد کې د روښانفکرۍ زرې زرغون او د هر اړخیزې ټولنیزې پرمختیا لپاره لارې چارې برابرې شوې. سراج الاخبار جریده رامنځته او په کې پښتو ته ځای ورکړل شو، همدارنګه د حبیبې نوی عصري ښوونځي تاسیس او پښتو په کې د یو مضمون په توګه تدریس کېدله. د دې دورې نومیالي لیکوال: عبدالهادي داوي، غلام محی الدین افغان، مولوي صالح محمد او نور دي.

ب_ په اماني عصر کې د پښتو ادب وده او پراختیا:

په اماني دوره (۱۲۹۸ش. _ ۱۳۰۷ش.) کې د پښتو ژبې د ودې او پرمختیا لپاره حکومت لازمه، پاملرنه وکړه. سربېره پر دې چې په معارف کې یې د تدریس او په مطبوعاتو کې د خپرېدو ونډه زیاته شوه، د هېواد لومړنی اساسي قانون هم په پښتو ولیکل شو.

امیر امان الله خان دا احساس کړې وه چې د یو ملت ژوند بې د ملي ژبې له درلودلو ناممکن دی، نو هڅه یې وکړه چې پښتو ژبې ته په رسمي توګه ملي حیثیت ورکړي. د همدې هڅو په لړ کې یې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د پښتو ژبې د پالنې او روزنې یو مرکز جوړ کړ، دې مرکز ته یې ((مرکه د پښتو)) نوم کېښود.

په همدغه وخت کې په پښتونخوا کې د خان عبدالغفار خان په مشرۍ د ((انجمن اصلاح الافاغنه)) په نوم یو مرکز جوړ شو چې په خپل وخت کې یې د پښتو ادب په وده کې د یادونې وړ ونډه درلوده. په همدغه وختونو کې په پښتونخوا کې د پښتو د هنري نثر د ودې او پرمختیا لپاره لارې چارې برابرې او ډېر نومیالي لیکوال رامنځته شول، لکه: سید راحت زاخیلي، حمزه شینواری، عبدالاکبر خان اکبر، ماسترعبدالکریم او نور.

دریم پړاو:

له کورني اړدور نه و روسته د پښتو ادب وده او پرمختیا:

په هېواد کې د کورني اړو دوړ (۱۳۰۷ _ ۱۳۰۸لمریز) نه راوروسته د محمد نادر خان د واکمنۍ په مهال (۱۳۱۰لمریز) په کابل کې ((ادبي انجمن)) او په ۱۳۱۱لمریز کال په کندهار کې د ((پښتو ادبي انجمن)) جوړ شو. کابل ادبي انجمن د ((کابل)) په نامه او کندهار ادبي انجمن د ((پښتو)) په نامه مجله خپروله. وروسته دا دواړه انجمنونه یو ځای شول او پر ۱۳۱۶لمریز کال ورځخه ((پښتو ټولنه)) جوړه شوه. دغې علمي ادبي ټولنې د پښتو ژبې په وده او پرمختیا او د لیکوالو په روزنه کې ډېره ارزښتمنه ونډه درلوده. د دې دورې په نومیالیو ادیبانو کې د عبدالحی حبیبي، قیام الدین خادم، گل پاچا الفت، عبدالرحمان پژواک، عبدالرؤوف بېنوا، صدیق الله رښتین او نورو نومونه د بېلگې په توگه یادولی شو.

د رواني لمریزې پېړۍ په دریمه لسیزه (۱۳۲٤لمریز کال) کې د وېښ زلمیانو د سیاسي ډلې او وروسته د شامحمود خان د صدارت د دورې دموکراسۍ او بیا وریسې د ۱۳٤۳ لمریز کال د نوي اساسي قانون په رڼا کې رامنځته شوې دموکراسۍ آزادو مطبوعاتو ته لاره برابره کړه چې د پښتو ژبې د ادبیاتو د ایجاد او ودې پر بهیر یې ډېره ارزښتمنه اغېزه لرلې ده. وروسته بیا د محمد داؤد خان جمهوري نظام رامنځته کېدل (۱۳۵۲لمریز) او بیا د وروستیو پېښو دې هرې یوې د پښتو ادب په پرمختیایي بهیر د کتنې وړ اغېزې لرلې دي. زیات لیکوالان او شاعران رامنځته شوي او د منثور او منظوم ادب د بېلا بېلو ډولونو په لیکلو کې یې پوره او کره تجربې کړې دي.

اوس د پښتو ادب پرمختیایي بهیر په لازم گړندیتوب سره پرمخ روان دی. پښتو چاپي او غږیزو رسنیو کې په ملي او نړیواله پراخه کچه خپروني لري. په افغانستان، پښتونخوا او د نړۍ په نورو هېوادونو کې زیاتې دولتي او آزادې فرهنگي اداري د پښتو ژبې د ودې او پرمختیا لپاره کار کوي. زیات شمېر لیکوال او شاعران په خپلو ادبي او فرهنگي فعالیتونو بوخت، پښتو ژبه او ادب د پرمختیا په حال کې دی.

د متن لنډیز:

د پښتو ادب معاصره دوره د نولسمې میلادي پېړۍ له اوومې لسیزې څخه راپیل او تر ننه پورې رارسېږي. دا ادبي دوره په بېلا بېلو پړاوونو وېشل شوې ده: لومړی پړاو د نولسمې عیسوي پېړۍ له اویایمو کلونو څخه پیل او د امیر حبیب الله خان د واکمنۍ تر پیلامې (۱۹۰۱م.) پورې رارسېږي. دا هغه مهال دی چې پښتون ولس له نوي عصري ژوند سره آشنا او له عصري مشکلاتو سره لاس په ګرېوان شوی دی. همدغه د معاصرو نویو هنري ادبي نثرونو او معاصر شعر د راڅرګندېدو زمانه ده. دویم پړاو چې د امیر حبیب الله د واکمنۍ له زمانې څخه پیل کېږي او بیا وروسته د اماني دوره ده چې هېواد او خلک یې له خپلواک ژوند څخه برخمن کېږي. په دې دوره کې په سراج الاخبار کې د پښتو خپرېدل او په حبیبیه ښوونځي کې د پښتو مضمون تدریس کېدل د پښتو د ودې او پرمختیا په لاره کې لوی ګام دی.

وروسته بیا په اماني دوره کې د پښتو مرکې رامنځته کېدل، په پښتونخوا کې د خدایي خدمتګاري تحریک یا انجمن اصلاح افاغنه رامنځته کېدل د پښتو ادبیاتو د دوې لپاره لارې چارې برابروي او دا ادب د پرمختګ لپاره یو ارزښتمن ګام دی. همدارنګه د وېښ زلمیانو غورځنګ، د شاه محمود خان د صدراعظمۍ دورې دموکراسي او بیا وروسته د دموکراسۍ لسیزې آزادې خپرونې او د محمد داؤد خان د جمهوریت کلونه ټول د پښتو ژبې د ابیاتو د ودې او پرمختیا په لاره کې د یادونې وړ پړاوونه دي.

فعالیتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې د ښوونکي له متن لوستنې او لازمو څرګندونو وروسته د متن یو یو پراګراف په نوبت ولولي. ښوونکی دې له هغوی سره د اړتیا پر مهال لازمه مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې په درې ډلو ووېشل شي او دې ته وګومارل شي چې متن په چوپه خوله په غور او دقت سره ولولي. لومړۍ ډله دې په متن د راغلو لیکوالو نومونه، دویمه ډله دې د کتابونو نومونه او دریمه ډله دې د علمي، فرهنګي او تعلیمي مرکزونو او ادارو نومونه لست کړي. د هرې ډلې استازی دې د خپلې ډلې لست کړي نومونه د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۳ـ ښوونکی دې د نومونو، کتابونو او فرهنګي ټولنو (انجمنونو) لستونه تر بشپړولو وروسته د تختې پر مخ ولیکي. زده‌کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي او د ځینو په باب دې له ښوونکي څخه لازم توضیحات او څرګندونې وغواړي.

٤ـ زده‌کوونکي دې په نوبت سره د ټولګي مخې ته وربلل شي چې د لوست مفهوم په خپلو الفاظو کې نورو ټولګیوالو ته ووایي.

۵ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:

ـ ادبي تاریخ څه ته وایي؟

ـ پښتو معاصره ادبي دوره کله پیل شوې ده؟

ـ د پښتو د معاصرې ادبي دورې د لومړي پړاو د څو لیکوالانو نومونه واخلئ.

ـ د پښتو د معاصرې ادبي دورې د لیکوالو د څو آثارو نومونه واخلئ.

ـ پښتو ژبه کله، د کوم واکمن په وخت کې په اخبار او ښوونځي کې د یو مضمون په توګه شامله شوه؟

ـ د پښتو د معاصرې ادبي دورې د دویم پړاو د څو لیکوالو نومونه واخلئ.

ـ پښتو ټولنه څه وخت او څنګه منځته راغله؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه په متن کې د کوم راغلي لیکوال یا د هغه د کوم اثر او یا یوې ادبي ټولنې لنډه معرفي ولیکي او په راتلونکي پښتو لوست درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

گلدسته



ـ تاسې دمخه د گلدستې په نوم د کوم کتاب نوم اورېدلی؟
ـ د پښتو په کلاسیکو شاعرانو کې د عبدالقادر خان خټک په نوم کوم شاعر پېژنئ؟
ـ د سعدي د مشهور اثر گلستان له نامه سره آشنا او هغه مو لوستی دی؟

پښتو ژبې او ادب ته خوشحال خان خټک او د هغه د کورنۍ غړو ډېر د قدر وړ خدمتونه کړي دي، عبدالقادر خان خټک د خوشحال خان خټک زوی و چې د دري ژبې پیاوړی شاعر شیخ سعدي مشهور اثر گلستان یې پښتو ته په خواږه ادبي نثر او نظم راژباړلی او ((گلدسته)) نوم یې پرې ایښی دی. په دې لوست کې دغه اثر درپېژنو.

د پښتو ژبې نوميالي شاعر عبدالقادر خان خټک (۱۰۶۳ ـ ۱۱۲۵هـ.ق.) د دري ژبې د پياوړي ليکوال او شاعر شيخ سعدي (۵۸۱ هـ.ق. ـ ۶۹۱ يا ۶۹۴هـ.ق.) مشهور اثر ((گلستان)) پښتو ته راژباړلى او ((گلدسته)) يې نوملى دى. پر دغه اثر د عبدالقادر خان خټک له ليکلې ديباچې (سريزې) څخه جوتېږي چې د کتاب ژباړه يې په نوښار کې د خپلې استوګنې پر مهال د ۱۱۲۴هـ.ق. کال د رجب په مياشت کې پيل کړې او د همدغه کال د روژې د مياشتې په ۲۴ نېټه يې پای ته رسولې ده.

گلستان چې په دري ادب کې پر اخلاقي، تعليمي او نورو عامو ټولنيزو معنوي ارزښتونو او ښېګڼو سربېره د ژبني فصاحت او بلاغت ډېره غوره بېلګه ده او له پېړيو پېړيو راهيسې د سيمې په هېوادونو کې په کورو، جوماتونو، مدرسو، ښوونځيو او پوهنځيو کې لوستل کېږي او خلک يې له لوستلو څخه پند او خوند اخلي. دغه اثر د سيمې د نورو هېوادونو په څېر د افغانستان او پښتونخوا په جوماتونو او مدرسو کې هم تدريس کېده او عبدالقادر خان خټک چې د خپل وخت يوپياوړى ديني عالم او علمي ـ فرهنګي شخصيت و، د خپلې سيمې خلکو ته يې د ديني او ادبي علومو د تدريس چارې سرته رسولې، کله چې د دغه اثر پر مفاهيمو ورته د پښتنو پوهېدنه لږ و ډېر ستونزمنه ښکاره شوې، نو څکه يې د ګلستان د ژباړنې هوډ او تکل کړى. دې مطلب ته يې د ګلدستې په سريزه کې داسې اشاره کړې ده:

((بعضې دوستانو راڅخه ګلستان کتاب لوست، ډېر به يې راته ويل چې د عربي، د فارسي کتابونه ډېر دي، اما پښتو ژبه کې کتابونه د پښتو نشته. ستا قوت د تصنيف د ترجمې البته شته، که تصديعه په ځان قبوله کړې، ګلستان چې مطبوع او مرغوب د خاصو عامو دی، هم يې لوی سرې ګوري نصيحت ترې اخلي، هم يې هلکان لولي برکت ترې اخلي ... اکثر خلق يې متن لولي، دويم ځل يې معنا، که په پښتو ژبه ترجمه شي، پښتنو ته به اسان شي، فايده به يې لويو، هلکو ته ورسي... .))

همدغو ښوونيز و روزنيز او نورو اخلاقي او معنوي ارزښتونو ته په کتنه عبدالقادر خان خټک دغه اثر پښتو ته راژباړلى دى. د ګلدستې په سريزه کې د ژباړن له دې لاندې څلوريزې

څرګندېږي چې د ګلستان ځینې حکایتونه چې ژباړن هغه د پښتني ټولنې له اخلاقي، معنوي او کلتوري ارزښتونو سره په سمون کې نه دي لیدلي، نو له ژباړې یې تېر شوی دی.

زر سـل څـلـیـریـشـت د سـن کـلـونـه
لـه ګـلـسـتـانـه چـې دا ګـلـونـه
ټـول شـوو تـرې جـوړه چـې ګـلـدستـه شوه
یـادګـار بـه پـاتـې مـونـږه بـه څـونـه

عبدالقادر خان خټک د ګلستان ټول څوارلس حکایتونه او اته ویشت حکمتونه نه دي ژباړلي. د ګلستان د سریزې (دیباچه) په ژباړه کې یې هم لږ و ډېر تصرف کړی او په هغو ځایونو کې چې شیخ سعدي د خپلې زمانې د واکمنانو او حکمرانانو ستاینې کړي، ژباړن د هغو پر ځای د خپلې کورنۍ د مشرانو او په ځانګړې توګه د خپل نومیالي، فرهنګیالي او توریالي پلار خوشحال خان د ژوند حالات بیان کړي او د هغه ستاینې یې کړې دي او دا یې هم ویلي دي دا کار یې ځکه کړی چې د ده د زمانې واکمنان عادلان نه دي.

د عبدالقادر خان خټک د دغه ارزښتناک ژباړلي اثر قلمي نسخې ډېرې موندل کېږي چې د هغو له مخې یې د لومړي ځل لپاره ځینې برخې جارج راورټي (۱۸۲۵ـ ۱۹۰۶م.) په خپل اثر ((ګلشن روه)) او بیا میراحمد شاه رضواني په ((شکرستان افغاني)) کې خپرې کړې دي. وروسته په ۱۹۶۱م. کال د ګلدستې بشپړ متن د ډاکټر عظیم شاه خیال بخاري له مفصلې سریزې، تحشیې او تعلیقاتو سره د پېښور پښتو اکېډمي له خوا چاپ شو. په ۱۳۸۳لمریز کال د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو نړیوال مرکز هم د ګلدستې متن چاپ او خپور کړی دی.

د عبدالقادر خان خټک د ګلدستې متن پر یوې دیباچې (سریزې) سربېره دا لاندې اته بابونه لري:

اول باب: په بیان د خوی خصلت د بادشاهانو.

دویم باب: په بیان د خوی خصلت د درویشانو.

دریم باب: په بیان د قناعت.

څلورم باب: په بیان د خاموشی.

پنځم باب: په بیان د عشق او ځوانی.

شپږم باب: په بیان د ضعف د پیری.

اووم باب: په بیان د تاثیر د تربیت.

اتم باب: په بیان د آدابونو د صحبت.

د متن اووه بابونه په بېلا بېلو حکایتونو او اتم باب په حکمتونو وېشل شوی او تر هر سرلیك لاندې په نثر او نظم ډېرې په زړه پورې پېښې او مطالب په ډېره خوږه او رنګینه ژبه بیان شوي چې د پند او خوند دواړه ښېګڼې په کې نغښتې دي.

لنډه دا چې عبدالقادر خان خټك د سعدي د شاهکار اثر ((ګلستان)) ژباړه له ټولو لفظي، معنوي، ادبي ظرافتونو او نزاکتونو سره نثر په نثر او نظم په نظم په ډېره خوږه روانه ادبي ژبه په داسې په زړه پورې انداز کې کړې چې موږ ته د نومورې د لوړ علمي او ادبي استعداد ډېره ښه پېژندويي او څرګندويي کولای شي.

دلته یې یو حکایت د متن د بېلګې په توګه لولو:

حکایت

یو حکیم زوی ته پند وایه چې ای زویه! سعی د هنر په زده کولو بویه چې ملك دولت د دنیا اعتماد لره نه ښايي. زر په محل د خطر دی، که یې غل درځخه یوسي، که ظالم یې درځنې په رنړا یوسي، که موافق یې د مراد وخوري، زر به درځخه تمام سي، اما هنر چینه ده زاینده او دولت دی پاینده، که هنر مند له دولته پریوځي، هم یې غم نشته چې هنر خود بنفسه دولت دی. هنرمند هر چېرته په قدر په منزلت دی او بې هنر چې له مسنده پرېوځي،

هر چېرې چې درومي آرزومند د يو لقمې گرځي، هم يې په خوارۍ مومي.

قطعه

ناگاه پرېوته فتنه د شام په ملك كې
وارډ خلق يې هر لوري ته پرېشان شه
روستايي چې آراسته په فضيلت و
مقرب د هغه ملك د سلطان شه
چې يې علم هنر نه وه كه اشراف و
په جلو كې د كم ذات سړي روان شه
(گلدسته، ۳۲۳، ۳۲٤ مخونه)

عبدالقادر خان خټك د خوشحال خان زوی دی. په ۱۰٦۳ هجري قمري كال زېږېدلی. يو عالم، عارف، پياوړی شاعر او ليكوال و. د نظم او نثر ډېر كتابونه يې ليكلي دي چې دلته يې د بېلگې په توگه د شعرونو ديوان (حديقه خټك)، يوسف زليخا، خلوېښت حديثونه او قصيده برده نومونه يادوو.

د عبدالقادر خان خټك ژوند تر ۱۱۲۵هـ.ق. كال پورې باوري دی.

د متن لنډيز:

د شيخ سعدي گلستان عبدالقادر خان خټك پښتو ته راژباړلی او پر هغه يې د گلدسته نوم ايښی دی. د دې كتاب د ژباړې كال ۱۱۲٤ هـ.ق. دی.

دكتاب نظم پر نظم او نثر پر نثر په ډېره خوږه ادبي ژبه ژباړل شوی. د دې اثر قلمي نسخې زياتې موندل كېږي. لومړی ځل په ۱۹٦۱م. كال د پېښور پښتو اكاډمي له خوا د ډاكټر عظيم شاه خيال بخاري په سريزه او تعليقاتو چاپ او خپور شوی او په ۱۳۸۳ لمريز كال د افغانستان د علومو اكاډمي هم چاپ كړی دی.

فعالیتونه

۱ــ زده‌کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي، ستونزمنې کلمې یا لغتونه دې په نښه او لست کړي او بیا دې هر زده‌کوونکی هغه لست کړې کلمې د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

۲ــ ښوونکی دې زده‌کوونکي وګوماري چې متن په چوپه خوله ولولي او په هغه کې صفتونه پیدا کړي. هر زده‌کوونکی دې د صفت د کلمو جوړ کړی لست ټولګیوالو ته ولولي. ښوونکی دې هغه توحید او بشپړ کړی لست دې د تختې پر مخ ولیکي.

صفت: صفت یا ستاینوم په خپلواك ډول څه نه نوموي، خو د یو څه حالت څرګوالی ښیي، یعنې دا چې صفت د نوم معنا ښه څرګنده، محدوده او روښانوي، لکه: روغ، ناروغ، ښکلی، بدرنګ، پیاوړی، کمزوری، تور، سپین.

۳ــ زده‌کوونکي دې په نوبت سره پاڅېږي او د لوست مفهوم دې ووایي.

٤ــ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې د کچې ارزونه وشي:

- ګلدسته د چا اثر او له کوم کتاب څخه ژباړل شوی دی؟
- په ګلدسته کې څه ډول مطالب راغلي دي؟
- عبدالقادر خان خټك ولې د سعدي ګلستان پښتو ته د ګلدستې په نوم راوژباړه؟
- عبدالقادر خان خټك څوك و او کوم آثار یې لیکلي دي؟

کورنۍ دنده

زده کووونکي دې د ګلدستې د حکایت د مفهوم په اړه څو کرښې ولیکي او د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته واوروي.

علامه پوهاند عبدالحی حبیبي



ـ د پښتو په معاصرو شاعرانو او لیکوالو کې د چا له نامه او آثارو سره أشنا یاست؟
ـ د پوهاند حبیبي نوم مو دمخه اورېدلی او د هغه کوم اثر مو لیدلی یا لوستی دی؟
د پښتو ادب په معاصره دوره کې ډېر نومیالي لیکوال او شاعران لرو چې د خپل ژوند زیاته برخه یې ژبې او ادب ته په خدمت تېره کړې او ډېر ارزښتناك آثار یې لیکلي دي. په دغو نومیالیو ادبي فرهنګي څېرو کې یو هم پوهاند عبدالحی حبیبي دی چې په دې لوست کې یې درپېژنو.

د هېواد نومیالی عالم، تاریخ لیکونکی او ادیب (لیکوال او شاعر) پوهاند عبدالحی حبیبي پر ۱۲۸۹لمریز کال د کندهار د بامیزایي د محلې په یوه عالمه او فاضله کورنۍ کې زیږېدلی و. پلار یې ملا عبدالحق د خپل وخت نامتو عالم او فاضل شخصیت و.

استاد حبیبي پر ۱۲۹۹لمریز کال د کندهار د شالمار په لومړني ښوونځي کې شامل او تر څنګ یې د دودیزو دیني او ادبي علومو زده کړه د خپلې سیمې له پیاوړو عالمانو څخه پیل کړه. پر ۱۳۰٤ لمریز کال چې له نوموړي ښوونځي څخه فارغ شو، په همدغه ښوونځي کې د ښوونکي په توګه وګومارل شو.

استاد دغلته د ښوونکي د سپېڅلې دندې ترڅنګ د دیني او عصري علومو خصوصي زده کړې او مطالعې ته دوام ورکړ. فقه، حدیث، تفسیر، منطق، صرف، نحو، فصاحت، بلاغت او د خپل هېواد او نړۍ د پخوانیو شاعرانو او لیکوالو د نظم او نثر ډېر کتابونه یې ولوستل.

د ښوونکي په توګه له دوه کاله دندې سرته رسولو وروسته له مطبوعاتو سره د ځانګړې علاقې له مخې په کندهار کې د خپرېدونکي اخبار ((طلوع افغان)) مرستیال شو. څلور کاله یې دغه دنده په ډېر بریالیتوب ترسره کړه او پر ۱۳۱۰لمریز کال د طلوع افغان د اوونیزې مسؤول مدیر شو. استاد د همدغه ژورنالستیکي دندې ترڅنګ په پرله پسې توګه مطالعې، علمي، تاریخي، ادبي او څېړنیزو لیکنو ته دوام ورکړ او د یو منلي او وتلي لیکوال په توګه له لوړ نوم او شهرت څخه برخمن شو. پر ۱۳۱۹لمریز کال د هېواد پلازمېنې (کابل) ته راوغوښتل شو او د سترې علمي ـ فرهنګي مؤسسې ((پښتو ټولنې)) لوی مدیر مقرر شو. همدغه مهال ورته د دغه سترې علمي دندې ترڅنګ د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مرستیالۍ چارې هم ورو سپارل شوې. یو کال وروسته د پوهنې وزارت د مشاور دنده وروسپارل شوه او درې کاله یې دغلته خپلې دندې ته دوام ورکړ. کله چې پر ۱۳۲۳لمریز کال په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځی تاسیس شو، نو د دغه پوهنځي د ریاست او د ادبیاتو د تاریخ د تدریس چارې وروسپارل شوې. په ۱۳۲۷لمریز کال په ملي شورا کې

د کندهار د خلکو د وکیل په توګه وټاکل شو. درې کاله یې دغه سپېڅلې دنده ترسره کړه او پر ۱۳۳۰لمریز کال د هېواد پالنې د لوړ احساس او ټولنیزې آزادۍ غوښتنې د سیاسي مبارزې په سبب د وخت حکومت له خوا جبراً د خپل هېواد پرېښودو ته اړ کړای شو.

لومړی پښتونخوا ته لاړ، څه موده یې په پېښور کې تېره کړه. هلته یې د ((آزاد افغانستان)) په نوم یوه جریده خپروله. وروسته بیا د ځینو سیاسي ملحوظاتو له مخې له پېښور څخه وتلو ته اړ شو. کراچۍ ته لاړ او هلته په علمي او ادبي فعالیتونو بوخت شو. دغسې یې لږ و ډېر لس کاله په جلا وطنۍ کې تېر کړل. پر ۱۳۴۰لمریز کال ورته دا لارې چارې برابرې شوې چې خپل هېواد ته راشي او د پخوا په څېر د علمي او فرهنګي چارو په سرته رسولو بوخت شي.

هېواد ته له راستنېدو یو کال وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې استاد شو او پر ۱۳۴۴لمریز کال یې د خپلو زیات شمېر علمي، ادبي او تاریخي لیکلو آثارو په وړاندې کولو سره په کابل پوهنتون کې د پوهاندۍ علمي رتبه ترلاسه کړه.

وروسته بیا په ۱۳۴۵لمریز کال د تاریخ ټولنې د ریاست چارې وروسپارلې او بیا پر ۱۳۵۱لمریز کال د صدراعظم فرهنګي مشاور شو.

استاد د خپل عمر په وروستۍ لسیزه کې چې له رسمي دولتي دندې څخه یې تقاعد هم کړی و، د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې استاد، د اطلاعاتو او کلتور د وزارت مشاور، د افغانستان د علومو اکاډمي غړی او ترڅنګ یې په خپلو علمي، تاریخي او ادبي څېړنیزو چارو بوخت و. بالاخره د هېواد دغه پیاوړی تاریخ لیکونکی، منلی ادیب، د علم او فرهنګ رښتینی خدمتګار د ۱۳۶۳لمریز کال د ثور د میاشتې په شلمه نېټه وفات او د کابل په شهدای صالحین هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

پوهاند عبدالحی حبیبي نژدې شپږ لسیزې د هېواد په علمي او فرهنګي ادارو کې ارزښتمن فرهنګي خدمتونه کړي دي. په دغه موده کې یې ډېرې علمي، ادبي، تاریخي، جغرافیایي او کلتوري څېړنې کړې چې ځینې یې د ځانګړو کتابونو په بڼه او زیات شمېر

يې د مقالو په شکل د هېواد دننه او بهر د خپرونو له لارې خپرې شوې دي. په ډېرو ملي او نړيوالو علمي، ادبي، تاريخي غونډو او سيمينارو کې يې فعاله ونډه اخيستې. د هېواد د علمي، فرهنګي ادارو او ټولنو په جوړېدو، ودې او پرمختګ کې يې اغېز ناکه برخه لرلې ده. زيات شمېر ليکوال، شاعران، د ادب او تاريخ څېړونکي يې په مستقيمه لارښوونه، هڅونه او پاملرنه او يا هم د دوی د آثارو او افکارو په لوستلو روزل شوي دي.

استاد پر خپلې مورنۍ ژبې پښتو سربېره پر دري، عربي، انګليسي، اردو ژبو ښه پوهېده، ژباړې او ان دا چې په ځينو يې ليکنې هم کولای شوې.

استاد حبيبي شاعر هم و. په پښتو او دري ژبو يې د شعرونو چاپ شوې بېلګې او ټولګې شته، د ادبي هنري نثرونو پياوړی ليکوال هم و، ډېرې ادبي ټوټې، کيسې او نور ادبي نثري ډولونه يې ليکلي او چاپ شوې دي، خو زياته پاملرنه يې علمي، ادبي، تاريخي څېړنيزو ليکنو ته وه. د ټولو چاپ شويو کتابونو شمېر يې د ۱۲۰ شاوخوا ښودل شوی دی او چاپ شوې مقالې يې تر زرو زياتې دي چې هره يوه يې په خپل ځای زيات علمي، ادبي او تاريخي ارزښت لري. موږ يې دلته د بېلګې په توګه د څو کتابونو نومونه اخلو:

د پښتو ادبياتو تاريخ (لومړی ـ دويم ټوک) تاريخ افغانستان بعد از اسلام (لومړی ټوک) پښتانه شعراء (لومړی ټوک) تاريخ مختصر افغانستان، تاريخ افغانستان در عصر تيموريان، نوموړکي مؤرخين، پښتو نثر ته کره کتنې، د پښتو د نوی ادب لارې، د افغانستان پېښليک (لومړی ټوک)، تاريخ خط و نوشته های کهن افغانستان، د پښتو ادبياتو لنډ تاريخ، نسب و زادګاه سيد جمال الدين افغان، د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده، روابط ادبي سند با افغانستان، رهنمای تاريخ افغانستان او ... .

د متن لنډيز:

پوهاند عبدالحی حبيبي د ملا عبدالحق زوی، ۱۲۸۹ لمريز کال د کندهار ښار په باميزو کې زېږېدلی و، پياوړی عالم، ليکوال، شاعر او تاريخ ليکونکی و. د خپل ژوند شپې لسيزې يې هېواد ته په علمي، ادبي او فرهنګي ډګر کې د ستايني وړ خدمتونه کړي، د ۱۲۰ په شاوخوا کې چاپ شوي آثار او د هېواد په مطبوعاتو کې يې تر زرو زياتې علمي، ادبي، تاريخي او نورې ډول ډول څېړنيزې مقالې خپرې شوې دي. د ۱۳۶۳ لمريز کال د ثور په شلمه نېټه په کابل کې وفات او په شهدای صالحين هديره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

فعاليتونه

۱_ زده‌کوونکي دې په خپل وار د متن يو يو پراګراف ولولي.

۲_ ښوونکی دې د اړتيا پر مهال له زده‌کوونکو سره مرسته وکړي.

۳_ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې متن په ډېر غور او دقت سره ولولي، هغه کلمې (لغتونه) دې لست کړي چې په معنا او مفهوم يې نه پوهېږي.

٤_ زده‌کوونکي دې خپل لست کړې کلمې په نوبت سره د ټولګي په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د زده‌کوونکو ټولو لوستل شويو کلمو توحيدي لست جوړ او هغه دې د تختې پر مخ وليکي.

٥_ د تختې پر مخ هغه ليکل شوې کلمې چې ځينې نور زده‌کوونکي يې معنا کولای شي، د هغو په مرسته دې معناوې پر تخته وليکي او هغه کلمې چې معنا کول يې د زده‌کوونکو له توانه پوره نه وي د هغو معنا دې په خپله د کلمو ترخنګ پر تخته وليکي.

زده‌کوونکي دې هغه کلمې له معناګانو سره په خپلو کتابچو کې ولیکي.

٦ــ ښوونکی دې زده‌کوونکي یو یو د ټولګي مخې ته راولي چې د پوهاند عبدالحی حبیبي په اړه زده کړې معلومات نورو ټولګیوالو ته ووایي. ښوونکی دې د زده‌کوونکو د ناسمو معلوماتو د بشپړولو او کره کولو په برخه کې له هغوی سره لازمه مرسته وکړي.

٧ــ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې د کچې ارزونه وشي:

- پوهاند عبدالحی حبیبي د چا زوی او چېرې زېږېدلی دی؟
- پوهاند عبدالحی حبیبي د هېواد په فرهنګي ډګر کې کوم خدمتونه کړي دي؟
- پوهاند عبدالحی حبیبي څه وخت او ولې له هېواد نه وتلو ته اړ شو؟
- څوک د پوهاند عبدالحی حبیبي د پنځو آثارو نومونه اخیستلی شي؟

کورنی دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د پښتو د کوم بل معاصر شاعر یا لیکوال په هکله خپل معلومات ولیکي او یا دې د پوهاند حبیبي کوم لیکلی اثر پیدا او هغه دې معرفي کړي، د راتلونکي پښتو لوست په ساعت کې دې خپل لیکلي معلومات نورو ته واوروي.

نیکمرغه هغه څوک دی چې له خپلې هرې خطا څخه نوې تجربه تر لاسه کــړي.
((سقراط))

هوايي ډګر ته د ورتلو او په الوتکه کې د سفر کولو لارښوونه
(خبرې اترې)



ـ کله مو په الوتکه کې د هېواد دننه يا بهر سفر کړی دی؟

ـ کله هوايي ډګر ته تللي ياست؟

ـ مسافر په الوتکه کې له سپرېدو دمخه په هوايي ډګر کې کوم مراحل تېروي؟

کله کله د ژوند په بهير کې دې ته اړ کېږو چې دننه په هېواد کې له يو ولايت څخه بل ته او کله هم له يو هېواد نه بل ته په الوتکه کې سفر وکړو. په الوتکه کې له سفر کولو دمخه بايد په هوايي ډګر کې ځينې مراحل تېر کړو. په دغه اصولو او لارو چارو پوهېدنه ضروري ده. په دې اړه مو يو لړ خبرې اترې ترتيب کړي چې هم زده‌کوونکو ته دغه لارې چارې ورښيي او هم ورسره د پښتو ژبې د خبرو اترو په زده کړې کې مرسته کوي، په دې لوست کې يې لولو.

نجیبه: ګلالۍ ودرېږه، دلته هوايي ډګر ته د ننوتلو لومړنۍ دروازه ده.

ګلالۍ: ښه سمه ده، راځه چې ورننوځو.

نجیبه: په ننوتو خو ننوځو، داګوره دلته دا ټول خلک ولاړ دي، موږ هم باید ودرېږو.

ګلالۍ: نو دا خلک ولې دننه نه ځي، ولې ولاړ دي؟

نجیبه: داګوره په هغه لوحه یې لیکلي تالاشي او پلټنه، دلته خلک پلټل کېږي.

ګلالۍ: هو ولا هاغه ګوره نجیبې هاغلته پولیس ولاړ دي، خلک هم پلټي، بکسونه یې هم.

نجیبه: هلته ګوره نارینه پولیس نارینه ګوري او ښځې پولیسې ښځې تالاشي کوي.

ګلالۍ: ښه! زه خو سخته وېرېدلې وم چې نارینه به مو تالاشي کوي.

نجیبه: هر ځای کې دومره ژروار او پار مه خطاکوه، هله ژر شه دا بکسونه دراخواکه چې زما او ستا د تالاشۍ نوبت دی.

ګلالۍ: دا دی نژدې مې کړل.

پولیسه: تاسو چېرته ځئ، پاسپورټ او ټکټونه مو وښيئ.

نجیبه: موږ هرات ته ځو، پاسپورټ نه لرو او دا هم د آریانا افغان هوايي شرکت ټکټونه.

پولیسه: سمه ده، ټکټونه مو بېرته واخلئ، دا بیکونه مو پرانېزئ.

ګلالۍ: دا دې خورې کشکونه یې پرانستي دي.

پولیسه: (بیکونه تالاشي کوي) بکسونه مو واخلئ، ځئ دننه لاړې شئ.

نجیبه: کور دې ودان، دا دی اخلو یې واخله ګلالۍ بیک دې.

ګلالۍ: ځه چې ځو، هو نجیبې دلته څومره ډېرې موټرې او ټیکسي ولاړ دي.

نجیبه: ګلالۍ جانې، څوک چې موټر لري تر هوايي ډګره په خپلو ګاډو کې راځي، ما او تا غونډې خو په ټکسي کې نه راځي کنه.

ګلالۍ: ښه یا نې چې دا د خلکو موټرې دي.

نجیبه: هو او دا ټیکسیانې دلته ځکه ولاړې دي که ما او تا غوندې څوک له بل ځای نه کابل

ته راشي که بار او وسايل ورسره وي بيا په دغو ټيکسيانو کې خپلو کورونو ته ځي.

ګلالۍ: ښونه ښه ده چې همدلته نژدې موټرې هم شته. وئ نجيبې سترې شوم، دلته ښونه ښه سالون دی، څوکۍ هم په کې شته، دلته به کښېنو.

نجيبه: نه، نه ګلالۍ جانې مورږ او تاسو ته يې په ټکټونو کې د پرواز وخت نهه بجې ليکلی دی، مورږ بايد له دغه وخت نه وړاندې ورسېږو.

ګلالۍ: اوس خو دا دی اته بجې دي، وخت خو لا ډېر دی، لږ به کښېنو.

نجيبه: ګلالۍ دلته نه کښېنو دا ځای يواځې د هغو خلکو د ناستې لپاره دی چې د خپلو مېلمنو راتګ ته انتظار باسي، مورږ او تاسو ته د ناستې لپاره بل ځای جوړ شوی دی، په ترمينل کې.

ګلالۍ: نجيبې يوه پوښتنه درنه کوم، ته لکه چې مخکې هم دلته راغلې يې که څنګه؟

نجيبه: هو ګلالۍ جانې تېر کال زما مور ناروغه وه، هندوستان ته مو بوتله، نو زه او ورور مې ورسره تللي وو، ځکه زه بلده يمه.

ګلالۍ: زه خو وايم کنه چې په هر څه پوهېږې، څه ډېره ښه ده چې ته خو راسره يې، په هرات کې به د پوهنتون په ليليې کې هم ګډ اوسېږو.

نجيبه: انشاء الله چې په خير ورسېږو.

ګلالۍ: وئ نجيبې دلته ښونه ډېرې الوتکې ولاړې دي.

نجيبه: هو هاخوا مه ځه، هغه د الوتکو د ودرېدو ځای دی، هلته څوک له دې لارې نه تېرېږي.

ګلالۍ: د الوتکې خوا ته به څنګه ځو؟

نجيبه: اول به دغه مخامخ دهليز ته چې ترمينل نومېږي، ورځو، بيا به د انتظار سالون ته ورځو او بيا چې د الوتکې د الوتنې مهال شو الوتکې ته به ورپورته کېږو.

ګلالۍ: ښه سمه، ده دا دهليز خو هم راورسېده.

نجيبه: هو، هو ودرېږه، مه ورننوځه.

(د خلکو ګڼه ګوڼه)

ګلالۍ: ولې نجيبې دلته خو بيا خلك ولاړ دي، كنه دا څه كوي؟

نجيبه: دلته بيا د خلكو پاسپورټونه او ټيكټونه ګوري.

ګلالۍ: دلته خو څو غرفې دي او په هرې غرفې يې نومونه ليكلي. آريانا افغان هوايي شركت، پامير هوايي شركت، كام اير هوايي شركت، صافي هوايي شركت، دا يې د څه لپاره ليكلي دي؟

نجيبه: ګلالۍ جانې هر مسافر چې د هر هوايي شركت ټكټ اخيستى وي دلته د هماغه شركت نمايندګي خپل مسافرينو ته لارښوونه كوي، جمع كوي يې او د پرواز لپاره يې آماده كوي.

ګلالۍ: ښه، ښه دا دى زموږ نوبت راورسېده.

نجيبه: هو، خو موږ مخكې ورځو.

ګلالۍ: ولې؟

نجيبه: ځكه چې موږ د آريانا افغان هوايي شركت ټكټونه اخيستي او دغه آخرنۍ غرفه د آريانا افغان هوايي شركت ده.

ګلالۍ: نجيبې دا مامور څه غواړي، غږ كوي درته.

نجيبه: هو د آريانا ټكټونه غواړي. دغه دي واخلئ.

مامور: هه دا ټكټونه او دا مو د بيكونو لپاره.

نجيبه: كور دې ودان، مننه.

ګلالۍ: نجيبې هغه مامور خو ټكټونه نيمايي وشكول كنه.

نجيبه: هو دا يې ځكه وشكول چې نيم يې له ځان سره ساتي، الوتكې ته د ختو پر وخت كې بيا د هماغې له مخې خپل مسافر معلوموي.

ګلالۍ: او دا نور كاغذونه يې د څه لپاره دركړل.

نجیبه: دا کاغذونه هم نیمایي په دغو بیکونو لګول کېږي، نیم یې موږ له ځان سره . . . .

ګلالۍ: د څه لپاره؟

نجیبه: د دې لپاره اوس دا بکسونه له موږ نه اخلي او په الوتکه کې یې اچوي، کله چې هرات ته ورسېدو موږ خپل بیکونه د همدغو نیمو نیمو کاغذونو په واسطه چې له موږ سره دي، ترلاسه کوو.

ګلالۍ: ښونه ښه، فکر یې کړی دی چې د چا بکسونه ورک نه شي.

نجیبه: هو کنه، هله ګلالۍ اوس بیا دا بکسونه د دغه ماشین مخې ته په دغه پټه باندې کېږده.

ګلالۍ د څه لپاره؟

نجیبه: دلته د آخر ځل زموږ بیکونه او وسایل په کمپیوټري ټلویزیون معاینه کوي.

ګلالۍ: د څه لپاره، دوی خو موږ تالاشي کړو کنه.

نجیبه: د دې لپاره هر شی چې په بکس کې وي معلومېږي چې ښوک څه شی قاچاق نه کړي.

ګلالۍ: دا دی نجیبې زموږ بکسونه خو دېخوا راووتل.

نجیبه: هو هله راوایې خله او په دغه پټه باندې چې روانه ده، دلته یې کېږده.

ګلالۍ: دلته یې نو د څه لپاره ږدو؟

نجیبه: دلته یې نو د آخر ځل لپاره ږدو، ځي او د الوتکې خلك یې وړي په الوتکه کې یې اچوي.

ګلالۍ: دا دی کې مې ښودل.

نجیبه: بس نور یې نو پرېږده، په خپله ځي.

ګلالۍ: ښه اوس نو څه کوو؟

نجیبه: راځه نو چې اوس دغه د انتظار خونې سالون ته ورننوځو.

ګلالۍ: سمه ده، درځه چې ځو.

نجیبه: ګلالۍ هاخوا مه ځه دېخوا راځه.

ګلالۍ: ولې خو دا هم سالون دی کنه.

نجیبه: ستا خبره سمه ده، هو هغه سالون ته هغه خلك ورځي چې له هېواده دباندې ځي. موږ خو داخلي پرواز لرو، هرات ته ځو.

ګلالۍ: ښه یعنې دا سالون ته یواځې هغه خلك ځي چې له هېواده دباندې ځي.

نجیبه: هو، او دې سالون ته هغه خلك ورننوځي چې داخلي پروازونه لري. راځه ننوځو.

ګلالۍ: اوهو دلته ډېر خلك په څوکیو باندې ناست دي.

نجیبه: هو! دا ټول خلك د افغانستان بېلا بېلو ولایتونو ته ځي. راځه کښېنه.

ګلالۍ: دا دی کښېناستم.

نجیبه: دلته د خوراك لپاره کانټین هم شته، د لمانځه لپاره هاخوا ګوره وړوکی جومات هم شته.

ګلالۍ: او هاغلته خو یې لیکلي نارینه تشناب او ښځینه تشناب.

نجیبه: هو! اوس نو نهه بجې کېدونکې دي، موږ به ځو الوتکې ته به خېژو.

ګلالۍ: هو! له خیره، ته چپ شه په لاوډ سپیکر کې وویل هرات ته تلونکي مسافر دې ځانونه آماده کړي.

نجیبه: هو! دا دی ملي بس موټر راغی، ورخېژه، دا مو د الوتکې خوا ته بیایي.

(موټر ته خېژي بېرته ترې د الوتکې خوا ته کوزېږي.)

ګلالۍ: او هو دا الوتکه څومره لوړه ده، لکه د کور بام ته چې خېژې، هغه خلك په هغه زینه باندې څومره جګ شول.

نجیبه: هو! راځه ګلالۍ چې ورخېژو.

ګلالۍ: نجیبې راځه پر همدغو اولو چوکیو کښېنو.

نجیبه: نه، نه ګلالۍ جانې دا د نورو خلکو چوکۍ دي.

ګلالۍ: نو موږ چېرته کښېنو.

نجیبه: موږ ته یې په ټکټونو کې ۱٦ او ۱۵ چوکۍ لیکلي دي. دغه دی ګوره دلته یې شمېره لیکل شوې ده. دا ښیښې خواته، ته کښېنه د ېخوا به زه کښېنم.

ګلالۍ: دا دی کښېناستم.

نجیبې: د اخواکې د کمربند دی، اول یې زه ترم ګوره ... دا دی اوس یې ته هم وتړه.

ګلالۍ: دا دی و مې تاړه.

نجیبه: آفرین بس، نو له خیره اوس الوتکه الوځي او هرات ته به ځو.

د متن لنډیز:

په تېرو وختونو کې د لېږد او رالېږد وسایل یا ټرانسپورټ ډېر ساده و، د نن ورځې په څېر الوتکې نه وې جوړې شوې. د نن ورځې وګړي له یو ځای څخه بل ځای ته د موټرونو، اورګاډیو او الوتکو په واسطه تګ راتګ کوي چې د موټرونو او اورګاډیو د لېږدونې چارو ته ځمکنۍ ټرانسپورټ او د الوتکو د الوتنې کار ته هوایي ټرانسپورټ وایي.

په افغانستان کې هم د الوتکو شرکتونه د پخوا نه زیات شوي، پخوا یوازې د آریانا هوایي شرکت زموږ هېوادوال له یو ځای نه بل ځای ته لېږدول، اوس د پامیر، کام ایر، صافي په نامه نور خصوصي هوایي شرکتونه جوړ شوي دي. کله چې موږ کوم هېواد ته او یا دننه په هېواد کې د الوتکې په واسطه سفر کوو، باید د هوایي ډګر د کارکوونکو ټولو لارښوونو ته غوږ ونیسو او د هغو د لارښوونې سره سم په الوتکه کې کښېنو او خپل سامان د ټکټ او سند په واسطه هغوی ته تسلیم کړو، تر څو چې له الوتکې څخه د کوزېدلو پر مهال له ستونزو سره مخ نشو.

فعالیتونه

۱ـ د موټرو په واسطه تګ راتګ ته ځمکنی ټرانسپورټ وایي، هغه تګ راتګ چې د الوتکو په واسطه ترسره کېږي، دغه لېږد رالېږد په کوم نوم یادېږي. د هغه په اړه دې یو

زده‌کوونکی خبرې وکړي.

۲ــ یو زده‌کوونکی دې هوایي ډګر ته له رسېدلو سره سم هغه سپارښتنې چې مسافرو لپاره د لوست په متن کې راغلي وي بیان کړي، که چېرته یې خبرې نیمګړتیا ولري بل زده‌کوونکی دې د تختې مخې ته ورشي او هغه دې په سمه توګه بیان کړي.

۳ــ ځو زده‌کوونکي دې د خبرو اترو د اصلي مفهوم په هکله وغږېږي.

٤ــ ځو زده‌کوونکي دې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړي.

- په هېواد کې کوم کسان د الوتکو د چلولو آزموینه ورکولای شي؟
- هغه ځوک چې الوتکه په هوا کې الوزوي په کوم نوم یادېږي؟
- د الوتکو د چلولو لپاره د قوانینو د زده کړې ته اړتیا لیدل کېږي او که نه؟
- ځو تنه زده‌کوونکي دې لاندې جملې ته په خپله خوښه انکشاف ورکړي او بیا دې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

زموږ په هېواد کې هوایي شرکتونه شته چې نومونه یې دا دي:

۱ــ .... ۲ــ ....

۳ــ .... ٤ــ ....

۵ــ ځو تنه زده‌کوونکي دې په وار سره د هوایي ډګر د پلټنې، د سامانونو د وړلو او د پاسپورټ د کنټرول په هکله وغږېږي، که چېرته یې خبرې نیمګړتیا ولري بل زده‌کوونکی دې د تختې مخې ته ورشي او هغه دې په سمه توګه بیان کړي.

۶ــ ځو زده‌کوونکي دې په متن کې راغلي اصطلاحات په نښه کړي او خپلو ټولګیوالو ته دې په لوړ آواز ولولي، بیا دې یو زده‌کوونکی د تختې مخې ته ورشي د نوموړې اصطلاح مفهوم دې په خپله ژبه او ساده توګه بیان کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هوایي ترافیکو یا د هوایي ترانسپورټ په هکله ځو کرښې مقاله ولیکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې خپلو ټولګیوالو ته خپله ولولي.

په قفس کې بندي بلبل



په قفس کې د بندي بلبل په نامه شعر د مولوي صالح محمد کندهاري دی چې د سراج الاخبار په دویمه دوره کې د امیر حبیب الله خان په وخت کې خپور شو. دا شعر د آزادۍ غوښتنې پیغام لري د همدې پیغام له امله حکومت یې په سراج الاخبار کې د دغسې مضامینو خپرول بند کړل.

دې شعر ولس کې غوغا جوړه کړه او خلک یې په احساساتو راوستل. دا شعر هغه وخت د هر چا په خوله و او د سراج الاخبار ګڼه لاس په لاس ګرځیده.

ـ تاسې د مولوي صالح محمد په اړه څه معلومات لرئ؟

ـ کله مو په قفس کې د بندي بلبل شعر لوستی یا اوریدلی دی؟

یو سحر زما تر غوږ سوله بلبله پر قفس کې یې ژړل دا یې ویله
چې بندي سوم د صیاد له سخته دله ولې نه پوښتي څوک حال زما یو له بله
ولې نسته بې فغانه کارو بار زما
ولې حبس ابدي راغی په وار زما
نه محرم چې د زړه حال ورته بیان کړم نه مې وس چې خبرداره بلبلان کړم
نه ملګري چې چمن ته یې روان کړم بیا بیان ورته د ګل او د ریحان کړم
خپل زړه ډک د ارمانو ورته خالي کړم
ټول مرغان د چمنو په ځان حالي کړم
چاته وژاړم په چا باندې فریاد کړم چاته خاورې په خپل سرباندې باد کړم
چاته وګورم په څه شي زړګی ښاد کړم د صیاد له لاسه چاته عرض وداد کړم
څه راوسوه چې د تور قفس بندي سوم
نه خلاصیږم په دا بند کې ابدي سوم
ولې زه له خپله سیله را جلا سوم ولې زه د خپل وطنه را جدا سوم
ولې زه په ویر اخته په واویلا سوم کورو کلي مې سوپا ته خوار تنها سوم
کم ظالم کړمه بندي خدای دې بندي کړي
خدای دې ماغوندې بندي په جدایي کړي
اوس به زه لکه ها نور په هوا تلمه په هوس د آزادۍ به نازیدمه
پرغونچه به د ګلانو مسیدمه ورځ په ورځ به غوړیدمه لوبیدمه
چا بندي کړم خدایه تې په ځان اخته کړې
په قفس یې د زندان څګر سوخته کړې
اوس به ګرځېدم آزاد په چمنو کې آلوتم به په صحرا او په باغو کې
مست به ګرځیدم خوشحال په شګوفو کې ولې اوس یم په غمو په اندیښنو کې
چې بندي دې د قفس کړمه صیاده
خدای دې ماغوندې بندي که ای آزاده

الـغـرض چـې ده وهـلـې دا نـارې   د قـفـس لـه لاســه و پـه غلبلې
چې نـاګـه د چمن بـاد راغـی د کښې   چې پرونښت دا یې وواتـه لـه خولې
مګـر دا بـاد د چـمـن لـه خـوا راغـلی
چې یې زمـا صبرو آرام را څخه وړی
اوس بیا ګـل او پسرلی هغه بـهار دی   د نـرګـس او شـګـوفو ګـرم بـازار دی
د تـوتـیـانو پـه ګلشن کـې چغـهار دی   پـه چـمـن کـې د بـلـبـلو چـغـهـار دی
پـــر ګـــلانـــو الـــوتـــه کـــا پـــه خـنـدا
زه بـنـدي یـم د قـفـس او پـه ژړا
زړه مې ډک دی سره چوې د ارمانه   خـدایـه ژرمـې خلاصوې لـه دې زندانه
نور مې مه پرېږدې په دې ځای کې سبحانه   بـیـا مـې ورســوې ژرتــر خـپـل بوستانه
کـه دې زه یـمـه قـفـس تـه پـیـدا کـړی
بـیـا وزر دی ولـې مـاتـه دی را کـړی
څـو تـر څـو بـه یـم پـه دې جورستم کې   څـو تـر څـو بـه یـم پـه آه او پـه الـم کې
څـو تـر څـو بـه پـه ژړایـم او پـه غـم کې   څو تر څو به یمه دارنـګ پـه ماتم کې
چې امید مې د خلاصی نسته هیڅکله
نو بهتر دی مرګ تر دې ژوند یو په سله
بیانو چـپ سـو یـو ساعت پـه تأمـل سو   زما خیال دا سو چې د غم په تحمل سو
بیایې نـارې کـړې همرازه د سور ګل سو   ویـلـې: آه چـې د صـیـاد لا تغافل سو
ځـان کـه مـړ چې لـه ذلته نجات مومې
پـه ګـوښـه کـې د عـدم بـه حـیـات مومې
یـو سـاعـت مـتـفـکـر و حـیـران پـاتـه   نـه یـې شـکـرو شـکـایـت کـاوه و چاته
چې بیا بـاد د چمن راغـی دده خواته   آه یې وکیښ عرض یې وکی خپل مولاته
لکه زه هسې بـنـدي سـې ای صـیـاده!
د وطـــن پـــه جـــدایـــي ســـې نـــامـــراده

زه چې فخر د چمن زیب د بوستان وم   نغمه خـوان د خپلې ځالې او اشیان وم
د بـاغـو د ښـو بـاغـچـو روح روان وم   د سـروګلو پـرښـا خـو بـه ثنا خـوان وم

د پـولادو په پنجره کې د ې بندي کړم
د هر کس و د ناکس دې ریشخندي کړم

زه بـه تـل د بـاغ پـر سـر ښـه پـه هـوا وم   ښـاخ پـر ښـاخ بـه بیا پـه څـه نـازو ادا وم
د ګـلانـو پـر سـرو بـه پـه خـنـدا وم   په ځالی کې به وم ناست یا په صحرا وم

نه بندي وم د قفس نه مې هیڅ غم و
نـه مې اوښـکـې بهیدې نـه مـې مـاتـم و

چې سحر بـه زه لـه ځالې پـه هـوا سوم   په ګلشن کې به د عشق نغمه سـرا سوم
چې له ښاخه به پر ګل باندې را تا سوم   یـاسـمـن و یـا سمین تـه بـه ګـویـا سـوم

چې دا هر سهار خپل مرګ په قفس وینم
ولـې نه مـرم چې به بیا زه قفس وینم؟

په حسـرت او پـه افسـوس یې دا ویله   وګـلـشـن تـه یـې کـتـل بـیـا یـې ژړلـه
د قـفـس و دروازې تـه یـې څغستله   لار یـې نـه وه وزرو نـې سـر پـولـه

پـه هـوا سـو سـر یـې ونـښـت لـه قفسه
وینې توی سوې سور پور ولوید له هوسه

سـر تـر پایه پـه سـرو وینو کـې غـرقـاب و   ځان بایللی، زړه زخمي حال یې خراب و
بیا بیهوښه یـا پـرهـوښ" پـه اضـطـراب و   چې پرهوښ به سو ګویا نه په دا باب و:

"سـرمـې بـایـلـو پـه هـوا د آزادۍ
شـکـر شـکـر سـوم فـدا د آزادۍ"

مولوی صالح محمد هوتک د محمد اکبر هوتک زوی په (۱۳۰۷) هجری قمری کال په کندهار کې زېږېدلی و. نوموړی پیاوړی ښوونکی، لیکوال، شاعر او ژورنالست و. کلونه کلونه یې د حبیبیې ښوونځي د لومړني پښتو ښوونکي، د کندهار د پوهنې د مدیر، کندهار ادبي انجمن غړي، د پښتو ټولنې غړي په توګه د هېواد په فرهنګي ډګر کې د یادونې او ستاینې وړ خدمتونه کړي.

زیات شمېر درسي، علمي او ادبي لیکلي او ژباړلي چاپ شوي آثار لري چې د بېلګې په توګه یې د پښتو ژبې لومړی، دویم او دریم درسي کتابونه، پښتو صرف و نحوه، پښتو ژبه لومړی او دویم ټوک، پښتو مثنوي، تذکرة الشعراء او د شعرونو ټولګه "پاشلي وینا" نومونه اخلو. صالح محمد هوتک پر (۱۳۳۹) لمریز کال مړ او د کندهار د حضرت جي بابا په هدیره کې ښخ دی.

د متن لنډیز:

د مولوی صالح محمد هوتک دا شعر (چې د عبدالهادي داوی د دري شعر آزاده ژباړه ده) هغه مهال ویلی چې زموږ هېواد د انګرېزي ښکېلاک تر ولکې لاندې و. شاعر خپل ولس او هېواد له هغه بندي بلبل سره تشبیه کړی چې ښکاري د خپل دام په لومه کې را ښکېل کړی، په پنجره کې یې بندي او د آزادۍ له نعمت څخه یې بې برخې کړی دی. نور ملګري یې په آزاده هوا او بڼونو کې یو خوا بله خوا الوزي، خو دا د بند ستونزمنې شپې تېروي. دغسې شاعر په کنایي ډول د خپل هېواد او خلکو د ژوند حال بیانوي چې د پرمختګ او ترقۍ له کاروانه وروسته پاتې او له ډول ډول بدمرغیو سره مخامخ دی. شاعر د بندي بلبل د هغو هڅو او هلو ځلو یادونه او ستاینه کوي چې د خپلې آزادۍ او له پنجرې څخه د وتلو له پاره یې کوي او په پای کې یې په دې لړکې سر د پنجرې په یوه سیخ لګېږي، لړند را پرېوزي او بې هوښه کېږي. کله چې په هوښ کېږي، نو د حال په ژبه له ځان سره وایي چې که د آزادۍ په لار کې سر هم لاړشي پروانه وي. شاعر په دې ډول د شعر په خوږه او رنګینه ژبه خپلو هیوادوالو ته دا پیغام وړاندې کوي چې د هېواد آزادۍ لپاره سرښندنې ته چمتو او په دغه لاره کې هر اړخیزې هلې ځلې، مبارزه او مقابله وکړي، تر څو خپل هېواد د ښکېلاک له منګولو خلاص کړي.

فعالیتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې متن په چوپه خوله په ډېر غور او د قت سره ولولي. ستونزمنې کلمې دې په نښه کړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې په وار سره د شعر يوه يوه کړۍ (بند) ولولي.

۳ـ زده‌کوونکي دې يو يو په وار سره د ټولګي په وړاندې د متن مفهوم پخپلو عباراتو ووايي.

٤ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:


- آزادي څه ته وايي؟
- بنديتوب يا اسارت څه دی؟
- بندي بلبل په پنجره کې څه ويل؟
- شاعر بندي بلبل او پنجره له څه شي سره تشبيه کړي دي؟
- شاعر خپلو هيوادوالو ته د شعر په ژبه څه ډول پيغام وړاندې کوي؟
- د آزادۍ د ترلاسه کولو له پاره څه ته اړتيا ليدل کېږي؟
- له دې شعر څخه مو څه مفهوم ترلاسه کړ؟

۵ـ څو تنه زده‌کوونکي دې د نوبت له مخې د آزادۍ د اهميت په اړه خبرې وکړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د آزادۍ په هکله لنډه مقاله وليکي، په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه نورو ټولګيوالو ته واوروي.

غـزل



ــ تاسې د شعر کوم کوم ډولونه پېژنئ؟

ــ څوک ویلی شي چې غزل څه ډول شعر دی؟

غزل په لغت کې له ښځو سره خبرو او یا هغه شعر ته وایي چې موضوع یې مینه او عشق وي، خو په ادبي اصطلاح د شعر یو ډول دی چې نه یوازې عشقي، بلکې هر ډول موضوعات په کې ځایېږي. د دې ډول شعر د بیتونو شمېر له پنځو څخه نیولې کله کله تر پنځلسو او ان تر شلو پورې رسېږي. د غزل ټول بیتونه په یو وزن وي او د قصیدې په څېر په قافیه کې له ((مطلع)) څخه پېروي کوي. لومړی بیت یې ((مطلع)) او وروستي ته ((مقطع)) وایي چې معمولاً په هغه کې شاعر خپل نوم یا تخلص راوړي.

پښتو غزل په کلاسیکه یا منځنۍ ادبي دوره کې خپل بشپړتیایي پړاو ته ورسېد. په دغه دوره کې ډېر پیاوړي غزل ویونکي شاعران لرو. یو له هغو څخه خوږ ژبی شاعر عبدالرحمٰن بابا دی چې په دې لوست کې یې یو غزل لولو.

غزل

دنیادار که مستغني په سیم و زر دی
هنر مندو څخه ګنج د خپل هنر دی
بېهوده به زورور و ځان ته وایي
د دنیا سړی که هر څو زورور دی
هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې
پیدا کړی خدای د سر د پاسه سر دی
ځینې ځینې یې ولیان، پېغمبران کړل
نه چې هر سړی ولي او پېغمبر دی
جو دانه قدر یو لعل په کې پیدا شي
نور جهان واړه د تورو کاڼو غر دی
یو بادشاه دی چې لښکرې پسې درومي
نه په هر یوه سړي پسې لښکر دی
پیدا کړي خدای سړي په تفاوت دي
هسې نه چې جهان واړه برابر دی
که د عمر و رفتن ته خوك نظر کا
دا به وایې چې آفتاب د مازدیګر دی
چې یې سر په ځمکه ایښی وي و یار ته
په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی
تعجب زما د دُرو اوښکو مه کړه
ما موندلی په دا بحر کې ګوهر دی
د ریاء خرقه یې خدای مه کړه په غاړه
رحمان کوړ دستار ترلی قلندر دی
(عبدالرحمٰن بابا)

عبدالرحمٰن بابا د پښتو ژبې نوميالی شاعر دی چې په ۱۰۴۲هجري قمري کال د پښتونخوا د پېښور په بهادر کلي کې زېږېدلی و. په ۱۱۲۸هجري قمري کال په پېښور کې مړ شوی او د هزارخانې په هديره کې ښخ دی. عبدالرحمٰن بابا په پښتنو کې دومره مقبوليت ترلاسه کړی چې د ((بابا)) په درانه لقب يې منلی او نمانځلی دی. شعر يې د خلکو په خولو او ژبو گرځي او د شعر ديوان يې د هر پښتون په کور کې شته. د زړه په مينه يې لولي او پرلارښوونو يې عمل کوي.

د متن لنډيز:

عبدالرحمٰن بابا د شعر په پيلامه کې د هنر ارزښت او اهميت بيانوي او هنرمند په خپل هنر داسې ډاډه بولي، لکه شتمن چې په خپلو شتو او پانگه ډاډمن وي.

بابا لارښوونه کوي چې د نړۍ خلک دې د غرور له مخې ځان زورور نه بولي، بلکې د واقعي زور او ځواک خاوند حق تعالی دی.

په دنيا کې دې ځوک غرور نه کوي، د هر سر له پاسه بل سر شته. د دنيا وگړي د معنوي ارزښت له مخې يو ډول نه دي، ځوک ټيټه او ځوک لوړه مرتبه لري. يو شخص وي چې خلک پر هغه راټولېږي او د واک چلولو صلاحيت پيدا کوي. هر ځوک له دې منزلت څخه نشي برخمن کېدلی. د دې نړۍ عمر بقا او پايښت نه لري او داسې ژر تېرېږي، لکه د مازيگر لمر چې ژر ژر پرېوځي. عبدالرحمٰن بابا په خپلې غريبۍ او قلندرۍ او په زاړه پټکي وياړي او د رياء د اطلسو او زر بافتو له خرقې او چپن څخه بېزاره دی.

فعاليتونه

۱ــ زده‌کوونکي دې په وار سره د شعر يو يو بيت ولولي.

۲ــ ښوونکی دې د اړتيا په وخت کې له هغوی سره مرسته وکړي.

۳_ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې شعر په چوپه خوله په ډېر غور او دقت سره ولولي، ستونزمنې کلمې یا لغتونه دې په نښه کړي.
٤_ ښوونکی دې یو یو زده‌کوونکی پورته کړي چې خپلې په نښه کړې ستونزمنې کلمې ولولي. د لوستل شوو کلمو لست دې توحید، بشپړ او هغه دې پر تخته ولیکي.
٥_ ځینې لغتونه دې د زده‌کوونکو په وسیله معنا او پر تخته ولیکي او پاتې ناحل شوې کلمې دې په خپله حل کړي.
٦_ زده‌کوونکي دې پر تخته لیکل شوې کلمې او د هغو معناګانې په خپلو کتابچو کې ولیکي.
٧_ ښوونکی دې دوه دوه زده‌کوونکي پورته کړي. لومړی دې یو د خپلې خوښې بیت ولولي او هغه بل زده‌کوونکی دې معنا کړي، بیا دې هغه یو د خپلې خوښې بیت ولولي او دا بل دې معنا کړي. دا لړۍ دې پر ټول ټولګي تطبیق شي. ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې د معنا او مفهوم په سمون کې مرسته وکړي.

٨_ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې متن په غور او دقت ولولي او په هغه کې جمع نومونه په نښه کړي، بیا دې هر یو خپل په نښه کړي جمع نومونه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي چې یو یو تن د نوم مفرده بڼه ورته وایي.

٩_ ښوونکی دې د لوستل شوو نومونو بشپړ توحیدي لست جوړ او پرتخته ولیکي، یو یو زده‌کوونکی دې تختې ته وروبولي چې یو د جمع نوم په مناسبه جمله کې استعمال کړي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د عبدالرحمٰن بابا د شعر مفهوم په خپلو الفاظو ولیکي، د پښتو په راتلونکي درسي ساعت کې دې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.



پښتو ادبي تذکرې

ـ تاسې په عامه توګه د تذکرې په معنا او مفهوم پوهېږئ چې څه شي ته وايي؟

ـ تاسې دمخه د ادبي تذکرې نوم اورېدلی او یا مو په دې نامه کوم اثر لیدلی دی؟

ـ د مخه مو داسې کوم کتاب لیدلی چې په هغه کې د شاعرانو او لیکوالو ژوند لیکونه (بیوګرافي) او د نظم یا نثر نمونې راغلي وي.

ادبي تذکرې هغه لیکلي اثر یا کتاب ته وايي چې په کې د لیکوالو او شاعرانو د ژوند پېښې او سوانح او د نظم او نثر بېلګې راغلې وي. دا ډول کتابونه لیکل د هرې ژبې په ادبیاتو کې دود دي. په پښتو کې هم له ډېرې لرغونې زمانې څخه دغه ډول لیکلي آثار راپاتې دي چې هغه موږ د لیکوالو له ژوند پېښو او د نظم او نثر له بېلګو سره آشنا کوي. په دې لوست کې د پښتو ځینې ډېرې پخوانۍ لاس ته راغلې ادبي تذکرې او اوسنۍ ادبي تذکرې درپېژنو.

تذکره عربي کلمه ده چې څو معناوې لري: پېژند پاڼې ته هم ویل کېږي او د هغې وسیلې نوم هم دی چې ناروغان په کې له یو ځای څخه بل ته لېږدوي. په ادبي او فرهنګي اصطلاح ادبي تذکره هغه اثر ته ویل کېږي چې د ادیبانو (شاعرانو او لیکوالو) ژوند پېښې او آثار په کې معرفي شوي او د پېژندګلوۍ په ترڅ کې یې د لیکوالو او شاعرانو د نظم او نثر بېلګې هم خوندي کړې وي.

د پښتو لومړنۍ ادبي تذکره چې څو پاڼې یې د زمانې له حوادثو خوندي پاتې او تر موږ رارسېدلې هغه د سلیمان ماکو ((تذکرة الاولیاء)) ده. نوموړې هغه تر ٦١٢ هجري قمري کال وروسته د کندهار په ارغستان نومې ځای کې لیکلې ده. د دغې تذکرې په راپاتې څو پاڼو کې د پښتو څلورو تنو عارفانو چې د پښتو ژبې شاعران هم دي، ژوند لیکونه او د منظومې وینا بېلګې راغلې دي. د پښتو ژبې دغه لرغوني شاعران: بېټ نیکه، ملکیار غرشین، شیخ اسمعیل او شیخ بختیار دي. که د دې تذکرې بشپړه قلمي نسخه ترلاسه شوې وای، کېدای شو چې نور ډېر عارفان او ادیبان به یې هم راپېژندلی وای. د دغې تذکرې څو ترلاسه شوې پاڼې په ۱۳۲۰ لمریز کال په پښتانه شعراء لومړی ټوک کې او بیا وروسته څو ځلې ځانګړې هم چاپ شوې دي.

تر تذکرة الاولیاء وروسته بله ادبي تذکره چې بشپړه قلمي نسخه یې ترلاسه شوې، هغه ((پټه خزانه)) ده چې محمد هوتک په ((۱۱٤۱ _ ۱۱٤۲هـ.ق.)) کال تالیف کړې ده. دغه ادبي تذکره موږ ته د پښتو ډېر لرغوني او د محمد هوتک زمانې ته نژدې او هم مهالي شاعران او لیکوالان راپېژني. په دغو شاعرانو کې شپږ تنه ښځینه شاعرانې هم پېژندل شوې دي.

د پټې خزانې قلمي نسخه چې د افغانستان ملي آرشیف کې خوندي ده، لومړی ځل په ۱۳۲۳ لمریز کال د پښتو ټولنې له خوا او بیا وروسته د بېلا بېلو فرهنګي ادارو او خپرندویه ټولنو له خوا څو ځله چاپ او خپره شوې ده.

په پټه خزانه کې د ځینو نورو لرغونو تذکرو او د هغو د لیکوالو، لکه د شیخ کټه ((لرغوني پښتانه)) د شیخ بستان بړیځ ((بستان اولیاء)) د شیخ قاسم ((اولیای افغان)) او نورو

نومونه راغلي چې ليکوال له دغو آثارو څخه د لرغونو پښتنو شاعرانو شعرونه راخيستي دي، خو دا چې د دغو آثارو قلمي نسخې تر اوسه نه دي ترلاسه شوي، ځکه پرې څه نه وايو او يوازې د نومونو په يادونه يې بسنه کوو.

د پښتو ادب په معاصره ادبي دوره کې ادبي تذکره ليکنه پوهاند عبدالحی حبيبي پيل کړې چې په ۱۳۲۰ لمريز کال يې د پښتانه شعراء لومړی ټوک د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شو. وروسته بيا د پښتانه شعراء دوهم ټوک په ۱۳۲۱ هـ.ش. کال پوهاند صديق الله رښتين، دريم ټوک په ۱۳۴۲ هـ.ش. د پښتو ټولنې غړو او بيا د همدې لړۍ څلورم او پنځم ټوکونه څېړنپوه عبدالله بختاني ليکلي او پښتو ټولنې خپاره کړي دي.

د پښتو ادبي تذکرو په لړ کې بل ډېر ارزښتناک اثر د عبدالرؤوف بېنوا درې ټوکه اوسني ليکوال دي چې لومړی ټوک يې په ۱۳۴۱، دويم په ۱۳۴۲ او دريم ۱۳۴۶ هـ.ش. کال چاپ شوي او (۲۵۰) تنه اوسني ليکوال او شاعران په کې پېژندل شوي او د هغوی د نظم او نثر بېلگې يې هم خوندي کړې دي.

د مولوي صالح محمد او سراج الدين ((تذکرة الشعراء)) هم يوه غوره ادبي تذکره ده چې په (۱۳۶۶ هـ.ش.) کال چاپ او خپره شوې ده.

د پوهاند صديق الله رښتين ((پياوړي شاعران)) او ((نوميالي شاعران)) د حبيب الله رفيع ((ادبي ستوري)) دوه ټوکه، د افضل ټکور ((دا ليکوال او دا څېړې)) د کبرا مظهري ((پښتنې شاعرانې او ليکوالې))، د مؤمن پتوال ((اوسني شاعران)) د شهرت ننگيال ((وينه په قلم کې)) د محمد داؤد وفا ((ستوري د ادب په آسمان کې))، د آرين يون ((د وږمو بهير)) او داسې نورې د پښتو د معاصرې ادبي تذکره ليکنې ډېر ښې بېلگې دي چې د سلگونو پخوانيو او اوسنيو شاعرانو او ليکوالو ژوند پېښې او د نظم او نثر نمونې په کې خوندي دي.

په پښتونخوا کې هم ډېرې غوره ادبي تذکرې ليکل شوي او چاپ شوي، لکه: د همېش خليل ((ورکه خزانه)) (لومړی او دويم ټوک)، پښتانه ليکوال لومړی ټوک، د قلم خاوندان، د عبدالحليم اثر ((تېر هېر شاعران)) د پروفيسور سيال کاکړ ((د کسي د لمنې

پښتانه لیکوال)) (لومړی ـ دویم ټوک) د افضل رضا ((سل پټ ستوري)) د محمد اشرف غمگین ((د هشنغر ادب)) د شېرشاه ترخوي ((دا څوك دي؟)) (لومړی ـ دوهم ټوك) ((ادبي ستوري))، د خېبر اپریدي ((د خېبر انگازې)) د اخونزاده مساپر ((د پښتو ادب ځلند ستوري))، د مثل خان راهي ((د خوشحال د بڼ گلونه)) د تاج ملي تاج لاثاني ((د مروتو ستوري)) د مراد شینواري ((خېبر ادب)) د قمر صحرايي ((د هزارې نظم زار)) او په لس گونو نورې ادبي تذکرې چې د زړگونو پخوانیو او اوسنیو شاعرانو او لیکوالو ژوند لیکونه او د نظم او نثر بېلگې په کې خوندي دي.

د ادبي تذکره لیکنې بهیر اوس ډېر گړندی روان دی. په افغانستان او پښتونخوا کې ډېرې غوره ادبي تذکرې لیکل کېږي او د چاپ ډگر ته راوځي. د دغو ادبي تذکرو په لیکلو، تدوین او اوډون کې فرهنگي اداري او ادبي ټولنې ډېره ارزښتناکه ونډه لري. ادبي تذکرې نه یوازې دا چې موږ د پخوانیو او اوسنیو شاعرانو له ژوند پېښو او آثارو سره آشنا کوي، له ادبي تاریخ لیکونکو سره هم د ادبي تاریخ په لیکلو کې ډېره مرسته کوي او هغوی اړ دي، د ادبي تاریخ لیکلو پر وخت د لومړني او اساسي معلوماتي منبع او مرجع په توگه همدغو ادبي تذکرو ته مراجعه وکړي، نو لازمه ده چې په ادبي تذکرو کې د لیکوالو او شاعرانو د ژوند او آثارو په باب رښتیني معلومات ولیکل شي.

د متن لنډیز:

تذکره عربي کلمه ده. لغوي معناوې د پېژندنې پاڼه او د ناروغ د لېږدېدنې وسیله ده، خو په ادبي اصطلاح کې ادبي تذکره هغه اثر ته ویل کېږي چې په کې د لیکوالو او شاعرانو ژوند لیکونه او د نظم یا نثر بېلگې خوندي کېږي.

په پښتو ادب کې لومړنی ترلاسه شوې ادبي تذکره د سلیمان ماکو ((تذکرة الاولیاء)) ده چې له ٦١٢ هجري قمري کال وروسته لیکل شوی، وروسته بیا د محمد هوتك ((پټه خزانه)) د دویمې لاس ته راغلې ادبي تذکرې په توگه یادولی شو. په معاصره ادبي

دوره کې ډېرې غوره ادبي تذکرې په افغانستان او پښتونخوا کې ليکل شوي دي. کولای شو د بېلګې په توګه د پښتانه شعراء پنځه ټوکه، اوسني ليکوال درې ټوکه، دا ليکوال او دا څېرې، وينه په قلم کې، ستوري د ادب په آسمان کې، اوسني شاعران، د کسی د لمنې پښتانه ليکوال (لومړی او دويم ټوک) د هشنغر ادب، ورکه خزانه (لومړی ـ دويم ټوک)، پښتانه ليکوال (لومړی ټوک)، پښتو ادب ځلنده ستوري، سل پټ ستوري او نورو نومونه واخلو.

فعاليتونه

۱ـ زده کووونکي دې د متن يوه يوه برخه ولولي. ښوونکی دې د اړتيا پر وخت لازمه مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې متن په غور او دقت سره ولولي، ستونزمن کلمات او مفاهيم دې په نښه کړي، بيا دې هر يو د ټولګي په وړاندې هغه ولولي، ښوونکی دې د هغو بشپړ توحيد شوی لست د تختې پر مخ وليکي. هغه دې لومړی تر ممکنې اندازې د زده‌کوونکو په وسيله او پاتې ستونزمنې کلمې دې په خپله معنا او تشريح کړي.

۳ـ زده‌کوونکي دې کلمې او د هغو معناوې په خپلو کتابچو کې وليکي.

٤ـ زده‌کوونکي دې پر دو سترو ډلو ووېشل شي او دې ته دې وګومارل شي، لومړی ډله په متن کې د کتابونو نومونه او دوهمه ډله د ليکوالو او شاعرانو نومونه لست او د دواړو ډلو استازي دې هغه د ټولګي په وړاندې ولولي.

۵ـ ښوونکی دې د لوستل شوو کتابونو او لیکوالو یا شاعرانو د نومونو بشپړ لست پر تخته ولیکي، د ځینو مشهورو کتابونو او لیکوالو په باب دې زده‌کوونکو ته لازمې ځرګندونې وکړي.


٦ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي.

- د پښتو لومړۍ ترلاسه شوې ادبي تذکره څه نومېږي او په کې د کومو شاعرانو د ژوند حالات او د شعر بېلګې راغلي دي؟
- پټه خزانه چا لیکلې او څو تنه لیکوال او شاعران په کې پېژندل شوي دي؟
- اوسني لیکوال د چا اثر دی او ټول څو تنه لیکوال او شاعران په څو ټوکونو کې راپېژني؟
- ورکه خزانه (لومړی او دویم ټوک) پښتانه لیکوال لومړی ټوک او د قلم خاوندان د چا اثر دی؟
- ادبي ستوري لومړی ټوک او دویم ټوک چا لیکلی دی؟
- ادبي تذکره په ادب کې څه ارزښت او اهمیت لري؟
- ادبي تذکره څه ډول کتاب وي؟
- د پنځو ادبي تذکرو نومونه واخلئ!
- د پنځو ادبي تذکرو د لیکوالو نومونه واخلئ!

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پښتو کومه پخوانۍ یا اوسنۍ ادبي تذکره پیدا او هغه دې په لنډه توګه معرفي کړي. په راتلونکي پښتو ساعت کې دې هغه د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

متلونه او محاورې



ـ د متل او محاورې د کلمو له معنا او مفهوم سره آشنا یاست؟

ـ کله مو داسې څوک لیدلي چې د خپلې ادعا د ثبوت لپاره په خبرو کې داسې یوه پخه او کره جمله ووایي چې مقابل لوری قانع کوي او د هغه واقعیت له منلو څخه انکار نه شي کولی؟

متلونه او محاورې د هرې ژبې او ولس په شفاهي ادبیاتو کې یوه ځانګړې ارزښتمنه برخه جوړوي او په ورځنیو خبرو اترو کې یې کارول زیات دي. متلونه او محاورې په ژبه کې هغه پخې، خوږې، پوره او کره خبرې دي چې د ولس د ټولنیز ژوندانه د زرګونو کلونو تجربو نتیجه او نچوړ دی چې په لنډو جملو او کلمو کې ډېرې ژورې معناګانې پرتې وي.

په دې لوست کې د ولسي ادب دا دواړه ډولونه درپېژنو.

متلونه او محاورې د ولسي ادب دوه ځانګړې ډولونه دي چې دلته یې جلا جلا درپېژنو:

۱_ متلونه:

متلونه هغه پخې، خوږې، په تول پوره او کره خبرې دي چې د یوې ژبې د ویونکو د زرګونو کلونو ټولنیز ولسي ژوند له تجربو څخه زېږېدلې او د دوی د ژوند لورى او لارې یې ټاکلې دي.

یا په بله وینا:

متلونه د یو ولس د زرګونو کلونو د ژوندانه د تجربو نتیجه او نچوړ دی چې د دغه ولس د عقل او منطق ښکارندویي او څرګندویي کوي.

متلونه په عامه توګه ډېرې لنډې، خو پخې او په تول تللې خبرې دي. د ژبنې جوړښت له مخې یې هم متن خوږ او معیاري دی. هر څوک یې په خپلو خبرو کې د خپلو خبرو د منطقي او باوري کولو لپاره وایي او بیا نو څوک د کانې دا کرښه د ماتولو وړ نه بولي او له واقعیت څخه یې انکار نه شي کولای.

د یوې ژبې ویونکي د متلونو په ترڅ کې د خپل ژوند تجربې یو بل ته لېږدوي او نسلونه نسلونه یې د کانې کرښې بولي او د همدغو تجربو د نچوړ یا نتیجو په رڼا کې خپل ژوند عیاروي او پر هغه عمل کوي.

متلونه د بڼې او شکل له مخې پر دوه ډوله دي:

منظوم متلونه، منثور متلونه

دلته یې هر ډول درپېژنو.

الف_ منظوم متلونه:

منظوم متلونه معمولاً دوه مسرۍ یا نیم بیتي وي، کله کله یې لومړۍ مسرۍ (نیم بیتي) تر دوهمې اوږدېږي. په منظومو متلونو کې وزن، قافیه، استعارې، کنایي او مجاز ځای شوي وي او د خبرو په لړ کې په خواږه آهنګ او لهجه ویل کېږي.

منظوم متلونه تر منثورو متلونو ښه او ژر زده کېږي یا په بله وینا دا چې په نظم دی، نو تر ډېره وخته په ذهن کې پاتې کېږي. د متلونو د عمر د اوږدېدلو او په اسانه او اغېزناکه توګه لېږدېدلو لپاره دا کار شوی او همداغه پخې خبرې او د تجربو نچوړ په نظم کې راوړل شوي دي.

د منظومو متلو څو بېلګې:

۱_ سل روپۍ پور که _ د اختر شپه په کور که.

۲_ خپله لاسه _ ګله لاسه

۳_ چې نه یې وي سړي _ نه دې قرت خوري نه غوړي.

٤_ کاڼی به پوست نه شي _ دښمن به دوست نه شي.

۵_ پوره _ ورک دې کړه دوه کوره.

ب: منثور متلونه:

منثور متلونه په نثر دي. د دې متلونو شمېر ډېر زیات دی. د متلونو دا ډول هم یو ډول ځانګړی آهنګ لري، پخه، خوږه ادبي ژبه په کې کارول شوې او په همداغه ادبي ښکلا او قوت انتقالېږي. دا حکیمانه، پخه او خوږه خبره یا لنډه جمله ویونکی د خبرو په ترڅ کې د مثال په ډول د خپلې وینا د ټینګښت یا د خپلې ادعا د ثبوت لپاره راوړي. هر منثور متل یوه لنډه، خو بشپړه جمله وي چې د مبتداء او خبر دواړه برخې لري.

منثور متلونه د جوړښت له مخې په څو ډولونو دي چې مشهور یې دا دي:

تمثیلي متلونه، کیسه ییزه متلونه او عادي متلونه.

د منثورو متلونو څو بېلګې دا دي:

۱ـ وګټه، پیل وخوره.

۲ـ د ښو غوښو ښه ښوروا وي.

۳ـ چې سر دې نه خوږېږي، داغ پرې مه ږده.

٤ـ لاس چې مات شي، غاړې ته ځي.

٥ـ چې غوټه په لاس خلاصېږي خولې ته حاجت نه شته.

۲ـ محاورې:

محاورو ته اصطلاحات او ګړنې هم وايي. د نثري ولسي ادب یو ډول دی چې د جوړښت له مخې د یوې نابشپړې جملې بڼه لري او په هغې کې د حقیقي معنا پر ځای، بله مستعاره معنا استعمالېږي او لکه د متل په څېر په خبرو اترو کې کارول کېږي.

ګړنې یا محاورې د یو ولس د ټولنیز، سیاسي او کلتوري ژوندانه د ځینو برخو انځور او د هغو په وړاندې یو ګړنی غبرګون دی چې زیاتره د طنز، کنایې او استعارې په توګه ویل کېږي او ډېره ژوره معنا او مفهوم لري. دا محاورې په واقعیت کې د یوې پېښې یا خبرې د معنا نچوړ او نتیجه وي چې د خبرو اترو په ترڅ کې د مطلق دلیل په توګه د خبرو دلنډوالي او غوخوالي لپاره کارول کېږي.

محاوره یا اصطلاح او ګړنه هم د متل په څېر ډېره پخه او حکیمانه جمله وي او په هماغه بڼه خوله په خوله له یو نسل څخه بل ته لېږدي. دغه محاورې کله کله سیمه ییزې معناوې هم پیدا کوي او یوه اصطلاح یا محاوره په یوه سیمه کې یوه او په بله کې بله معنا لري.

د ګړنو او محاورو څو بېلګې:

۱ـ په جامو کې نه ځایېدل، (د ډېرې خوښۍ حالت ښودل).

۲ـ د آسمان ستوري شمېرل، (ناشونی کار کول).

۳ـ زړه اچول، (ناهیلي کېدل، مایوسه کېدل).

٤ـ سپین سترگي کول، (بې حیایي کول).

٥ـ باد پیمانه کول، (بې ګټې کار کول).

٦ـ پښنه نیول، (ځنډ او سوچ کول، انتظار او پلمه کول).

٧ـ پوزه پرېکول، (شرمېدل، بې پته کول).

٨ـ تندی تروشول، (غوسه کول، ناخوښه کېدل).

٩ـ تندی وهل، (ارمان کول، پښېماني کول).

١٠ـ ګوته په غاښ کېدل، (حیرانېدل، تعجب کول).

د متن لنډیز:

متلونه او محاورې د ولسي ادب دوه ځانګړي ډولونه (ژانرونه) دي. متلونه هغه پخې، خوږې په تول پوره او کره خبرې دي چې د یوې ژبې د ویونکو د زرګونو کلونو تولنیز ژوند له تجربو څخه زېږېدلې دي او د یو ولس د عقل او منطق ډېره ښه ښکارندویي او څرګندویي کوي. دغه متلونه په دوه ډوله دي: منظوم متلونه او منثور متلونه، هر یو یې ځانګړې جوړښت لري.

محاورې چې اصطلاحات او ګړني هم ورته وايي، د جوړښت له مخې د یوې نابشپړې جملې په شکل وي او په هغې کې د حقیقي معنا پر ځای بله مجازي یا مستعاره معنا کارول کېږي او دا هم لکه د متل په څېر په خبرو اترو کې استعمالېږي او ډېره ژوره معنا او اغېز ښندي.

فعالیتونه

١ـ زده‌کوونکي دې په خپل وار سره د متن یوه یوه برخه د ټولګي په وړاندې ولولي، ښوونکی دې د اړتیا پر مهال د سمې لوستنې لپاره د هغوی مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې په متن کې د متل برخه په چوپه خوله په غور او دقت سره ولولي، بیا دې دوه دوه زده‌کوونکي پورته کړای شي، یو دې یو متل ووایي او هغه بل دې د هغې معنا او مفهوم په خپلو الفاظو کې ټولګیوالو ته ووایي، بیا دې بل زده‌کوونکی متل ووایي او هغه بل دې یې معنا او مفهوم ووایي. دا لړۍ دې په ټولو زده‌کوونکو ترپایه پلې کړای شي.

۳ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې د لوست په متن کې د محاورې یا ګړنې برخه په چوپه خوله په ډېر غور او دقت ولولي، بیا دې د پورتني مشق او تمرین په څېر دوه زده‌کوونکي پاڅېږي، یو دې یوه محاوره ووایي او بل دې د هغې مفهوم او د هغه څه لپاره چې دا ګړنه (محاوره) ویل کېږي، هغه دې بیان کړي. دا لړۍ دې د ټولګي پر ټولو زده‌کوونکو پلې کړای شي.

٤ـ د لوست ارزونه دې په دې لاندې پوښتنو ترسره شي:

- متل څه شی دی؟
- متلونه په څو ډوله دي، نومونه یې واخلئ؟
- منظوم او منثور متلونه څه توپیر سره لري؟
- پنځه متلونه ووایاست.
- محاوره څه شی ده؟
- محاوره په خبرو اترو کې د څه لپاره کارول کېږي؟
- محاوره او متل څه توپیر لري؟
- پنځه محاورې ووایاست.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په لوست کې له راغلیو متلونو او محاورو پرته نور لس ـ لس متلونه او لس محاورې په خپلو کتابچو کې ولیکي. د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته ولولي.

حليمه خټکه



ــ تاسې د هېواد په پخوانيو نوميالیو مېرمنو کې د چا له نامه سره آشنايي لرئ؟

ــ آيا کومه پخوانۍ ښځه شاعره پېژنئ؟

ــ آيا پښتو ادب ته د خټکو د کورنۍ د ادبي او فرهنګي خدمتونو په باب څه معلومات لرئ؟

په يوولسمې او دولسمې هجري پېړيو کې په خپله خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ پښتو ژبې او ادب ته د يادونې او ستاينې وړ خدمتونه کړي دي. د دې کورنۍ ليکوالو او شاعرانو د منظومو او منثور آثارو په ليکلو سره د پښتو ادبي پانګه بډايه کړې ده.

د خوشحال خټک پر زامنو (اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، صدر خان خټک، ګوهر خان خټک، سکندر خان خټک او نورو) سربېره د هغه يوه لور حليمه خټکه هم د پښتو ژبې تکړه شاعره وه چې په دې لوست کې يې درپېژنو.

حلیمه خټک د پښتو د نومیالي شاعر، لیکوال او ملي مبارز خوشحال خان خټک لور وه. په ځینو ادبي څېړنو کې یې زېږېدنه پر ۱۰٦٥ هجري قمري کال اټکل شوې ده.

حلیمې خټکې په سرای اکوړي سیمه کې د خوشحال خان په کورنۍ کې سترګې نړۍ ته غړولې او په یو علمي فرهنګي چاپېریال کې رالویه شوې وه. د وخت دودیز دیني او ادبي علوم یې د خپلې کورنۍ له مشرانو او استادانو لوستي او یوه عالمه او عارفه ښځه وه.

حلیمې له تصوف او عرفان سره ډېره مینه درلوده او په دغه سلسله کې د وخت د نومیالي عارف او فاضل روحاني شخصیت شیخ سعدي لاهوري (۱۱۰٦هـ.ق. مړ) څخه چې د نقشبندیه طریقې لوی مرشد او لارښود و، د خپل سکني ورور نومیالي شاعر او لیکوال عبدالقادر خان خټک په لاس بیعت وکړ او د هغه مریده شوه.

لومړنی ماخذ چې موږ ته د حلیمې خټکې د ژوند، علمي، ادبي او عرفاني شخصیت په باب لږ و ډېر معلومات راکوي هغه د محمد هوتک تألیف کړی اثر ((پټه خزانه)) ده.

محمد هوتک د حلیمې خټکې د زمانې لیکوال دی، په پټه خزانه کې یې لیکلي دي چې: حلیمه بي بي یوه فاضله او عارفه ښځه ده، مېړه یې نه دی کړی، د خپل سکني ورور عبدالقادر خان خټک په کور کې په ستر او پرده ناسته، په ریاضت او د لوی خدایﷻ په عبادت به بوخته وه. د قرآن کریم حافظه هم ده او په کور کې نورو ښځو ته د قرآن کریم لوست او زده کړه کوي. د پښتو ژبې شاعره هم ده چې په خپله زمانه کې له لوړ نوم او شهرت نه برخمنه او خلک یې شعرونه ډېر خوښوي.

د تصوف او طریقت ډېر کتابونه یې لوستلي دي او چې په ځینو مسئلو کې څه ستونزې وربېښې شي هغه د مثنوي شریف (د مولانا جلال الدین بلخي اثر) او د حضرت امام رباني د مکتوبات کتاب په مرسته حل کوي.

د پټې خزانې لیکوال د خپل پلار (داؤد هوتک) په حواله د حلیمې خټکې یو شعر په خپل اثر کې خوندي کړی او د دغې شاعرې د شعر پر منځپانګې د تبصرې په ترڅ کې لیکي چې: ((د حلیمې په اشعارو کې مجازي عشق نه ښکاري، بلکې ټول شعرونه یې د حقیقت پر لار دي او د محبوب حقیقي صفت کا)).

د حلیمې خټکې د شعرونو دیوان یا د اشعارو نورې بېلګې تر اوسه زموږ لاس ته نه دي راغلي، نو ځکه یې د اشعارو د منځپانګې او محتوا په هکله ډېر څه نشو ویلی. د شعر یوه بېلګه یې چې د پټې خزانې په وسیله خوندي او تر موږ رارسېدلې، هغې ته په کتنه دومره ویلای شو چې د شعر ژبه یې خوږه، ساده، خو رنګینه او په ادبي ښېګڼو او ښکلاوو پسوللې ده. وینا یې پخه او کره ده چې موږ ته د دغې شاعرې د لوړې پوهې، بصیرت او شاعرانه استعداد څرګندویي کولی شي.

د حلیمې خټکې د مړینې د کال په اړه محمد هوتک څه نه دي ویلي، یوازې د خپل پلار داؤد هوتک (۱۱۳۶هـ.ق. مړ) له قوله دومره یادونه کوي هغه مهال چې یې پلار بنو ته تللی و دا شاعره لا ژوندۍ او په خلکو کې ښه مشهوره وه.

دلته یې د شعر بېلګه لولو:

غزل

د آشنای په فکر خوښه هسې شان شوم	نه پوهېږم چې ممتاز که نور جهان شوم؟
چې یې کرمه ستا په مینه سرفرازه	ثنا خوانه په خو رنګه د رحمان شوم
چې مجاز مې د ایاز ولاړئ له زړه نه	سربلنده تر محمود غوندې سلطان شوم
و هر چا و ته چې ګورم واړه دی دی	د جمال په ننداروکو یې شادمان شوم
غیر فکر مې له زړه نه رابهر شو	پر خلیل و پر وعدو باندې یکسان شوم

((حلیمې)) د غماز مکر زیات له حد شو
چې دې بیل له یاره نه کا په ګومان شوم

(پټه خزانه)

د متن لنډيز:
خوشحال خان خټک او د هغه کورنۍ پښتو ادب ته ډېر د قدر وړ خدمتونه کړي دي. حلیمه خټکه چې د خوشحال خان خټک لور وه، د پښتو ژبې پیاوړې شاعره، یوه

عالمه، عارفه او فاضله ښځه وه. نومورې د خوشحال خان خټک په کورنۍ کې ښځو ته د ديني علومو زده کړه او تدريس کاوه. د شعرونو ديوان يې تراوسه نه دی ترلاسه شوی، يو شعر يې محمد هوتک په خپل اثر ((پټه خزانه)) کې خوندي کړی او تر موږ رارسولی دی.

فعاليتونه

۱ــ زده‌کوونکي دې متن په چوپه خوله ولولي او بيا دې زده‌کوونکي په وار سره د متن يو يو پراګراف د ټولګي په وړاندې ولولي.

۲ــ زده‌کوونکي دې د ټولګي په وړاندې د متن مفهوم په خپله ژبه ووايي.

۳ــ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې په متن کې خاص نومونه په نښه او په يو لست کې ترتيب کړي. هر زده‌کوونکی دې خپل لست کړي نومونه د ټولګي په وړاندې ولولي. ښوونکی دې هغه په بشپړه توګه پر تخته وليکي او د هغو په باب دې زده‌کوونکو ته لازم معلومات ورکړي.

٤ــ ښوونکی دې په دې لاندې پوښتنو پر لوست د زده‌کوونکو د پوهېدنې د کچې ارزونه وکړي:

- حليمه خټکه څوک وه؟
- حليمې خټکې د خپلې کورنۍ ښځو ته کومه چاره ترسره کوله؟
- د حليمې خټکې شعر موږ ته څنګه رارسېدلی دی؟
- د خټکو کورنۍ پښتو ادب ته څه خدمتونه کړي دي؟
- د خټکو په کورنۍ کې نور کوم شاعران او ليکوالان پېژنئ؟

کورنۍ دنده

زده‌کوونکي دې په کور کې د حليمې خټکې شعر مفهوم په خپلو الفاظو وليکي، په راتلونکي پښتو درسي ساعت کې دې هغه د ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

بهرني پښتو پوهان



ــ تاسې داسې بهرني پوهان يا ليکوالان پېژنئ چې د افغانستان او په هغه کې د استوګنو قومونو او ولسونو په هکله يې ليکنې کړې وي؟

ــ د افغانستان او افغانانو په هکله د بهرنيو ليکوالو کوم ليکلی آثر مو لوستی دی؟

ــ تاسې د ((مستشرق)) يا ((ختيځ پوه)) له نامه او اصطلاح سره آشنا ياست چې چا ته ويل کېږي؟

د نړۍ د نورو هېوادونو، په ځانګړې توګه د اروپا يا لويديځو هېوادونو هغو ليکوالو او مؤرخينو چې د آسيايي يا ختيځو هېوادونو په اړه ليکنې، څېړنې او مطالعات کړې دي، مستشرق يا ختيځپوه نومېږي. د نورې نړۍ يو شمېر داسې پوهان او ليکوال شته چې د افغانستان او د هغه د استوګنو قومونو په اړه يې ليکنې او څېړنې کړې دي. په دې لوست کې يو شمېر داسې پوهان، څېړونکي او ليکوال درپېژنو چې د پښتو ژبې، ادب، تاريخ او کلتور په باب يې ليکنې او څېړنې کړې دي.

د نورې نړۍ، په ځانګړې توګه د لویدیځو هېوادونو هغه شمېر پوهان او څېړونکي چې د آسیايي هېوادونو او ولسونو په باب يې د تاریخ په اوږدو کې څېړنې او لیکنې کړې دي او یا يې کوي، هغوی ته د ختیځ پوهانو یا مستشرقینو نوم او اصطلاح کاروي.

د همدې ډلې لیکوالو او څېړونکو په ډله کې چې چا د پښتنو او د هغوی د ټاټوبي (افغانستان او پښتونخوا) په باب لیکنې او څېړنې کړې او یا يې کوي، موږ يې بهرني پښتو پوهان نوموو او دلته يې د پېژندنې په اړه بحث کوو.

دغه بهرني پښتو پوهان زیاتره په هغه زمانه کې چې انګرېزي ښکېلاک د آسیا لویې وچې ته د خپلې استعماري واکمنۍ او سلطې د پراخولو او د نورو هېوادونو د نیولو او مستعمره کولو په نیت د دې سیمې په هېوادونو کې لومړی هند او بیا يې د لوی افغانستان ځینې برخې او وریسې ټول هېواد په خپله استعماري لومه کې راښکېل کړ، یو شمېر اشخاصو چې زیاتره له دوی سره په سیاسي پوځي، استخباراتي او نورو ډول ډول ماموریتونو کې شامل وو، د خپلو استعماري دندو، ماموریتونو او مکلفیتونو، موخو او اړتیاوو له مخې زموږ د هېواد د استوګنو قومونو او ولسونو د ټاټوبي، ژبو، تاریخ، کلتور او عنعناتو، ادبیاتو او ټولنیز ژوند د بېلا بېلو اړخونو په باب مطالعات، لیکنې او څېړنې اوګروېږنې پیل کړې.

پښتون قوم او ولس ته چې د دې سیمې او هېواد یو لوی قوم، بلکې یوه ستره توکمیزه کلتوري ټولنه ده، د دغو ختیځ پوهانو زیات پام ورواوښت. د دوی ژبه يې زده کړه، د دوی لیکلي او شفاهي ادبیات يې راټول کړل او خپلو خلکو ته يې وژباړل، د دغه قوم او ولس په اړه يې هر اړخیزې څېړنې او لیکنې هم وکړې. دغو ختیځ پوهانو د پښتنو د استوګنو سیمو او آن دا چې د دوی د هېواد پلازمینې (کابل) ته په بېلا بېلو ماموریتونو سفرونه هم وکړل، د خپلو سفرونو یونلیکونه او خاطرې يې ولیکلې، د پښتو د کلاسیکو او همدارنګه د ولسي ادبیاتو د نظم او نثر غور چاڼ ټولګې يې ترتیب او هماغه مهال چاپ او خپرې کړې. د دې سیمې او هېواد تاریخونه يې ولیکل چې نن موږ د خپل تاریخ په باب ډېر څه په هغو کې موندلی شو.

په همدې ډول په پخواني شوروي اتحاد کې هم د سيمې د نورو هېوادونو په ډله کې د افغانستان او د هغه د مېشتو قومونو او ولسونو په هکله مطالعات، ليکنې او څېړنې پيل شوې، د ختيځ پېژندنې او مطالعاتو انسټيټيوټ د شوروي په پلازمېنه (مسکو) کې رامنځته شو چې دا ډول ليکنې او څېړنې په کې ترسره کېدې او دا لړۍ تر ننه هم روانه ده. په روسيه کې هم د پښتون ټبر د ژبې، تاريخ، کلتور او عنعناتو، ادبياتو او نورو ټولنيزو مسايلو په هکله ډېرې زياتې ليکنې او څېړنې وشوې.

د پښتنو په باب د ختيځ پوهانو او يا بهرنيو پښتو پوهانو دا ليکنې او څېړنې چې په هره موخه او هدف هغه مهال تر سره شوي دي، دلته موږ د هغو په څرنګوالي څه نه وايو، يوازې پښتون قوم، ژبې ادب او کلتور ته د دغو څېړنو په ځينو عمومي ګټو او ارزښتونو بحث او خبرې کوو.

د دغو ليکنو او څېړنو لومړنۍ ګټه او ارزښت خو دا دی چې د همدغو ختيځ پوهانو د ليکنو او څېړنو په نتيجه کې د پښتو ژبې ادبيات د نړۍ په ډېرو لرې پرتو هېوادونو کې خپاره شول او هغوی ته يې پښتون د نړۍ د يو ستر توکم په توګه وروپېژاند او د همدې په پايله کې د پښتنو او نورو ولسونو ترمنځ يو ډول اړيکې رامنځته شوې.

بله ګټه يې دا ده چې همدغو ختيځ پوهانو د پښتو قلمي آثار راټول کړل او له ځان سره يې خپلو هېوادونو ته يوړل او په موزيمونو او کتابتونونو کې يې خوندي کړل چې نن هم هلته خوندي دي او که چېرې دوی دا کار نه وی کړی، نن به هغه هم لکه زموږ نوره فرهنګي شتمني د جګړو د اور خوراک او له خاورو سره خاورې شوې وای. دوی که دا آثار په هر نيت او موخه هلته وړي وي، زموږ لپاره يې دا ژغورنه او خوندي کېدنه لويه ګټه ده.

بله ګټه او ارزښت يې په دې کې دی چې دغو ليکوالو او څېړونکو د پښتو د منظومو او منثورو کلاسيکو آثارو ډېرې غوره بېلګې هماغه مهال د غور چاڼ په توګه چاپ کړې او دا داسې مهال و چې پښتانه لا د چاپ او صحافت له فن سره نه وو آشنا شوي.

وروسته چې بيا زموږ ليکوالو او څېړونکو د خپلې ژبې او ادبياتو په باب ليکنې او

څېړنې پيل کولې، له همدې آثارو څخه يې د لومړنيو او معتبرو منابعو په توګه کار واخيست.
په دغو آثارو کې ګلشن روه، پښتو منتخبات، کليد افغاني او د پښتونخوا شعر هار و بهار او نور د يادونې وړ دي.

البته د بهرنيو پښتو پوهانو په ليکنو او څېړنو کې ځينې ورې لويې نيمګړتياوې او تېروتنې هم شته چې لامل يې د دغو څېړونکو او پوهانو له پښتو ژبې، کلتور او عنعناتو سره نابشپړه آشنايي او پرې نيمګړې پوهېدنه ده، خو په عامه توګه دا زياتره ليکنې تر ډېره بشپړې او په ډېره دقيقه توګه د هغه وخت د علمي څېړنيزو معيارونو له مخې ترسره شوې دي، نو ځکه موږ ته د خپل قوم، ولس او هېواد په اړه ډېر ګټور معلومات راکوي.

دغه بهرني پښتو پوهان ډېر زيات دي. د هغو ټولو پېژندنه او پر آثارو او افکارو يې بحث کول، په دې لنډه ليکنه کې ناشونې ده. په دې اړه ((په خارج کې پښتو څېړونکي)) د عبدالرحيم ځدراڼ اثر او ((د مغرب په آسمان کې د مشرق ستوري)) د پوهاند دوکتور تره‌ي اثر او همدارنګه زموږ ځينې ادبي تاريخونه دغه بهرني پښتو پوهان په لړ و ډېر تفصيل سره راپېژني. موږ دلته څو تنه بهرني پښتو پوهان په لنډه توګه درپېژنو او د ځينو يوازې نومونه اخلو.

ډورن:

پوره نوم يې بوريس اندر ييويچ ډورن دی، په ۱۸۰۵م. کال په جرمني کې زېږېدلی او هورې يې لوړې زده کړې د ختيځپوهنې په څانګه کې ترسره کړې. نوموړی په ځوانۍ کې روسيې ته تللی او د ژوند تر پايه يې هلته د خارکوف او پترز بورګ په پوهنتونونو کې د ختيځو ژبو د تدريس چارې ترسره کړې. نوموړي په روسيه کې د پښتو ژبې د تدريس او څېړنې لړۍ پيل کړه. ډورن دغلته د پښتو د قلمي نسخو په راټولولو او پلټنه کې هم ستره ونډه ترسره کړې ده. د ډورن د ((پښتو منتخبات)) په نوم د کلاسيک نظم او نثر يوه ټولګه ترتيب کړې چې لومړی ځل په (۱۸٤۸م.) کې په روسيه او بيا په ۱۳۵٦ لمريز کال په کابل کې پښتو ټولنې چاپ کړه. نوموړی په ۱۸۸۱م. کال مړ دی.

راورټي:

په بهرنيو پښتو پوهانو کې هنري جورج راورټي ډېر زيات ارزښتمن کارونه ترسره کړي دي. نوموړي په ۱۸۲۵م. کال په انګلستان کې زېږېدلی او بيا په ځوانۍ کې په هندوستان کې د انګرېزانو په پوځ کې شامل شو. راورټي د ژبو په زده کړه کې د ډېر زيات استعداد څښتن و. لومړی يې د هندوستان يو شمېر ژبې زده کړې او بيا يې په لږه موده کې پښتو ژبه هم زده کړه او پراخې ليکنې او څېړنې يې په کې پيل کړې. نوموړي د پښتو ژبې په اړه آثار ليکلي چې دلته يې د بېلګې په توګه د پښتو ګرامر، پښتو انګريزي فرهنګ، انګريزي، انګريزي پښتو فرهنګ، ګلشن روه، قصې د ايسپ حکيم، د انجيل ژباړه، د پښتو اشعارو منتخبات او نورو نومونه اخلو. راورټي پر ۱۹۰۶م. کال مړ دی.

جيمز ډار مستېټر:

دغه نوميالی پښتو پوه په ۱۸۴۹م. کال په فرانسه کې زېږېدلی. په پاريس کې يې په ادبياتو کې د دوکتورا تر درجې لوړې زده کړې وکړې او بيا په هند کې د ژبنيو څېړنو دنده وروسپارل شوه. د پښتو ژبې په اړه يې په پېښور او هزاره سيمو کې يو لړ څېړنې ترسره کړې.

د نوموړي ډېر مهم اثر پښتو څېړنې دي چې پوهاند حبيبي او استاد بېنوا پښتو ته راژباړلي او په کابل کې چاپ شوي دي. بل ارزښتناک اثر يې ((د پښتونخوا شعر هار و بهار)) نومېږي چې نوموړي هغه ولسي حماسي چاربېتې چې د انګرېزانو د ښکېلاک پر ضد ويل شوي، راټولې او چاپ کړې دي. نوموړی هغه ژبپوه دی چې دا يې جوته کړه پښتو يوه لرغونې آريايي ژبه ده چې د هندو اریاني ژبو په لويديځې څانګې پور اړه لري. ډار مستېټر پر ۱۸۹۴م. کال مړ دی.

هنري والټر بيليو:

هنري والټر بيليو انګرېز و. هغه مهال چې پلار يې په هندوستان کې د انګرېزانو په پوځ کې ماموريت درلود، په ۱۸۳۴م. کال د هند په نصير آباد کې زېږېدلی دی.

هنري بيليو طبي زده کړې کړې وې او د انګرېزانو په پوځ کې ډاکټر و. د امير دوست محمد خان د واکمنۍ په مهال يې کندهار ته هم په يو سياسي پلاوي کې راغلی و. د امير له زوی سردار غلام حيدرخان سره يې چې هغه وخت د کندهار والي ليده کاته کړي وو.

د طب ډاکټر و، خو پښتو ژبه يې ښه زده کړې وه. د پښتو ژبې او قوم په هکله يې ډېرې څېړنې او ليکنې کړې دي، د ځينو نومونه يې دا دي:

۱ــ د پښتو ګرامر چې لومړی ځل په ۱۸۸۶م. کال په لندن کې چاپ شوی دی.

۲ــ پښتو انګريزي قاموس (۱۸۶۷م. کال چاپ)

۳ــ افغانستان او افغانان (۱۸۷۶م. کال چاپ)

٤ــ د افغانستان قومونه (۱۸۸۷م. کال چاپ)

۵ــ د افغانستان د قوم پېژندنې څېړنه (۱۸۹۱م. کال چاپ).

سربېره پر دې آثارو يې زموږ د پنجاب، سرحد او د يوسفزو په باره کې عمومي رپوټ او له اباسين څخه تر دجلې پورې په نومونو آثار ليکلي او چاپ کړي.

بيليو داسې پښتو زده کړې وه چې د امبالې په کنفراس کې يې د امير شېرعلي خان د پښتو وينا انګريزي ژباړه وکړه. دغه ختيځ پوه په ۱۸۸۶م. کال د انګرېزانو په پوځ کې له دندې تقاعد وکړ او په ۱۸۹۲م. کال مړ شو.

لکه چې دمخه مو يادونه وکړه د بهرنيو پښتو پوهانو شمېر زيات دی، د ټولو نومونه هم په دې ليکنه کې نه شي راتلای. د بېلګې په توګه د پخوانيو او معاصرو پوهانو له ډلې څخه د الفنسټون، جان ليډن، توربرن، جان ګورډان لاريمر، روس کيپلې، ډاکټر ميکنزی، هاول، برنز، کلاپروت، ترومپ، مارګنسټرن، ليبيديف، ډاکټر هربرت پنزل، پروفيسور د وريانکوف د نومونو په يادونه بسنه کوو، پورتنيو ليکوالو هره يوه د پښتنو د تاريخ، ژبې، ادب او کلتور په باب په انګرېزي، فرانسوي، روسي او نورو ژبو ځانګړی آثار ليکلي يا ژباړلي چې زياتره يې چاپ شوي دي.

د متن لنډيز:

هغه بهرني پوهان چې د ختيځو يا آسيايي هېوادونو په هکله يې ليکنې، څېړنې او مطالعات کړي، مستشرقين يا ختيځ پوهان ورته وايي. د دغو ختيځ پوهانو په ډله کې داسې اشخاص هم وو چې د پښتو ژبې، ادب، تاريخ او کلتور په باب يې ليکنې، څېړنې، او مطالعات کړي، دغو ليکوالو او څېړونکو ته بهرني پښتوپوهان وايي. د دوی ليکنې او څېړنې چې په هر نيت او موخه ترسره شوي، پښتون ولس ته يې عامه ګټه درلوده. دوی چې د پښتنو د ادب او تاريخ په باب ليکنې کړي، پښتو ادب يې په بهرنيو ژبو ژباړلی او دغه راز يې پښتانه نورې نړۍ ته ورپېژندلي دي. د پښتو ډېر قلمي آثار يې خپلو هېوادونو ته وړي او هلته يې خوندي کړي او له ورکېدو يې ژغورلي دي. د پښتو د منظومو او منثورو کلاسيکو آثارو ټولګې يې چاپ کړي چې زموږ لومړنيو څېړونکو له هغو څخه د معتبرو منابعو په توګه استفاده کړې ده. البته د دغو پوهانو ليکنې ځينې نيمګړتياوې او تېروتنې هم لري چې د هغو اصلي لامل د دغو پوهانو د پښتنو له ژبې او کلتور سره لږه او نيمګړې آشنايي ده، خو په عامه توګه د دوی ليکنې په علمي اصولو او معيارونو برابرې پوره او کره دي او موږ ورڅخه په څېړنو کې ډېره ګټه اخيستلای شو.

فعاليتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې د متن يوه يوه برخه په خپل وار سره ولولي، ښوونکی دې د اړتيا په وخت کې لازمې سمونې وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې يو يو د ټولګي مخې ته راوبلل شي چې د متن مفهوم په خپلو الفاظو کې نورو ټولګيوالو ته ووايي.

۳ـ زده‌کوونکي دې په دوو ډلو وویشل شي او دې ته وګومارل شي چې متن په چوپه خوله ولولي. لومړۍ ډله دې په متن کې راغلي د اشخاصو نومونه او دویمه ډله دې د کتابونو نومونه لست کړي. د هرې ډلې استازی دې هغه د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اشخاصو او کتابونو لست په ځانګړې توګه بشپړ او هغه دې د تختې پر مخ ولیکي.

٤ـ زده‌کوونکي دې د تختې پر مخ لیکلي لستونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. د اړتیا په وخت کې دې له ښوونکي څخه د هغو په باب لازم توضیحات وغواړي.

٥ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:

- مستشرق یا ختیځ پوه چا ته ویل کېږي؟
- د پښتون قام او پښتو ژبې په باب د بهرنیو پښتو پوهانو ترسره کړي علمي او فرهنګي کارونه موږ ته څه ګټه لري؟
- بهرنیو پوهانو د کومو موخو او هدفونو له مخې زموږ د هېواد او استوګنو قومونو په باب څېړنې او مطالعات ترسره کړي دي؟
- د پنځو مشهورو بهرنیو پښتو پوهانو نومونه واخلئ.
- د پنځو بهرنیو پښتو پوهانو لیکلو کتابونو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د کوم بهرني مستشرق (ختیځ پوه) لنډ ژوند لیک ولیکي او یا دې د هغوی کوم اثر معرفي او په راتلونکي پښتو لوست ساعت کې دې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

پندونه



ـ څوك د پند په معنا او مفهوم پوهېږي؟
ـ پند او نصيحت اورېدل او پرې عمل كول څه ګټه لري؟
ـ د چا پند بايد واورېدل شي؟

د پند لغوي معنا نصيحت او په اصطلاح كې د پوهانو، عالمانو او مشرانو هغه ويناوې دي چې د نيكو چارو د سر ته رسولو لپاره هڅوني او له ناوړه كارونو څخه د منعه كولو لپاره پكې لازمي لارښوونې شوې وي. پوهان، او مشران دغه ډول ويناوې د خپلې علمي پوهې او د ټولنيز ژوند د تجربو په رڼا كې د خپل مكلفيت او مسؤوليت له مخې نورو ته كوي. په دې لوست كې د خوشحال خټك يو شعر لولو چې ډېر غوره نصيحتونه پكې راغلي دي.

خپل استاد و ما ته ووې څو پندونه
هر یو پند یې مرغلرې دي لالونه

وې یې هره بدي کړه هغه بدمه کړه
چې له لاسه دې آزار شي د چا زړونه

که دې زړه دی چې بد نه مومې له چا نه
اول ته پرېږده د بد و خصلتونه

د شهوت په نغو ته مه څه شهوت اور دی
په دا اور د ډېرو سوي دي کورونه

د هر چا سره د ښو سلوك بايده دی
په بدی کې څه فايده ده کوم سودونه

د دنيا په مال د نيکو نوم حاصل کړه
تل جهان و چا ته نه پرېږدي مالونه

د هر چا سره نرمي ملايمت کړه
گوندې وي چې په دا خپل کړې د چا زړونه

هغه کار چې په نرمی تر سره کېږي
څه حاجت چې رساوه شي تر جنگونه

وهغو ته که قهر کړې روا دی
چې لري د بدو فعل بد خويونه

که دښمن دې ډېر زبون دی ځنې ډار کړه
په يوه بخري وسوځي ښارونه

د دښمن په تملق غلطي مه کړه
د رستم غوندې هم مړه دي په مکرونه

په خپلوانو باندې هومره خشم مه کړه
چې پردي در ځنې تښتي په ملکونه

د پيپلو پاڼې خوره نه هغه پاستې
چې يې خوري د نوکر يې په شرطونه

که عمل که وکالت که پيرو پلور دی
د هوښيار له لاسه ښه شي دا کارونه

له بد خويه سره هيڅ بدي ته مه کړه
غليمانو لره بس دي خپل خويونه

په هر کار کې چې در پيښ شي بيړه مه کړه
په تلوار سره ورانيږي جوړ کارونه

چې دې قول له چا وکړ نور يې مه کړه
تل په عهد قول ټينگ وي ښه ميړونه

په دروغ که په رښتيا وي سوگند مه خوره
منافق دی چې ډېر ډېر خوري سوگندونه

د حرص سترگې مړې په قناعت کړه
چې په کور کې دې انبار شي نعمتونه

د ښه دين لپاره علم دانش ښه دی
نه په دا چې پرې لوټې پردې مالونه

په جهان کې که مردان دي هم هغه دي
چې و سختي وته و نيسي ځانونه

که دې ورور دی که دې زوی دی چې بدکار شو
په څپيره يې کاږه کا ورميږونه

هر چې شرعه فرمايي په هغه کار کړه
مه عمل کوه په رسم په دودونه

په هر کار به دې لاس بر وي په ځوانی کې
که طاعت که عبادت که نور کارونه

په ځوانی کې چې دې کار له لاسه ووځي
په پيری به دې ور نه رسي لاسونه

همیشه اوسه خوله پټه لکه ناوې | چې ضرور شي هاله وکړه دوه حرفونه
که دې زړه دی چې دې عیب ښکاره نه شي | چاته مه شمیره د خلکو پټ عیبونه
چې توانیږې د هغه خبرې لاف کړه | او که نه په دروغ مه وهه لافونه

خدای هغه په دواړه کونه دې نمانځلي
چې په ورځ یې عدل و داد په شپه لمونځونه
(خوشحال خان خټک)

خوشحال خان خټک:

د پښتو ژبې پیاوړی شاعر، لیکوال، مؤرخ، سیاسي مشر او ملي مبارز و. په ۱۰۲۲ هـ. ق کال یې د پښتونخوا په سرای اکوړه کې د شهباز خان خټک په کور کې سترګې نړۍ ته غړولې وې. لږ و ډېر شپږ لسیزې یې د کلتور، فرهنګ او ننګ په ډګر کې قلم او توره غبرګ چلولې. په نظم او نثر یې ډېر کتابونه لیکلي او دپښتو ادب پانګې ته یې ستره بډاینه ور بخښلې ده. د ځینوآثارو نومونه یې دادي: د شعرونو دیوان (کلیات)، دستار نامه، بازنامه، طبنامه، فصلنامه، سواتنامه، بیاض (د پښتو تاریخ) فراقنامه، فالنامه، اخلاقنامه او نور .

خوشحال خټک په ۱۱۰۰ هـ ق کال د ۷۸ کلونو په عمر مړ دی.

د متن لنډیز:

د خلکو د زړو آزارول تر هرې ګناه بد او ناوړه عمل دی، باید چې په کلکه ترې ځانونه وژغورل شي. له بد خوی څخه ډډه وکړئ او خپله شهواني غریزه په واک او اختیار کې ولرئ. له هر چا سره غوره سلوك او ښه چار چلند کوئ، د دنیا مال په داسې چارو ولګوئ چې نیک نوم پرې تر لاسه کړئ، له هر چا سره نرمي کوئ، دښمن په تملق او چاپلوسي مه تېروځئ، له خپلوانو سره ډېر ښه چلند کوئ، هر څوك چې د پوهې او هوښیارۍ خاوند وي هغه هره چاره په ښه توګه تر سره کولی شي، په هیڅ کار

کې له بیړې او تلوار کار مه اخلئ. هر چار په غور او تدبیر تر سره کوئ. پخپله ژمنه او قول وفا وکړئ، پر خپله برخه قناعت کوئ اوله حرص څخه ځان وژغورئ. علم پوهه د خلکو د خیر ښیگڼې له پاره وکاروي، نه دا چې خلکو ته پرې زیان رسوئ.

کلک عزم او هوډ ولرئ او بدکاران د خپل عمل په سزا ورسوئ. هر کار د اسلامي شریعت مطابق کوئ په ناوړه دود او دستور پسې مه گرځئ، تل چوپه خوله اوسئ او بې ضرورته خبرې مه کوئ. که غواړې چې ستا عیب وساتل شي، لومړی ته د خلکو عیب پټ وساته او نور وته یې مه ښکاره کوه. هغه څه وایه چې تر وس او توان دې پوره وي، بې ځایه لافې مه وهه، هغه څوک په دواړه جهانه بریالي وي چې عادل او لمونځ گذار وي.

فعالیتونه

۱ـ د ښوونکي تر متن لوستنې او لازمو څرگندونو وروسته دې زده‌کوونکي متن په چوپه خوله په ډېر غور او دقت سره ولولي. بیا دې زده‌کوونکي په نوبت سره د شعر پنځه پنځه بیتونه د ټولگي په وړاندې ولولي.

۲ـ دوه دوه زده‌کوونکي دې په وار سره د ټولگي مخې ته را وبلل شي، یو دې د شعر یو بیت ووایي او بل دې د هغه معنا او مفهوم بیان کړي. دا لړۍ دې تر پایه تعقیب شي.

۳ـ زده‌کوونکی دې په څلورو ډلو وویشل شي: یوه ډله دې په متن کې مفرد نومونه، بله دې جمع نومونه، بله دې ښځینه نومونه او څلورمه دې نارینه نومونه لست کړي. بیا دې د هرې ډلې استازی خپل لست کړي نومونه د ټولگي په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د هرې ډلې د ترتیب کړي لست په سمون کې لازمه مرسته وکړي.

٤ـ زده‌کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته وبلل شي چې د شعر عمومي مفهوم په خپلو الفاظو نورو ټولګیوالو ته ووایي.

٥ـ د دې لاندې پوښتنو په مطرح کولو دې د لوست ارزونه وشي:

- بد خویونه او خصلتونه کوم دي؟
- نرمي او نیک چار چلند څه ګټه لري؟
- په ژمنه او وعده وفا کول څه ته وایي؟
- حرص څه ډول عمل دی؟
- د دنیا مال او شته باید په کومو چارو ولګول شي؟
- د منافق خصلتونه کوم دي؟
- بې ځایه لافې شافې څه ډول عمل دی؟
- رښتیا ویل کومې ګټې او درواغ کوم زیانونه لري؟

٦ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې دا لاندې متن (غوره مشورې) ولولي او د هغه مفهوم دې په خپلو الفاظو ولیکي:

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه پر دې لاندې بیت:

هـر چـې شـرعـه فـرمـایـي پـر هغه کـار کړه
مــه عــمــل کــوه پــه رســم پــه دودونـــه

څو کرښې ولیکي، د راتلونکي پښتو لوست په ساعت کې دې هغه د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

غوره مشورې

وايي چې يو ځوك په سفر روانېدو. له يوه هوښيار سړي سره يې په دې باره کې مشوره وکړه چې په سفر کې له چا سره ملګرى شي او له چا څخه ځان وساتي؟
هغه ورته وويل: ((په سفر کې له هغه چا څخه په ډډه ګرځه چې احسان نه مني، بې سببه غوسه ورځي. د قيامت د ورځې پروا نه لري. تېګ، درواغجن، نفس پرست، بې حيا او په هر چا بدګومان کوي.))

بيا يې وويل: ((له هغه چا سره د دوستۍ او ملګرتيا هڅه کوه چې نيکي نه هېروي. له دوستانو او ملګرو څخه په بده ورځ او تنګسه کې لاس نه اخلي. وينا او عمل يې دواړه ښه وي. کبر جن نه وي. عقل يې پر قهر زورور وي. بې له کومې طمعې او توقع سخاوت کوي. ادبناك وي. ملګرتيا او دوستي يې له ښو خلکو سره وي.))

سړى پر سفر ولاړ. په دغو مشورو يې عمل وکړ چې له سفره راستون شو، د هغه په مشوره او پندونو ډېر خوښ و. خواته يې ورغى او کور ودانى يې ورته ووايه.

چې په خپله پوهه نه وي، ښه هغه دى
چې د بل سړي په پند پسې روان شي
په يوه بخري وسوزي درست کلى
په يوه خبر ولاړ واړه ايمان شي

کانکور ازمويني ته چمتووالی خبري اترې



ـ کانکور ازموينه د څه لپاره اخيستل کېږي؟

زده کوونکي په دولسم ټولګي کې د ثانوي دورې زده کړې پای ته رسوي. وروسته د هېواد د لوړو زده کړو په مؤسسو پوهنتونونو، انستيټيوټونو او د ښوونکو د روزنې په مؤسسو (دارالمعلمينو) کې د لوړو زده کړو د سرته رسولو په موخه د کانکور آزموينه ورکوي. د هرې تعليمي مؤسسې د ټاکلو معياري نومرو د تر لاسه کولو په نتيجه کې هغې ته بريالی او لوړې زده کړې پکې کوي. په دې لوست کې مو د کانکور آزمويني ته د زده‌کوونکو د چمتووالی په اړه د خبرو اترو په بڼه ځينې ضروري لارښودي معلوما ت راوړي. دا معلومات به له تاسې سره آزمويني ته د چمتووالي او هم پر ښتو ژبه د خبرو کولو د ځواک په پياوړتيا کې مرسته وکړي.

جمال: جاویده که خدایﷻ کول خو میاشتي وروسته به له مکتب نه فارغ شو.

جاوید: هو که د خدایﷻ رضا وه، خو ته را ته دا ووایه چې پوهنتون هم وایې او کنه؟

جمال: انصاف دي روزي شه پوهنتون څنګه نه وایم!

جاوید: آفرین! اوس خو چې پوهنتون یې نه وي ویلی څوک ورته بیخي وظیفه نه ورکوي.

جمال: ته څنګه؟ کانکور امتحان ته دې تیاری نیولی کنه؟

جاوید: هره ورځ مو په مکتب کې درس ویلی، نور نو ورته څنګه آمادګي ونیسم.

جمال: و ساده ګله، یوازې د ښوونځي په درس ویلو ته پوهنتون ته نه شي کامیابیدای.

جاوید: ولې؟

جمال: ځکه چې د مکتب درسونه چې صنف تېر شي، نو بیا هېر شي، کانکور امتحان ته باید ښه درس وویل شي.

جاوید: ما خو بل چېرته درس نه دی ویلی تا ورته تیاری نیولی؟

جمال: که رښتیا درته ووایم زه په کور کې هره ورځ د تېرو ټولګیو درسونه له ځان سره تکراروم.

جاوید: د تېرو صنفونو درسونه خو ډېر زما بېرته له یاده وتي دي، ستا په یاد دي، خیر دی له ما سره هم مرسته وکړه!

جمال: جاویده انډیواله زما هم پوره یاد نه دي، بس هسې ځان مې مصروف کړی دی.

جاوید: ما اوریدلي دي د کانکور امتحان ډېر سخت وي، دا به څنګه کوو؟

جمال: زه هم دا څو ورځې کېږي چې همدغه سوچونه وهم چې څه به کوم؟

جاوید: هو رښتیا جمال په یاد مې شول.

جمال: څه شی، درسونه در په یاد شول؟

جاوید: نه، نه درسونه نه د جانداد ماما زوی منیر مې را په زړه شو.

جمال: نو په منیر باندې څه کوې؟

جاوید: و د خدای تعالیٰ نیکبخته، هغه پرو سږکال له مکتب نه فارغ شو د کانکور امتحان یی ورکړ.

جمال: ښه! پوهنتون ته کامیاب شو؟

جاوید: کامیابیدل خو څه کوې په ډېرو لوړو نومرو د انجنیرۍ پوهنځي ته کامیاب شو.

جمال: آفرین يې، څونه ښه، خیر داسې کوو چې خواته يې ورځو ورسره خبرې کوو.

جاوید: خو ما هم درته همدا ویلې چې ورځو څه لاره ګودر به را وښيي.

جمال: څه چې ځو.

منیر: او هو جمال او جاوید جانه ستړي مه شئ، پخیر راغلئ؟

جمال، جاوید: خوار مه شې.

منیر: خیریت خو دی ښنګه مو دېخوا پېښه وکړه؟

جاوید: خیروخیریت دی، هسې له تا سره مو یوه مشوره کوله.

منیر: ولې نه سل مشورې خو به وکړو، راځئ دلته کښېنئ، ښه نو ووایئ څه خبره ده؟

جمال: منیر جانه موږ څو میاشتې وروسته له ښوونځي فارغېږو.

جاوید: بیا به له خیره سره د کانکور امتحان ورکوو.

منیر: دا خو به ډېره ښه شي.

جمال: خو موږ غواړو چې ته راته ووایې چې څه رقم درس دې ویلی و چې ښې نومرې دې واخیستې او انجنیري پوهنځي ته کامیاب شوې؟

جاوید: زموږ مطلب دادی چې امتحان ته دې څه ډول تیارې نیولی و چې موږ هم هماغسې وکړو، که خدایﷻ مو کامیاب کړي.

منیر: اول خو داسې و چې ما د مکتب په دوران کې هره ورځ خپل درسونه تکرارول.

جمال: ښه دا کار خو یوڅه اندازه موږ هم کړی دی.

منیر: دویم دا چې په خپل کلي کې مې له استاد نه د ریاضي او فزیک درس وایه او د

کانکور لاړښود کتابونه مې هم مطالعه کول.

جاوید: دا کار خو تر اوسه پورې موږ نه دی کړی.

منیر: نو تاسو کولی شئ یو استاد ته څه پیسې (فیس) ورکړئ چې درس درته ووایي.

جمال: ښه دا کار خو به موږ وکړو تا نور څه وکړل؟

منیر: نور دا چې موږه د صنف تکړه او لایقه شاګردان به را غونډ شو، پېتو ته به لاړو د یوې ونې لاندې به کېناستو هر څوک چې په کومه برخه کې ښه پوهېده له نورو همصنفیانو سره به یې په هغه برخه کې مرسته کوله.

جاوید: څونه ښه، هلکه جماله ستا چې څه شی یادوي ماته به یې راښیې او زما چې څه یاد وي تاته به یې در ښیم.

جمال: بېخي سمه ده، منیر جانه تا خو په کورس کې درس نه دی ویلی.

منیر: ولې نه، مکتب په آخر کال کې مې د مکتب ټول کتابونه په کورس کې هم ولوستل، تاسو هم کولی شئ که وس یې ولرئ په کورس کې ځانونه شامل کړئ.

جاوید: هلکه جماله بالکل په کې ځان شاملوو.

جمال: هو دا کار به هم انشاءالله کوو، ښه منیر جانه نور څه وکړو؟

منیر: بل دا چې د ورځې یو ساعت خو زه هم درسره درس ویلی شم، دا کومک به زه درسره وکم.

جاوید: که دا کار وکړې څو نه به ښه شي.

جمال: منیر جانه کور دې ودان چې موږ ته دې ښه لاره وښودله.

منیر: هیڅ خبره نه ده، دا خو پر ما فرض دي چې له هر شاګرد سره مرسته وکړم.

جاوید: ښه نو منیر جانه موږ به تر دې وروسته خپلو همصنفیانو سره هم درس وایو، په کورس کې به هم ځانونه شامل کړو او تا ته به هم راځو، که خدای پاک مو کامیاب کړي.

منیر: انشاءالله هر څه به سم شي، په مخه مو ښه.

د متن لنډيز:

له دولسم ټولګي څخه تر فارغيدو وروسته زده‌کوونکي په پوهنتون کې د شامليدو لپاره د کانکور د آزموينې پړاو تېروي، کوم زده‌کوونکي چې لوړې يا زياتې نومرې واخلي هغه د پوهنتون غوره پوهنځيو ته، لکه د طب پوهنځی، د انجنيرۍ پوهنځي، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، د اقتصاد پوهنځی او يو شمېر نورو پوهنځيو ته لاره موندلی شي. هغه څوک لوړې او ښې نومرې د کانکور په آزموينه کې تر لاسه کولای شي چې د ښوونځي په دوره کې يې سم لوست او زده کړه کړې او نور اضافي معلومات يې په خصوصي کورسونو کې تر لاسه کړي وي، دا چې تاسو او ستاسو ټولګيوال پوهنتون ته لاره ومومئ غوره لاره داده چې د ښوونکي لوست ښه زده کړي، که چېرته په لوست کې ستونزې ولرئ په ګډه سره نوموړی لوست ولولئ. او هغه ستونزې د يو بل په مرسته حل کړئ.

او په ځانګړو کورسونو کې د رياضي او ټولنيزو علومو په برخه کې نور معلومات هم تر لاسه کړئ، دا کار له تاسو سره د پوهنتون د کانکور په آزموينه کې ډېره ښه مرسته کولای شي.

فعاليتونه

۱ـ د خبرو په وخت کې دې زده‌کوونکي غوږ ونيسي چې د کلمو په سم تلفظ او د جملو په جوړولو پوه شي.

۲ـ زده‌کوونکي دې د خبرو اترو په وخت کې مشکل لغتونه ياد داشت کړي او د محاورې په پای کې دې له ښوونکي څخه د هغو پوښتنه وکړي.

۳ـ زده‌کوونکي دې له خبرو وروسته د پوهنتون د کانکور د آزموينې د ارزښت په هکله څو جملې په خپلو کتابچو کې وليکي او بيا دې څو تنه د خپلو ټولګيوالو په استازيتوب

نوموړې جملې ووايي.

٤ــ څو زده‌کوونکي دې په وار سره د ټولګي مخې ته راشي، د کانکور د آزموینې لپاره دې د تیارې نیولو په پړاوونو خبرې وکړي.

٥ــ یو زده‌کوونکی دې د تختې مخې ته راشي، د څو غوره پوهنځیو نومونه دې پر تخته ولیکي او نور زده‌کوونکي دې په خپلو کتابچو کې په جملو کې استعمال کړي، بل زده‌کوونکی دې په وار سره دغه جملې ټولګیوالوته ووایي.

٦ــ څو تنه زده‌کوونکي دې د ټولګي مخې ته ورشي دجمال او جاوید د خبرو څخه په الهام اخیستلو سره دې د لوړو زده کړو د ګټو په برخه کې خبرې اترې وکړي.

٧ــ څو زده‌کوونکي دې د هغو پوهنځیو په هکله خبرې وکړي چې خوښېږي یې او د خوښیدو لامل دې هم روښانه کړي.

٨ــ څو زده‌کوونکي دې ووايي کله چې له پوهنتون څخه د لیسانس دیپلوم تر لاسه کړي بیا به له خپلو زده کړو څخه په کومه برخه کې کار واخلي او څرنګه کار به وکړي.

٩ــ ښوونکی دې یو زده‌کوونکي ته دنده ورکړي چې د تختې مخې ته لاړ شي د پوهنځیو نومونه دې پر تخته ولیکي، بل زده‌کوونکی دې تختې ته راشي د هر پوهنځي په اړه دې یوه جمله جوړه کړي، ښوونکی دې له نورو زده‌کوونکو څخه پوښتنه وکړي چې تخته باندې لیکل شوې جملې سمې دي او که نه؟ او که چېرته دغه جملې غلطې او نیمګړتیا ولري خپله دې راشي او د هغو سمه بڼه دې ولیکي.

کورنۍ دنده

هر زده‌کوونکي دې د خپلې خوښې پوهنځي د ارزښت په اړه څو کرښې مقاله ولیکي، په راتلونکي یا بل پښتو درسي ساعت کې دې خپلو ټولګیوالو ته ووايي.

هنري ـ ادبي نثر



ـ څوک نثر را پېژندلی شي؟

ـ ادبي نثر له عادي نثر سره څه توپير لري؟

ـ تاسې کيسې يا ادبي ټوټې لوستي، له نورو عادي ليکنو سره څه توپير لري؟

د نثر لغوي معنا شيندل، يا پاشل او تيتول دي او په ادبي اصطلاح هغه وينا يا ليکنه ده چې د وزن او قافيې له قيد او بند څخه آزاده وي. پخوا نثرونه د بڼې له مخې په ساده، متکلفو، مسجع او قافيه لرونکو ډولونو باندې وېشل شوي وو، خو موږ اوسني نثرونه د بڼې له مخې په دوو سترو برخو: ساده يا عادي نثرونه او ادبي يا هنري نثرونو باندې وېشو. هنري يا ادبي نثرونه خپلې ځانګړنې لري چې پر هغو له عادي او ساده نثرونو څخه را بېلېږي. په هغو بنسټيزو ځانګړنو کې چې هنري يا ادبي نثر له ساده نثرونو څخه را بېلوي، هنري يا ادبي ارزښت دی. دلته په دې لوست کې ادبي يا هنري نثر در پېژنو او يوه ځانګړې بېلګه يې هم درته راوړو:

ادبپوهان اوسني نثرونه د بڼې او شکل له مخې په دوو سترو برخو بېلوي:
۱ــ ساده نثرونه   ۲ــ هنري ــ ادبي نثرونه

ساده نثرونه په ساده او روانه ژبه د فکر او نظر د څرګندولو او نورو ته د پوهې او معلوماتو د ور لېږدوني یوه ډېره ښه او اغېزمنه وسیله ده. په دې ډول نثرونو کې ټولې علمي، ادبي، تاریخي، سیاسي او ژورنالیستي لیکنې، څېړنیز او تحلیلي آثار راځي، خو هنري او ادبي نثرونه بیا خپلې بېلې ځانګړنې لري چې پر هغو له عادي او ساده نثرونو څخه را جلا کېږي.
هنریت یا ادبي ارزښت هغه ستره ځانګړنه ده چې ادبي او نورې عامې لیکنې سره بېلوي.
د هنري – ادبي نثر په لیکنه یا د نثري ادب په پنځونه او تخلیق کې د لیکوال ذوق، احساس او تمایل د یومطلب یا واقعیت د افادې او بیانولو لپاره اساسي نقش لري. لیکوال چې څه لیدلي، اوریدلي او احساس کړي او یا یې په ذهن او خیال کې تېرېږي، په هنري ادبي ژبه بیانوي. هغه د تحقیقي او علمي لیکنو په څېر دلیل راوړلو ته اړتیا نه لري.
د ادبي- هنري نثر په پنځونه (تخلیق او لیکنه) کې د لیکوال د تخیل ځواک ډېره ستره ونډه لري. خو د لیکوالۍ په دغه ډګر کې له دغه ځواک (تخیل) څخه مرسته غوښتل یوازې او یوازې تر هغې لازم دي چې پېښې ته د باور وړ ښکلا او ځلا ورکړي. په هغې کې د منلو او کشش داسې جذبه او قوت را پیدا کړي چې د اوریدونکي یا لوستونکي زړه او ذهن ته ژر او په اسانۍ لاره وکړي.
ادب څېړونکو د ادبي هنري نثر لپاره څو ځانګړنې یا د جوړښت توکي ښودلي دي چې دلته یې په ترتیب سره یادونه کوو:
لکه چې د مخه مو هم یادونه وکړه هنري ارزښت د ادبي نثر مهمه او بنسټیزه ځانګړنه ده.
تخیل د دغه هنري ارزښت لومړنۍ او اساسي برخه جوړوي او همدغه تخیل دی چې یوې ډېرې عادي پېښې ته ښکلا ور بخښي، ښه او لوړې ورته ټاکي. ټولې ادبي پدیدې که

څه هم هغه حقيقي او رښتينې ښکاري وي، د ليکوال يا شاعر د تخيل په وړانګو د ښکلا پوړ ته رسېږي.

په ادبي – هنري نثر کې د ليکوال تخيل او تصور ارزښتمنه ونډه لري. ليکوال د خپل تخيلي ځواک په ملتيا د ليکوالۍ د هنر د فني مهارتو په وسيله په الفاظو او کلمو کې د منظر کښنې او صحنې جوړونې چارې په ډېر دقت سر ته رسوي او حالات يا واقعيتونه په الفاظو کې داسې انځوروي چې لوستونکی يا اوريدونکی فکر کوي چې هر څه په خپلو سترګوويني او ځان کټ مټ په صحنه کې شامل احساسوي.

ساده ګي او رواني هم د هنري ـ ادبي نثرونو ځانګړنه ده. په پخوانۍ انشاء او ليکوالۍ کې له ذهن او محاورې څخه لرې کړ کيچنې او پېچلې کلمې د ليکنې لوړ معيار بلل کېده، خو اوس دغه ډول ليکنه هيڅکله ادبي معقوليت او مقبوليت نه شي تر لاسه کولی. څومره چې يوه ليکنه ساده، طبيعي، عام فهمه وي، لوړ ادبي ارزښت لري.

د وينا او خبرې زړه راښکون هم د هنري ـ ادبي نثرونو ډېره غوره ځانګړنه بلل کېږي چې هغه د لوستونکي يا اوريدونکي پر ذهن د معنا او مفهوم د اغيز لپاره ډېره ګټوره ده. زړه راښکونکې خبره د ليکوال فکر او عواطف په ډېرې چټکۍ او اسانۍ لوستونکي يا اوريدونکي ته ور انتقالوي، د ليکوال او اوريدونکي د ذهني فضاء په پيوستون کې ډېره مرسته کوي.

د لفظ او معنا برابري هم د هنري – ادبي نثر يوه ځانګړنه ده. ادبي نثرونه بايد داسې وي چې لوستونکی يا اوريدونکی يې له معنا پرته بل څه ته پاملرنه و نه کړي يا په بله وينا ليکوال بايد په دغه ډول نثرونو کې الفاظ له معنا څخه قربان نه کړي او ليکنه يې بايد داسې بڼه ونه لري چې معنا او مفهوم په الفاظو کې ورک شي.

نو ويلای شو: ادبي ـ هنري نثرونه د ليکنې د سبک له مخې له نورو عادي نثرونو سره جوت توپير لري، تخيل، منظر کښنه، ساده ګي او رواني، د وينا او خبرې زړه راښکون يې د جوړښت ډېرې مهمې ځانګړنې دي چې د لوستونکي ـ اوريدونکي معنوي او روحي تنده خړوبوي، ژورې اغيزې پرې ښندي، احساسات او عواطف يې لړزوي. د هنري ـ

ادبي نثرونو ډېر ژانرونه او ډولونه زموږ په ادب کې دود دي چې دهغو ډېرې غوره بېلګې او پياوړي ليکوال لرو. په دغو ډولونو کې: لنډه کيسه، ناول يا رومان، ډرامه، طنز، ادبي ټوټه، ادبي ليکونه، ادبي راپورتاژ، ادبي يونليک (سفرنامه) ادبي ځان پيښې (خاطرات) ادبي ژوند ليک، تکل، ادبي انځور، فلمي سناريو او ننداريک (نمايشنامه) شامل دي. دلته يوه ادبي ټوټه د هنري ـ ادبي نثر د بېلګې په توګه راوړو:

ژوند

د يوې چينې اوبه دي، څوک يې د زرو په جام کې څښي، څوک يې د خاورو په کنډولي کې.

هغه چې نه دا لري نه هغه، په لپه کې يې را اخلي.

په اوبو کې هيڅ فرق نشته، فرق په لوښو کې دی.

د شاه او ګدا فرق په لوښو کېږي.

د اوبو په خوند هغه څوک پوهېږي چې ډېر تږی وي.

هغه لاروی چې له بيديانه ستړی ستومانه راځي او تنده يې ډېره زياته ده دا اوبه ډېر خوند ورکوي.

هغه دهقان چې په سره غرمه کې يوې کوي او خولې پرې را ماتې دي، دا اوبه د هغه د پاره ډېر لوی نعمت دی.

يو شپون چې له غره نه تږی را کوزېږي او په چينه باندې خوله ږدي د اوبو په خوند ډېر ښه پوهيږي.

يو بل سړی چې يخ سيوري ته په ارامه چوکۍ ناست دی، ښايسته صراحي يې له ځنګه ايښې دی له اوبو نه خوند نه شي اخيستلی.

هو! ده د لارويو او شپنو تند نه ده ليدلې.

په سره او تکنده غرمه کې يې لوونه نه دي کړي، ځکه هغه تلوسه په ده کې نه شي پيدا کيدای. چا چې لوږه او تنده نه ده ليدلې، هغه د خوړو او اوبو پوره خوند هم نه دی ليدلی او د ژوند په کيف نه دی پوه شوی.

(د الفت غوره نثرونه)

گل پاچا الفت د میر سید پاچا زوي، په ۱۲۸۸هجری لمریز کال د لغمان په عزیز خان کڅ کې زیږیدلی و. د پښتو ټولنې غړی او څو کاله یې د دغې علمي او فرهنگي اداري د مشرۍ (ریاست) چارې هم تر سره کړې. د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال، شاعر او کره کتونکی و. په لس گونو علمي ادبي ځانگړې آثار او په سل گونو مقالې یې په مطبوعاتو کې خپرې شوي دي. د ۱۳۵٦ لمریز کال د لیندۍ په ۲٦ نېټه وفات شوی دی. غوره نثرونه یې د ادبي ټوټو ټولگه ده چې په ۱۳۳٦ لمریز کال د پښتوټولنې له خوا چاپ شوې ده.

د متن لنډیز:

اوسني نثرونه په دوه ډوله دي: ساده یا عادي نثرونه او هنري یا ادبي نثرونه.

ساده نثرونه په ساده او روانه ژبه نورو ته د فکر او نظر د څرگندولو یوه اغیزناکه وسیله ده، خو هنري نثر نورې ډېرې داسې ځانگړنې لري چې د هغو په اساس له ساده او عادي نثرونو څخه را بېلېږي. په دغو ځانگړ نو کې تخیل، ساده گې او رواني، د خبرې زړه راښکون، د لفظ او معنا برابري او نور شامل دي. په دغه ډول نثرونو کې معلومات د تخیل د ځواک د احساس او عاطفې په خُم کې رنگ او لوستونکي ته په داسې خوږه، رنگینه ادبي ژبه وړاندې کېږي چې د هغه په زړه او ذهن ډېر ژر او په آسانه اغېزه کوي.

فعالیتونه

۱_ د ښوونکي د متن لوستنې او لازمو څرگندونو څخه وروسته دې زده‌کوونکي په خپل وار د متن یویو پراگراف ولولي.

۲_ زده‌کوونکي گومارل کېږي چې متن په غور او دقت سره ولولي او په هغه کې فعلونه په نښه او لست کړي.

۳_ هر زده‌کوونکی لست کړي فعلونه د ټولگي په وړاندې لولي، ښوونکی په متن کې د راغلیو فعلونو لست توحید او بشپړوي او هغه د تختې پر مخ لیکي.

٤ــ زده‌کوونکي ګومارل کېږي چې پر تخته لیکل شوي فعلونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او هغه د درېګونو زمانو (حال، ماضي، استقبال) په لحاظ په مناسبو جملو کې استعمال کړي.

فعل: هغه کلمې ته وایي چې په یوه زمانه یا ټاکلي وخت د یو کار یا یوې پېښې په کېدو یا د یو حالت په را څرګندېدو دلالت کوي.

د زمانې په لحاظ د فعل ډولونه: په درې ډوله دي: تېر مهال (ماضي) اوسمهال(حال) راتلونکی مهال (مستقبل).

تېر مهال (ماضي) فعل: د یو کار تر سره کېدل یا د یوې پیښې کېدل په تېره زمانه کې بیانوي.

حال فعل: په اوسنۍ زمانه کې د یو کار یا یو حالت تر سره کېدلو دلالت کوي.

راتلونکی فعل: چې په راتلونکې زمانه کې د یو کار په سرته رسولو یا د یو حالت په بیانولو دلالت کوي.

٥ــ زده‌کوونکي دې د ټولګي مخې ته را وبلل شي چې د "ژوند" ادبي ټوټې مفهوم په خپلو الفاظو نورو ټولګیوالو ته ووایي.

٦ــ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:

- اوسني نثرونه د بڼې له مخې په کومو سترو برخو ویشل شوي دي؟
- عادي نثرونه څه ډول نثرونه دي؟
- هنري ــ ادبي نثرونه څه ډول نثرونه دي؟
- د هنري ــ ادبي نثر سترې ځانګړنې او د جوړښت توکي کوم دي؟
- تاسي د ادبي ــ هنري نثر کوم ډولونه پېژنئ؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په کور کې په ادبي ژبه یوه لنډه کیسه، یا لنډه ادبي ټوټه چې د هنري نثر ځانګړنې پکې جوتې وي، ولیکي او د پښتو لوست په راتلونکي ساعت کې دې هغه نورو ټولګیوالو ته واوروي.

د کندهار پښتو ادبي انجمن



ـ تاسي د ((ادبي انجمن)) یا ((ادبي ټولنې)) په معنا او مفهوم پوهیږئ چې څه ته وایي؟

ـ د کوم ادبي فرهنگي انجمن او ټولنې له نوم او فعالیتونو سره آشنا یاست؟

ادبي انجمن، ادبي او فرهنگي ټولنې ته وایي چې په هغې کې یوه ډله ادبیان (لیکوال او شاعران) را ټول او د ادبي ـ فرهنگي چارو په سر ته رسولو بوختېږي.

زموږ په هېواد کې د دې هجري لمریزې پېړۍ له پیل نه تر اوسه پورې دغسې زیات شمېر ادبي ـ فرهنگي ټولنې را مینځته شوي او ډېر د قدر وړ فرهنگي خدمتونه یې تر سره کړي دي.

یوه له دغو ادبي ـ فرهنگي ټولنو (انجمنونو) څخه د کندهار ادبي انجمن دی چې په دې لوست کې یې درپېژنو.

د ۱۳۰۷ لمریز کال کورني اړ دوړ له پای ته رسېدو وروسته چې زموږ په هېواد کې د سیاسي، اقتصادي او نورو ټولنیزو برخو تر څنګ د علم او فرهنګ د ودې او پر مختیا لپاره لارې چارې برابرې شوې، په پلازمینه کابل، هرات او کندهار کې ادبي انجمنونه جوړ او په عملي فرهنګي فعالیتونو یې پیل وکړ.

د ادبي انجمنونو د رامینځته کېدو په لړ کې د کندهار پښتو ادبي انجمن په ۱۳۱۱لمریز کال تاسیس شو.

ددې ادبي انجمن په را مینځته کېدو کې د ارواښاد وزیرمحمدګل خان مومند لوی لاس و.

نوموړی چې دغه مهال د کندهار تنظیمه چارو رییس و، ددغه انجمن د پرانیستو په غونډه کې یې د هغه موخې او دندې داسې وښودلې:

- په پښتو ژبه د یوې علمي، ادبي، اجتماعي او تاریخي مجلې خپرول.
- له بېلابېلو قبیلو څخه د پښتو لغاتو را ټولول او تدوین کول.
- د پښتو د چاپي او قلمي کتابونو را ټولول.
- د ادبي آثارو د تالیف او تصنیف لپاره د لیکوالو هڅونه.
- د پوهنې وزارت د ښوونځیو او مدرسو د درسي کتابونو پښتو ژباړې تهیه کول.
- له نورو ژبو څخه پښتو ته د عصري ګټورو تاریخي، علمي، فني او نورو ډول ډول کتابونو را ژباړل.
- د انجمن د لیکوالو د استفادې لپاره د پښتو کتابونو د ملي کتابتون تاسیس چې پر پښتو کتابونو سربېره به نور ډول ډول کتابونه هم ولري.
- د یوې ادبي مجلې په خپرولو پښتو ژبې ته د ټول ملت پام را اړول.

ددغه ادبي انجمن په لومړیو غړیو کې د مولوي عبدالخالق واسعي، محمد اعظم ایازي، محمد عثمان بارکزی، حاجي عطا محمد خان، ملا بهاءالدین اسحق زی، حاجي عبدالغفور خان خروټی، مولوي قیام الدین خان خادم، محمد ګل خان لګیا (وروسته بیا نوري) عبدالغفورخان شرر او محمد نسیم نوري نومونه د بېلګې په توګه یادولی شو.

د کندهار پښتو ادبي انجمن د خپلې خپرنيزې تګلارې له مخې په بېلابېلو برخو کې فعاليت کاوه.

ځرنګه چې د انجمن د اساسنامې لومړۍ ماده د يوې علمي، ادبي او تاريخي مجلې د خپرولو په باب وه، نو ځکه يې په هماغه لومړيو کې د ١٣١١لمريز کال د مرغومي د مياشتې په پنځلسمه نېټه د ((پښتو)) په نامه يوه مجله خپره کړه چې د انجمن د له منځه تللو تر پای پورې يې خپلو خپرونو ته دوام ورکړ. دغې مجلې د خپل پنځه کلن خپرنيز ژوند په بهير کې ډېرې علمي، ادبي، تاريخي، فولکلوري، ژبنيو څېړنو او اقتصادي مسايلو په باب په زرهـ پورې مقالې او د ادبي هنري نثرونو او د غوره او ښکليو شعرونو ډېرې ښې بېلګې خپرې کړې دي.

د ادبي انجمن له خوا به ډېرې په زرهـ پورې طرحې مشاعرې هم جوړېدلې او شعرونه به يې د مجلې له لارې خپرېدل.

د کندهار ادبي انجمن د خپلو فرهنګي فعاليتونو په لړ کې يو شمېر کتابونه هم چاپ او خپاره کړي دي، لکه: ((معلم پښتو)) (دوه ټوکه) چې لومړی ټوک يې په ١٣١٣او دويم ١٣١٤لمريز کال چاپ شوی دی، ((پښتو خبرې)) (١٣١٥ لمريز)، ((پښتو ښوونکی)) چې ليکوال يې محمدعثمان او د چاپ کال يې ١٣١٦لمريز دی، او ځينې نور.

د کندهار ادبي انجمن له يو شمېر ليکوالو غړو سره په ١٣١٤ لمريز کال له کندهار ځخه کابل ته را وليږديد او د پوهنې په وزارت پورې اړوند شو. تر ١٣١٦ لمريز کال يې دلته په کابل کې فرهنګي او خپرنيز فعاليتونه درلودل، پښتو مجله او کتابونه يې خپرول. په دغه کال له کابل ادبي انجمن (چې دمخه په ١٣٠٩ لمريز تاسيس شوی و) سره يو ځای او له دواړو څخه ((پښتو ټولنه)) جوړه شوه چې تر ١٣٥٧ لمريز کال پورې يې د هېواد د لوړ علمي او فرهنګي مرکز په توګه د پښتو د ژبې د ودې او پرمختيا لپاره نه هېريدونکي او د ستاينې وړ خدمتونه وکړل.

د کندهار ادبي انجمن په خپل وخت کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ودې او د پښتو ليکوالو د روزنې او پالنې په لار او چار کې ډېره ارزښتناکه ونډه لرلې او ډېر غوره علمي، فرهنګي خدمتونه يې تر سره کړي دي.

د متن لنډيز:

دکندهار ادبي انجمن د وخت د دولت له خوا د يوې علمي، ادبي او کلتوري ادارې په توګه په ۱۳۱۱ لمريز کال په کندهار کې تاسيس شو. يو شمېر ليکوال او شاعران پکې د علمي او ادبي چارو د سر ته رسولو لپاره وګومارل شول. دغه ادبي انجمن تر ۱۳۱٤ لمريز کال پورې په کندهار کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ودې او پر مختيا لپاره ډېر ارزښتمن کارونه وکړل، بيا کابل ته راولېږدول شو. او د پوهنې د وزارت په چوکاټ کې يې علمي فعاليت پيل کړ. دوه کاله وروسته له کابل ادبي انجمن سره چې د مخه پر ۱۳۰۹ لمريز کال کې تاسيس شوی و، يو ځای شو او ((پښتو ټولنه)) ور څخه را مينځته شوه چې تر ۱۳۵۷ لمريز کال پورې يې د لوړ علمي ـ فرهنګي مرکز په توګه د پښتو ژبې او ادب د ودې او پر مختيا لپاره ډېر ارزښتمن خدمتونه وکړل او بيا يې پر بنسټ د افغانستان د علومو اکاډمي جوړه شوه.

فعاليتونه

۱ـ د ښوونکي د متن تر لوستنې او لازمو څرګندونو وروسته دې زده‌کوونکي متن په چوپه خوله ولولي.

۲ـ زده‌کوونکي دې په وار سره د متن يويو پراګراف د نورو ټولګيوالو په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اړتيا په وخت کې مرسته وکړي.

۳ـ زده‌کوونکي دې د ټولګي مخې ته را وغوښتل شي چې د متن مفهوم په خپلو الفاظو نورو ټولګيوالو ته ووايي.

٤ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې متن په چوپه خوله په ډېر غور او دقت سره ولولي او په هغه کې خاص نومونه په نښه کړي او بيا دې هر يو په نښه او لست کړي نومونه د ټولګي په وړاندې ولولي.

خاص نوم: هغه نوم دی چې یو ځانګړی وګړی (شخص) ځیز یا ځای نوموي،
لکه: کابل، کندهار، احمد شاه بابا او نور.

۵ـ ښوونکی دې د زده‌کوونکو د خاص نومونو له لست څخه یو مجموعي بشپړ لست د تختې پر مخ ولیکي. لومړی دې له زده‌کوونکو څخه و غواړي چې که د دغو اشخاصو او ځایونو څخه د کوم یو په هکله معلومات لري هغه دې د ټولګیوالو په وړاندې ووایي.
بیا دې ښوونکی د ځینو دغو مشهورو شخصیتونو په اړه زده‌کوونکو ته لازم معلومات ورکړي.

۶ ـ ښوونکی دې پر تخته دا لاندې کلمې ولیکي، دوه، دوه زده‌کوونکي دې تختې ته وروبولي چې یو یې معنا او بل یې په مناسبه جمله کې استعمال کړي.

۱ـ پرمختیا　۲ـ مهال　۳ـ هڅونه　٤ـ تګلارې　۵ـ بهیر　٦ـ لړ
۷ـ په زړه پورې　۸ـ ټوك　۹ـ روزنه　۱۰ـ ونډه

۷ـ پر لوست د زده‌کوونکو د زده کړې د کچې د پوهیدنې لپاره دې په دې لاندې پوښتنو سره ارزونه وشي:

- د کندهار ادبي انجمن څه وخت او چیرې جوړ شو؟
- د کندهار ادبي انجمن د جوړیدو موخې او هدفونه څه وو؟
- د کندهار ادبي انجمن په جوړیدو کې چا لوی لاس درلود؟
- د کندهار ادبي انجمن کوم فعالیتونه تر سره کړي دي؟
- د کندهار ادبي انجمن څه وخت کابل ته راغی او دلته یې چیرې فعالیت کاوه.
- د کندهار ادبي انجمن له کوم ادبي انجمن سره یو ځای شو او په نتیجه کې یې کوم علمي ـ ادبي مرکز را منځته شو؟

- د کندهار ادبي انجمن کوم کتابونه چاپ کړي دي؟
- د کندهار ادبي انجمن کومه مجله خپروله؟
- د کندهار ادبي انجمن څه وخت له منځه ولاړ؟

۸ـ ښوونکی دې په ګرامري لحاظ دا لاندې ناسمې جملې پر تخته ولیکي او له زده‌کوونکو څخه دې وغواړي چې د هغو سمه بڼه په خپلو کتابچو کې ولیکي:

- د انجمن کندهار ادبي خپروله مجله پښتو.
- کندهار انجمن ادبي خدمات وکړ پښتو ته ډېر.
- انجمن ادبي کابل له کندهار انجمن ادبي سره شو یو ځای.
- پښتو ټولنه شوه جوړه د یو ځای کېدو د کندهار انجمنونو او څخه کابل.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپله سیمه کې د کومې ادبي فرهنګي ټولنې او یا د هېواد د کومې ادبي ـ فرهنګي ټولنې په باب چې دوی معلومات لري، څو کرښې ولیکي او د پښتو لوست په راتلونکي درسي ساعت کې دې یې ټولګیوالو ته ولولي.

د نورو په عیبونو سترګې پټې کړئ، پر ځای یې خپلو عیبونو ته پام وکړئ. هغه فرصت چې د نورو د عیبونو په سپړلو کې تېروئ، په هغي کې خپل عیبونه اصلاح کړئ.

د شاعر زړه



ـ د شاعر په اړه څه پوهېږئ؟ څه ځانګړنې لري؟

ـ شاعر له عامو خلکو سره څه توپير لري؟

شاعر په عامه معنا هغه چا ته ويل کېږي چې شعر وايي. شاعر که څه هم په ټولنه کې له نورو خلکو سره يو ځای اوسي، خو احساس او ادراک، فهم او ځيرتيا يې له نورو سره توپير لري. هغه وړتيا چې د شعر جوړولو فطري استعداد ور په برخه کړي د هغې په اساس په ټولنه کې ډېر داسې څه ويني او احساسوي چې نور يې هغسې نشي ليدی يا يې نه وريام کېږي. نو له همدې امله شاعر ډېر دقيق، باريک بين، کره کتونکی، ځيرک او حساس وي. د ټولنې بدمرغی او ناوړتياوې ډېر ژر پيژني او هغه په پوره جرأت سره نوروته ښيي او د ژغورنې لار هم په ګوته کولی شي. د شاعر هيلې او آرزوګانې هم له نورو عامو خلکو ښخه لوړې، د احساس او عاطفې ځواک يې هم له نورو پياوړی وي. دلته په دې لوست کې د((شاعر زړه)) تر سر ليک د استاد قيام الدين خادم يو شعر لولو چې د اولس او ټولنې په وړاندې، د يو شاعر لوړې هيلې، ارمانونه او آرزوګانې پکې ډېرې ښې انځور شوې دي.

ډک له ارمانونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!
راز د آسمانونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

غم د ټول جهان کوي   نه پېژني ځان خپله
لوی تر جهانونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

خلک دي چې مړه پسې   دی ورته نظر نه کا
ما نه په سوالونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

سود یې په پیسو نه شي   کار یې په ټنګو نه شي
تیر له دې کارونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

دغه د پیسو غټان   دا د منصبو غټان
دوی ته په فکرونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

سپړي هغه غوټې چې   چانه دي سپړلي هیڅ
ډوب یې په چرتونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

غورځي، پرځي، ګرځي تل   نه غواړي آرام د ځان
تل په عذابونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

وايي چې دوزخ زمونږ   ولې دي جنت نه شي
تنګ له دې غمونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

کله په کتاب کې ډوب   کله په سحاب کې ډوب
کله په شعرونو دی   نه پوهیږم څه غواړي؟!

✵ ✵ ✵

دا جهان خو نه غواړي   بل له دې نه ښه غواړي
زړه دی د شاعر دغه   وګورئ چې څه غواړي؟!

(قیام الدین خادم)

قیام الدین خادم: د ملا حسام الدین زوی، په ۱۳۲۵هجري قمري کال د ننګرهار ولایت په کامه کې زېږېدلی، پیاوړی عالم، کره کتونکی، لیکوال، شاعر او مؤرخ و.

تر پنځوسو زیات ځانګړي چاپ او نا چاپ آثار لري او په سلګونو مقالې یې د هېواد په مطبوعاتو کې خپرې شوې. د ۱۳۵۸ لمریز کال د سنبلې پر شپږمه نېټه په کابل کې مړ او په کامه کې پخپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.

په منظومو آثارو کې یې د مرغلرو امیل، ښاروان او نصوص الحکم او په منثور و آثارو کې یې خیالي دنیا، نوې رڼا، نوی ژوندون د بېلګې په توګه د یادونې وړ دي.

د متن لنډیز:

په دې شعر کې د شاعر د لوړو هیلو او ارمانونو انځور په ډېر ښه ډول وړاندې شوی او په ګوته شوی چې یو رسالتمند او ژمن شاعر د ځان نه، بلکې د خپلې ټولنې، هېواد او ان دا چې د ټول انسانیت او بشریت په فکر کې وي. د مادي نړۍ عظمت او جلال ورته هېڅ وي او تل یې په معنویت کې فکر کوي. د ستونزو د حل داسې لارې ښيي چې نور عام وګړي یې نه پېژني او نه یې ورته پام وي. د ځان د هوساینې نه، بلکې د نورو د هوساینې او سوکالۍ په فکر کې دی او یو داسې سپېڅلی ژوند او نړۍ غواړي چې د مادیت پر ځای د معنویت پر ستنو او بنسټونو ولاړه وي. له ده سره تل د خلکو د نیکمرغۍ او سوکالۍ فکر وي. شاعر د خلکو د رنځونو او بد مرغیو د پېژندلو او هغو ته د حل لارو د پیدا کولو په هڅه او لټه کې دی.

فعالیتونه

۱ـ ښوونکی دې پر زده‌کوونکو په نوبت سره د شعر یویو بند یا کرۍ ولولي. له زده‌کوونکو سره دې د اړتیا په وخت کې مرسته وکړي.

۲ـ له زده‌کوونکو څخه دې وغواړي چې متن له ځان سره په ډېر غور او دقت ولولي او ستونزمنې کلمې یا لغتونه دې په نښه کړي.

۳ـ زده‌کوونکي دې په نښه کړې ستونزمنې کلمې په ترتیب سره ووایي او ښوونکی دې د هغو توحید شوی لست د تختې پر مخ ولیکي. هغه ستونزمنې کلمې او لغتونه چې ځینې زده‌کوونکي یې حل او معنا کولای شي، پر هغو دې معنا او پر تخته ولیکي. نورې پاتې دې پخپله معنا او پر تخته ولیکي.

٤ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې د لغتونو معناوې پخپلو کتابچو کې ولیکي.

۵ـ دوه ـ دوه زده‌کوونکي دې پورته کړای شي، یو دې د شعر یوه کرۍ لولي او بل دې د هغه معنا او مفهوم ټولګیوالو ته بیانوي، دا لړۍ دې په ټول ټولګي کې تر پایه پلې کړای شي.
ښوونکی دې د معنا په سمون او اصلاح کې د اړتیا پر وخت مرسته وکړي.

٦ـ ځیني زده‌کوونکي دې په خپله خوښه پورته کړای شي چې د ټول شعر د مضمون او محتوا په اړه چې څومره پوهېدلي، هغه دې نورو ټولګیوالو ته ووایي.

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه خپلې هغه هیلې او آرمانونه چې د هېواد، خلکو او ټولنې ته یې د خدمت په لاره کې لري، د هغو په هکله دې څو کرښې ولیکي او د پښتو لوست په راتلونکي درسي ساعت کې دې نورو ټولګیوالو ته واوروي.

د پښتو ولسي ادبیات



ـ تاسې په خپل کورو کلي یا سیمه کې داسې څوک پیژنئ چې په لیك او لوست نه پوهېږي، خو شعرونه وایي؟

ـ په کورو کلي کې مو له چا څخه داسې کیسې او نکلونه اوریدلي دي چې نکل چیان پکې منځ تر منځه نارې یا غږونه هم وایي؟

ـ داسې څوک مو لیدلي چې پخپلو خبرو کې متلونه اصطلاحات او محاورې کاروي؟

هره ژبه دوه ډوله ادبیات لري: یو یې هغه ادبیات دي چې لیکلې بڼه لري او د ټولنې د با سواده وګړو له خوا رامنځته شوي وي او په کتابونو کې خوندي دي. بل هغه ادبیات دي چې د ټولنې د نالوستو یا (بې سواده) یا عامو وګړو له خوا را منځته شوي او په شفاهي توګه له یوه نسل ته لیږدیدلي وي، دې ډول ادبیاتو ته ((ولسي ادبیات)) وایي .
پښتو ژبه ددغه ډول ادبیاتو له اړخه ډېره غني ده، په دې لوست کې یې درپېژنو.

په عمومی ډول د ولسي ادب د پېژندنې لپاره ویلای شو: ولسي ادب هغه ادب دی چې د یوې ټولنې د عامو ولسي یا په بله وینا د نا لوستو وګړو له خوا را منځته شوي وي.

دا چې د یوې ژبې ټول لیکلي (تحریري) او نا لیکلي (شفاهي) منظوم او منثور هنري آثار ادبیات ګڼل کېږي، نو همدې پېژندنې ته پاملرنه ولسي ادبیات د هر ملت او ولس د ادبیاتو په تاریخ کې ډېره ارزښتمنه ونډه او نقش لري او دهغو له یادونې او مطالعې پرته د یوې ژبې د ادبیاتو مطالعه نیمګړې ګڼل کېږي.

ولسي ادبیات چې د ((فولکلوري ادبیاتو))، ((شفاهي ادبیاتو)) او ((عامیانه ادبیاتو)) په نومونو هم یادېږي، معمولاً شفاهي بڼه لري، په هغو ټولنو او ولسونو کې ډېر زیات او پیاوړي وي چې د لیک لوست (سواد) خپرېدنه پکې ډېره نه وي عامه شوې او وګړي یې د سواد له نعمت څخه بې برخې وي.

زموږ هېواد او ټولنه هم چې د ځانګړو سیاسي، ټولنیزو ، اقتصادي ، فرهنګي او جغرافیوي عواملو له مخې د دغسې ټولنو او ولسونو د کتار په سر کې راځي، نو ځکه پکې د لیکلو ادبیاتو په پرتله ددغه ډول (ولسي) ادبیاتو پانګه درنه ده.

دلته ددې خبرې یادونې ته اړتیا لیدل کېږي، چې زموږ په هېواد کې بېلا بېل قومونه استوګنه لري، ددغو اوسېدونکو قومونو د اولسي یا شفاهي او فولکلوري ادبیاتو خومره والی او څرنګوالی سره لږو ډېر توپیر لري.

پښتانه د افغانستان د اوسېدونکو قومونو د یوې لویې برخې په توګه د ولسي یا نالیکلو او فولکلوري ادبیاتو له ډېرې سترې پانګې څخه برخمن دي چې دلته یې د ولسي ادبیاتو په عمومي ډولونو او ځانګړنو ډېر لنډ بحث کوو.

د پښتو ولسي ادبیاتو د پښتنو د هنري استعدادونو څرګندوی او ددغه ولس او قوم د ټولنیز ژوند هېنداره ده. د ادبیاتو دغه برخه د ولس د نورو ایجاداتو په څېر د اړتیاوو له مخې را منځته شوي او د خلکو له ژوندانه سره یې اوږه په اوږه یون کړی دی او د پښتون ولس د ژوندانه خواږه، ترخه ، پوهې او تجربې، لوړې او ژورې، ښې او بدې یې پخپله پراخه لمنه کې را نغښتې او خوندي کړې دي.

پښتون ولس دزماني په اوږده تاريخي بهير کې خپلې هيلې او ارمانونه، خوښۍ، غمونه او رنځونه، د مينې احساسات او جذبې او لنډه دا چې د ټولنيز ژوندانه ټول کړه وړه په دغو ولسي ادبياتو کې خوندي او منعکس کړي او په شفاهي توګه يې له يوه نسل څخه بل ته لېږدولي دي.

د لېږدونو په دغه بهير کې د پښتو ولسي ادبياتو ډېره زياته برخه هېره شوې او ورکه شوې ده، يا په بله وينا: د دغو ولسي ادبياتو د راويانو په له منځه تللو سره د دغه وخت ويل شوي او را منځته شوي د ولسي ادب بېلا بېل ډولونه هم له منځه تللي دي، نو له همدې امله موږ د دغو ادبياتو ډېرې لرغونې نمونې اوس په لاس کې نلرو، بيا هم د ولسي ادب هغه ډېره لږه برخه چې پاتې ده او له بېلا بېلو لارو له هېرېدنې او ورکېدنې ژغورل شوې او تر موږ رارسيدلې ده، د هغو بېلا بېلو ډولونو ته په کتنې سره ويلای شو چې: د پښتنو عامو ولسي وګړو که ليک لوست نشو کولی او د سواد له نعمت څخه بې برخې وو، خو ډېر پياوړی هنري ذوق او احساس يې درلود، چې هغه يې ددغو ادبياتو په بېلابېلو کالبونو کې ورځای کړي او په ډېره په زړه پورې بڼه بيان کړي دي او د ولسي ادب دا موجوده د نظم او نثر بېلابېل ډولونه يې را منځته کړي دي.

دلته د پښتو د غو موجودو ولسي ادبياتو د بېلا بېلو ډولو يوازې نومونه در پېژنو:

ولسي ادبيات په لومړي سر کې په دوو لويو برخو بېلېږي:

منظوم ولسي ادبيات او منثور ولسي ادبيات

منظوم ولسي ادبيات:

منظوم ولسي ادبيات په دوه ډوله دي: عام ولسي شعرونه (سندرې) او خاص ولسي شعرونه (سندرې).

لومړی ــ عام ولسي شعرونه: هغه دي چې ويناوال او شاعر يې معلوم نه وي. دا لاندې بېلابېل ډولونه لري:

(۱)د مېندو سندرې (۲) د ماشومانو سندرې (۳) منظوم چیستانونه (٤) د اتڼ نارې (٥) سروکي (٦) لنډۍ (۷) د نکلونو نارې (۸) کاکړۍ غاړې (۹) تاریخي نارې (۱۰) منظوم فالونه (۱۱) منظوم متلونه او نور.

دویم_ خاص ولسي شعرونه: هغه شعرونه یا سندرې دي چې ویناوال یا شاعران یې معلوم او د ولس پېژندل شوي خلك دي او ددغو شعرونو په وروستیو برخو کې خپل نومونه راوړي. دغه ډولونه لري:

(۱) رباعي (مقام) (۲) غزل (۳) چاربیته (٤) لوبه (٥) بګتۍ (٦) داستانونه.

منثور یا نثري ولسي ادبیات:

ولسي نثري ادبیات هغه اوږدې او لنډې خوږې او پخې ویناوې دي، چې د ولس په منځ کې رامنځته شوي، ویناوال یا اصلي رامنځته کوونکي یې نه دي معلوم او د ټول ولس ګډ مال دی. دا لاندې ډولونه لري:

(۱)ولسي نکلونه او حکایتونه (۲) ورې کیسې (۳) منثور متلونه (٤) منثور چیستانونه (٥) اصطلاحات او محاورې (٦) تکیه کلامونه (۷) تشبیهات او استعارې (۸) رمزونه او کنایې (۹) دعاوې او ښېراوې (۱۰) ټوکې ټکالې (۱۱) روایات (۱۲) د ماشومانو لپاره کیسې او نکلونه.

د ولسي ادبیاتو مهمې ځانګړنې:

۱_ منظوم ولسي ادب د عربي ادب د عروضو او وزنونو تابع ندي، خپل ځانګړي ملي ولسي وزنونه لري.

۲_ د موضوع په لحاظ ولسي ادب د کلیوالي ولسي ژوند، ټولنیزو، اقتصادي او کلتوري اړیکو څرګندونکی او منعکس کوونکی دی.

۳_ د ولسي ادبیاتو ژبه ساده، سوچه، روانه او دخلکو له ورځنی محاورې سره برابره ده.

٤ـ ډېرې مبالغې او له حقیقت نه لېرې خبرې او تصنع پکې نه لیدل کېږي.

٥ـ په دې ادبیاتو کې د پېښو بهیر او د ژوند څېرې کټ مټ انعکاس مومي.

٦ـ ولسي ادبیات د ټولنیزو ارزښتونو په لړلو سره له لوړو هنري ارزښتونو څخه هم برخمن دي، هغه د پښتون ولس د لوړ هنري ادبي ذوق ډېره ښه څرګندویي او استازیتوب کوي.

٧ـ په ولسي ادبیاتو کې ښکلا او رښتینولي په ډېره ساده او اسانه بڼه ځان څرګندوي.

٨ـ دا چې ددغو ادبیاتو زیاته برخه د نالوستو او بې سوادو وګړو ذهن او فکر محصول ده او را منځته کوونکي یې په ولس کې اوسېږي، دا ولس د ټولو مسلطو کلتوري او ټولنیزو ارزښتونو او اړیکو تابع دي.

د متن لنډیز:

ولسي ادبیات هغه ادبیات دي چې د ټولنې دعامو او نالوستو وګړو له خوا رامنځته شوي وي او له یو نسل څخه بل ته په شفاهي ډول لېږدېدلي او دا لړۍ په ټولنه کې پر مخ روانه ده.

پښتو ژبه د دغه ډول ادبیاتو له مخې ډېره بډایه ده. دا ادبیات په منظومو او منثورو برخو وېشل کېږي چې هره برخه یې ډېر ډولونه لري. ولسي ادبیات خپلې ځانګړنې لري چې د هغو له مخې له لیکلو یا تحریري ادبیاتو څخه رابېلېږي. دا ادبیات چې په ولس کې خواره واره پراته دي باید، چې را ټول، له هېرېدو او ورکېدو څخه وژغورل شي.

فعالیتونه

۱ــ زده‌کوونکی دې د ښوونکي له متن لوستو او لازمو توضیحاتو وروسته متن په چوپه خوله ولولي.

۲ــ زده‌کوونکي دې په نوبت سره د ټولګي مخې ته وبلل شي چې د متن مفهوم په خپلو الفاظوکې نورو ټولګیوالو ته ووايي.

۳ــ زده‌کوونکي دې پر دوو ډلو جلا کړل شي. د یوې ډلې یو یو زده‌کوونکی دې د تختې پر مخ د منظوم ولسي ادب یو یو ډول ولیکي او بیا دې د بلې ډلې یو یو د ټولګي مخې ته ور وبلل شي چې د منثور ولسي ادب د یو یو ډول نوم ولیکي.

٤ــ زده‌کوونکي دې وګمارل شي چې متن په غور ولولي په هغه کې دې صفتونه په نښه کړي او بیا دې هر زده‌کوونکي په نښه کړي صفتونه د نورو ټولګیوالو په وړاندې ولولي، ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې مرسته وکړي.

صفت: په خپلواک ډول څه نه نوموي، خو د یو څه حالت او څرنګوالی ښيي. یعنې دا چې صفت د نوم معنا څرګنده او روښانوي، لکه: روغ، ناروغ، ښکلی، بدرنګ، غښتلی، کمزوری، تور، سپین او نور.


۵ــ زده‌کوونکي دې پخپل وار سره د ټولګي مخې ته ور شي چې یوه یوه لنډۍ او یا متل ووايي. نور زده‌کوونکي دې هغه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

کورنۍ دنده

زده کوونکی دې پخپله خوښه یوه فولکلوري کیسه، یا لس لنډۍ، یا لس متلونه او یا هم د کوم ولسي شعر بشپړه بېلګه ولیکي په راتلونکي پښتو لوست ساعت کې دې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

سید شمس الدین مجروح





منتخب شعرونه
د
سید شمس الدین
"مجروح"
د پښتو ټولنې له خوا چاپ شو
حمل ۱۳۳۷ ه ش

ـ تاسو د پښتو په اوسينو نوميالیو، شاعرانو او ليکوالو کې د چا نومونه اورېدلي او د هغو کتابونه مو لوستي دي؟

د پښتو ادب په معاصره دوره کې ډېر نوميالي ليکوال او شاعران لرو چې هغوی د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختيا په لاره کې ډېر ارزښتناک خدمتونه کړي او د منظومو او منثورو کتابونو په ليکلو يې د پښتو ادب پانګه بډايه کړې ده. له دغو نوميالیو ليکوالو او شاعرانو څخه يو هم سيد شمس الدين مجروح دی چې پدې لوست کې يې در پېژنو.

د کونړ د دنګو غرونو د لمنو په یوې ښېرازې او ښکلې درې کې د شینکوړک کلی پروت دی. دغلته یوه سیده پښتنه کورنۍ اوسېدله. د همدې درنې کورنۍ د غړي سید حضرت شاه نومي (چې د تیر ګړو په پاچا صاحب مشهور و) په کور کې پر ۱۳۲۳ هجري قمري کال یو ماشوم سترګې نړۍ ته وغړولې، کورنۍ یې پرې سید شمس الدین نوم کېښود.

دغه ماشوم به د درې یا درې نیمو کلونو و چې پلار یې مړ شو، مور یې چې یوه لوستې او هوښیاره مېرمن وه، په ډېره پاملرنه یې د خپل زوی پالنه او روزنه وکړه چې را لوی شو په کور کې یې له خپلې مور او نورو کورنیو استادانو څخه دیني علومو زده کړه پیل کړه. د دیني او مروجوادبي علومو نثر او نظم ځینې کتابونه یې ولوستل او بیا یې د علومو لوړې زده کړې او ژورې مطالعې ته مخه کړه. د ژوند تر پایه یې دا مینه د زړه په وینه او پوره ذوق وپالله. پیاوړی لیکوال، خوږ ژبې شاعر، سیاست پوه، حقوق پوه او د لوړو ټولنیزو او فلسفي افکارو څښتن شو. د ځان لپاره یې د ((مجروح)) تخلص غوره کړ. په علمي او ادبي ډګر کې یې لوړ نوم او شهرت په برخه شو.

د سید شمس الدین مجروح د رسمي او دولتي ماموریت پیلامه په ۱۳۱۳ لمریز کال د هېواد په پلازمېنه (کابل) کې د اعیانو د عالي مجلس په غړیتوب سره وشوه. په ۱۳۱۷ لمریز کال د افغان ملي بانک د تفتیش عمومي رییس شو. د همدغه کال په پای کې دقند جوړولو د فابریکې او د پټرولو د شرکت رییس شو. په ۱۳۴۲ لمریز کال د دولت په کابینه کې د عدلې چارو وزیر شو او په ۱۳۴۳ لمریز کال د هېواد اساسي قانون د تدوین د کمېټې مشر وټاکل شو. په ۱۳۴۴ لمریز کال د صدارت مرستیال او بیا په متحد عربي جمهوریت کې د افغانستان لوی سفیر شو.

دا د هغه وروستنی رسمي دنده وه، بیا یې تقاعد وکړ. پر ۱۳۵۷ لمریز کال په هېواد کې د ثور له پېښو وروسته لومړی له خپلې کورنۍ سره پېښور ته کډوال شو. خو کاله یې هلته د مهاجرت او جلا وطنۍ ستونزې او کړاوونه وزغمل او بیا له هغه ځایه د امریکا

متحده ایالتونو ته لاړ. هلته د ۱۳۸۱ لمریز کال د غبرګولي د میاشتې په وروستۍ اوونۍ کې دشاوخوا سلو کلونو په عمر په جلا وطنۍ کې له ژونده سترګې پټې کړې. جنازه یې هېواد ته راوړل شوه او د کونړ ولایت په شینکوړک کې پخپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل شوه.

استاد مجروح د لوړ شاعرانه ذوق او فطري ادبي استعداد څښتن و، نو ځکه یې شاعري هم له ځانګړي سوز او ساز نه ډکه وه. د هېواد مینې، ټولنیزو او ملي دردونو یې شعر او ادب ته په زړه پورې رنګ او آهنګ وربښلی او پخپل وخت کې یې د یو وتلي او منلي شاعر او لیکوال په توګه له لوړ او ادبي مقام نه برخمن کړېدی. همدا لامل دی چې استاد ګل پاچا الفت په ښېر خوږ ژبی او پیاوړي شاعر هم دې ته اړ وځي چې دده ادبي عظمت وستاییي او د شاعرۍ په ارزښت موندنه کې یې ولیکي:

((د ښاغلي شمس الدین مجروح له لوړې قریحې او شعر روزونکي استعداد څخه ځینې داسې اشعار پیدا شوي دي چې که د اشعارو پېرل او پلورل رواج وای او د شعر په ورکړه او راکړه د یو شعر د بل کېدلی، ما به خپل څو شعرونه د ده په یو شعر ورکړي وو))
(منتخب شعرونه ـ سریزه)

استاد بېنوا په اوسني لیکوال دویم ټوک کې د مجروح علمي، ادبي او ټولنیز شخصیت داسې راپېژني:

((ښاغلی مجروح د مطالعې ډېر شوق لري او د همدغه شوق اثر دی چې په اکثرو ادبي، اجتماعي، فلسفي او مذهبي سختو مسایلو کې د ښه تحقیق خاوند دی، په تېره بیا له روحیاتو او فلسفې سره زیاته دلچسپي لري. د ده مطالعه په دري، عربي او انګلیسي کې ډېره ده، له اردو څخه هم استفاده کولی شي. دا ښاغلی خنده رویه با وقاره سړی دی، آزاد طبیعت لري او په اشعارو کې یې د زاړه ادب د نازکخیالو نزاکتونه شته او هم د اوسني عصر اجتماعي او تنقیدي رنګ لري.))

شمس الدین مجروح د پښتو د معاصر ادبي غورځنګ یوغښتلي او پیاوړی ادیب و. د پښتو شاعرۍ او لیکوالۍ تر څنګ یې په دري ژبه خوږه شاعري او پخه لیکوالي هم کوله. نوموړی پر ادبي موضوعاتو سربېره سیاسي او ټولنیز موضوعات په پاخه منطق او قوي استدلال څېړلي او لیکلی شول او لړو ډېر اووه لسیزې یې د هېواد په سیاسي او فرهنګي ډګر کې غوره خدمتونه کړیدي. په هېواد کې د ثور له پېښو را وروسته کړکېچنو حالتونو کې له زړېوډې سره سره غلی پاتې نشو او د ژوند تر وروستی سلګی پورې یې د ناوړه حالاتو د تیارو په زړه کې د فکر ډیوې بلې کړې او زموږ اوسني نسل ته یې د ژغورنې پر لور لاربښوونه کوله.

د ارواښاد مجروح ژوند پېښو ته په کتنې سره څرګندېږي چې نوموړي دخپل ژوند په بهیر کې ډېر وخت د لوړو دولتي، رسمي سیاسي چارو په سرته رسولو تېر کړېدی، د علمي، فرهنګي او مطبوعاتي خدمت لپاره ډېره موقع په لاس نه ده ورغلې، علمي او څېړنیز آثار یې ډېر نه دي لیکلي، خو بیا هم یې ځانګړې او د هېواد په مطبوعاتو کې د نظم او نثر ځینې خپاره شوي آثار (مقالې او شعرونه) موږ ته د دې څرګندویې کوي چې له ادب او فرهنګ سره مینه یې په ډېر ذوق او د زړه وینه پاللـه. تر اوسه یې د شعرونو دوه ټولګې: یوه د ((منتخب شعرونه)) په نوم پر ۱۳۳۷ لمریز کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا او بله یې د پښتو او دري شعرونو غورچاڼ د ((یاد فریاد)) په نوم په ۱۳۶۳ لمریز کال په پېښور کې چاپ شوې ده.

د اوسني لیکوال مؤلف یې د دوو ناچاپو آثارو یادونه کوي، چې یو یې د عمر خیام د رباعیاتو پښتو ژباړه او بل ((پریشانه خوب)) نومېږي.

برسېره پردې یې علمي، څېړنیزې ادبي، سیاسي او ټولنیزې لیکنې او مرکې د هېواد دننه او بهر په مطبوعاتو او رسنیو کې خپرې شویدي.

دلته يې د شعر يو بېلګه لولو:

پـه مذهـب نـه د بلبـل نـه د پتنـګ يـم | نـه غوټـۍ غونـدې د زړه په وينـو رنګ يم
نـه اغـزی يـم چـې انګـړ شـمه د ګلـو | نـه د چـا د دړې لاندې پوسـت پالنګ يم
غوټـۍ نـه يم چې مـې جونې سـرکې کېږدي | چـې په غـاړه مې خوبـان کا نـه لونګ يم
نـه ژړا يـم، نـه خنـدا نـه زيـر و بـم يـم | نـه پوهېږم چـې زه څـه او څـه آهنګ يم
نـه وزګار يـم، نه مې کار لکه ماشـوم شـته | يو سـاعت خپه خوشـحاله په بل درنګ يم
د دا هسـې بـې معنـا ژونـدون لپـاره | لـه اضـدادو سـره تـل ولـې په جنـګ يم
چـې نـه درد يـم او نـه درد لـره دوا يـم | زه له دې بې سـوز و سـازه ژونـده تنګ يم
خدايږو دې ژوندون نور سترې کړم ستومانه | د ژونـدون او د ژونـدو لپـاره ننـګ يـم
خـاورې يمـه خـو لـه بـاده سـره مـل يم | د هرکـس او د ناکـس له پښـو نه څنګ يم
ټيټ مې مه بوله غورځنګ را باندې مه کړه | زه پـه دې آفتـاده ګـۍ کې لـوی ګړنګ يم
نـه آيينـه يـم چـې طرف شـمه د ښـکلو | چې مـې کېږدي پـه منګولو نـه اترنګ يم

نه مې روح د شرقيت دومره ژونـدی دی
نـه خبـر لـه مـاديـت لـکه فـرنـګ يم

((منتخب شعرونه))

د متن لنډيز:

شمس الدين مجروح د پښتو ژبې د معاصرو نوميالیو ليکوالو او شاعرانو په ډله کې يوه وتلې او منلې څېره ده، دکونړ په ولايت کې يې سترګې نړۍ ته غړولې دي، د دولت په څېنو ادارو کې يې د وزارت او سفارت تر پوړه لوړې دولتي دندې تر سره کړې. د هېواد په مطبوعاتو کې په زيات شمېر مقالو او شعرونو سربېره يې د ((منتخب شعرونه)) او ((ياد فرياد)) په نوم د شعرونو ټولګې چاپ شوې، په ١٣٨١ لمريز کال په امريکا کې د جلاوطنۍ په حال کې ومړ، جنازه يې هېواد ته راوړل شوه او پخپله پلرنۍ هديره (کونړ ـ شينکوړک) کې خاورو ته وسپارل شوه.

فعالیتونه

۱ـ څو زده‌کوونکي دې په خپله خوښه دمتن یو یو پارګراف په وار سره ولولي.

۲ـ څو زده‌کوونکي دې د ټولګي په وړاندې دمتن مفهوم په لنډیز سره ووایې.

۳ـ څو زده‌کوونکي دې متن په غور سره ولولي او په هغه کې دې فعلونه په نښه او لست کړي او د ټولګي په وړاندې دې ولولي.

فعل: فعل هغې کلمې ته وایي چې په یوه زمانه یا ټاکلې وخت کې د یو کار یا یوې پېښې په کېدو او یا د یو حالت په را څرګندېدو دلالت کوي.

٤ـ زده‌کوونکي دې د تختې پر مخ یو یو فعل په جمله کې وکاروي.

٥ـ ښوونکی دې په لاندې پوښتنو پر لوست د پوهېدنې ارزونه وکړي:

- سید شمس الدین مجروح د چا زوی او چېرته زېږېدلی و؟
- د مجروح چاپ شویو شعري ټولګو نومونه ووایاست؟
- سید شمس الدین مجروح کومې کومې دولتي دندې تر سره کړې وې؟
- مجروح چېرې مړ او چېرې خاورو ته وسپارل شو؟
- د مجروح د فرهنګي او ادبي شخصیت په اړه خپل نظر ووایاست؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د مجروح د شعر مفهوم په لنډیز سره پخپلو کتابچو کې ولیکي او په راتلونکې پښتو لوست ساعت کې دې هغه د ټولګي په وړاندې ولولي.



د پوهنتون د کانکور ازموينې لپاره نوم ليکنه

(خبرې اترې)

ـ تاسو پوهېږئ چې کانکور څه ته وايي؟

ـ د کانکور د آزموينې لپاره څه کول په کار دي؟

کله چې په ثانوي او مسلکي ښوونځيو کې تر دولسم ټولګي پورې زده کړې تر سره شي بيا هغه زده‌کوونکي چې غواړي لوړې زده کړې وکړي، هغوی لومړی بايد پوهنتون ته د شاملېدلو په موخه د کانکور آزموينه په برياليٰ توګه تېره کړي، د لوړو زده کړو د وزارت له خوا کومې ټاکل شوې نومرې چې هر پوهنځي لپاره په پام کې دي، بايد تر لاسه يې کړي، نو په دې توګه په کانکور کې بريالی ګڼل کېږي او د خپلې خوښې پوهنځي ته شاملېږي، خو هغه زده‌کوونکي چې د کانکور ټاکلې نومرې تر لاسه نه کړی هغه بريالي نه ګڼل کېږي، خو که هغوی چېرته بيا د کانکور د آزموينې لپاره چمتووالی ونيسي، بل کال بيا هم کولای شي چي د کانکور د آزموينې لپاره نوم ليکنه وکړي او آزموينه ورکړي.

نواب: غمیه چېرته روان یې؟

غمی: ښوونځي ته ځم د کانکور لپاره نوم لیکنه کوم.

نواب: نوم لیکنه خو په وزارت کې کېږي، ته ښوونځي ته ولې ځې؟

غمی: نوابه زه سږ کال له دولسم ټولګي نه فارغ شوم.

نواب: خو سمه ده فارغ شوی دې یې کنه.

غمی: نوابه! هغه زده‌کوونکي چې په کوم کال له کوم ښوونځي نه فارغېږي، نو له فراغت سره سم د ښوونځي مدیر د هماغو کسانو عکسونه او د تذکرې فوټوکاپي ټولوي.

نواب: ښه نو بیا پرې څه کوي؟

غمی: بیا نو هغه عکسونه او د تذکرې فوټوکاپي وړي د لوړو زده کړو وزارت ته.

نواب: ښه، ښه د ښوونځیو مدیران یې وزارت ته وړي هه.

غمی: هو! بیا نو هلته وزارت کې ورته ثبت نام کوي، د کانکور کارتونه ورته جوړوي، بیا یې بېرته ښوونځي ته ورته راوړي.

نواب: ښه نو چې موږ فارغ شو موږ ته به یې هم جوړوي کنه.

غمی: بالکل تاسې ته به هم مکتب ته کارتونه راوړي.

نواب: ښه نو نن تاسې ته د کانکور کارتونه درکوي؟

غمی: هو موږ خپل عکسونه او د تذکرې فوټوکاپي ورکړي دي، اوس مدیر صاحب غوښتي یو کارتونه یې راوړي دي.

نواب: ته ګوره غمیه! د کانکور امتحان هم درنه همدلته په لېسه کې اخلي؟

غمی: نه، نه ساده ګله، امتحان به را نه څنګه به لېسه کې اخلي.

نواب: نو چېرته یې درنه اخلي.

غمی: د کابل په ښار په یو پوهنتونو کې به یې را نه اخلي.

نواب: نو تاسې به څنګه پوهېږئ چې امتحان به درنه په کوم پوهنتون کې اخلي؟

غمی: دا خو را ته مدیر صاحب ویلي وو او ما پخپله تېر کال زما د ورور د کانکور آزمویني کارت لیدلی و.

نواب: ښه نو هغه ته يي په کارت کې څه ليکلي وو؟

غمی: په کارت کې ورته د امتحان اخيستلو تاريخ ليکلی و چې په پلانکی ورځ د سهار په اته بجو به ورځي.

نواب: ښه نور؟

غمی: نور يې ورته د امتحان اخيستلو ځای ټاکلی و او ورته يې ليکلي وو کابل پوهنتون، ادبياتو پوهنځی، ۱۲ نمره خونه کې به ترې امتحان اخيستل کېږي.

نواب: بېشکه ولا دا خو نو سړی نه غلطېږي او راساً به هماغه ځای ته ورځي او امتحان به ور کوي.

غمی: هو زما ورور له امتحان نه څو ورځې مخکې پوهنتون ته ورغی، هماغه ۱۲ نومره کوټه يې وليده، د امتحان په ورځ سيده هماغه ځای ته ورغی.

نواب: غميه يوه بله پوښتنه، دا خو دلته په کابل ښار کې خلك د کانکور آزموينه دغسې ورکوي په اطرافو کې يې خلك څه ډول ورکوي؟

غمـی: پـه دې خبره خو زه دومره نه پوهېږم، درځه چې د اجمل خواته ورشـو، هغه له اطراف نه دو ځله امتحان ورکړی دی.

نواب: سمه ده درځه چې ورشو.

نواب: السلام عليکم اجمل جانه!

اجمل: وعليکم السلام په خير راغلئ، خيرت خو به و ځنګه را پيښ شوئ؟

غمی: دغه نواب را نه يوه پوښتنه وکړه، زه يې په ځواب و نه پوهېدم، تا ته راغلو.

اجمل: وايه وايه څه پوښتنه ده؟

نواب: اجمل جانه غمي راته د کانکور په آزموينه کې د ګډون هغه پروسـه چې په مرکز کې دولسم ټولګيو فارغان يې تر سره کوي، ټوله تشريح کړه.

غمی: دی وايي هغه خلك چې په اطراف کې د کانکور آزموينه ورکوي هغوی څه ډول ثبت نام کوي؟

اجمل: ښه، ښه په اطراف کې خو داسې وي چې د څو ولايتونو د کانکور ازموينه په يوه

مرکزي ولایت کې اخیستل کېږي.

نواب: لکه څنګه؟

اجمل: لکه د افغانستان د شرقي سیمو د ولایتونو د آزموینه چې ننګرهار، لغمان، کونړ او نورستان ولایتونه دي، د دوی آزموینه د ننګرهار په جلال آباد ښار کې اخیستل کېږي.

غمی: ددغو ولایتونو فارغ شوي شاګردان جلال آباد ته د امتحان لپاره ورځي؟

اجمل: هو.

نواب: نو کانکور لپاره نوم لیکنه څه ډول کوي.

اجمل: نوم لیکنه داسې وي چې ددغو ولایتونو د هماغه کال د دولسم ټولګیو فارغانو، ثبت نام په خپل ښوونځي کې کېږي، عکسونه، نومونه او تذکره ترې په ښوونځي کې اخیستل کېږي.

غمی: بیا به نو کارتونه ورته په وزارت کې جوړېږي او بېرته ښوونځیو ته به وړل کېږي کنه؟

اجمل : نه، نه کارتونه یې په وزارت کې نه جوړېږي، کارتونه یې د ننګرهار په پوهنتون کې جوړېږي، د امتحان ورځ، ځای ورته ټاکل کېږي او شاګردانو ته ورکول کېږي.

نواب: ښه، ښه نو داسې ده.

اجمل: هو، خو یو ډول بل ثبت نام هم شته دی.

نواب: هغه کوم ثبت نام دی؟

اجمل: دا خو هغه ثبت نام و چې په اطرافو او مرکز کې څوک په کوم کال له دوولسم ټولګي نه فارغېږي امتحان ورکوي.

نواب: هو بالکل.

اجمل: بل ثبت نام هغه دی، چې که یو څوک سږکال امتحان ورکړي او په امتحان کې دخپلې خوښې پوهنځي ته بریالی نه شي یا بالکل ناکام شي او بیا و غواړي چې بل کال ته بیا امتحان ورکړي.

غمی: هو په خدای ﷻ ډېر شاګردان همدغسې کېږي کنه، ښه نو دغه خلک په څه ډول ثبت نام کوي؟

اجمل: اول خبره خو دا ده چې دغه ډول زده‌کوونکي به د هر کال له نوو فارغ شوو دوولسم پاسانو نه جدا امتحان ورکوي. دغې آزموینې ته متفرقه آزموینه وايي.

نواب: یعني چې امتحان يې د مکتبونو له فارغینو نه جدا وي.

اجمل: هو بالکل او ثبت نام يې هم سره توپیر لري.

غمی: ښه دوی څه ډول ثبت نام کوي؟

اجمل: دا خلک که په کابل ښار کې متفرقه امتحان ورکوي، نو کله چې امتحان اخیستل کېږي ځي د لوړو زده کړو وزارت ته هلته ورته یوه فورمه ورکول کېږي.

نواب: ښه فورمه کې به يې څه لیکي؟

اجمل: په فورمه کې به خپل نوم، د پلار نوم، د لېسې نه چې فارغ شوی د هغې لیسې نوم، تېر کال يې چې د کانکور امتحان ورکړېدی د هغه په اړه معلومات لیکي.

غمی: د تېر کال د کانکور په اړه به څه معلومات لیکي؟

اجمل: یعني که کوم پوهنځي ته کامیاب شوی او هغه يې نه دی لوستی، ببرته يې له هغه نه ځان منفک کړېدی او کنه، که يې ځان نه وي منفک کړی اول باید ځان منفک کړي بیا به امتحان ور کړي.

نواب: ښه، ښه دا خو ولا چې ډېرې خبرې لري.

اجمل: بیا له هغې نه وروسته به هغه فورمه خپلې لېسې ته چې ترې فارغ شوی، راوړي هلته به يې تصدیق کوي.

غمی: ښه، نور به يې کوم کوم ځای ته وړي؟

اجمل: بیا به يې د کابل ښار د پوهنې ریاست ته ور وړي، هغوی به يې تصدیقوي، له هغه وروسته به يې د پوهنې وزارت د ثانوي زده کړو ریاست ته وروړي، هلته به يې د فارغانو شعبه امضاء کوي او له هغې وروسته به يې د لوړو زده کړو د وزارت د امتحاناتو څانګې ته تسلیموي.

نواب: دا خو يې ډېرو ځایونو ته وروړي.

اجمل: هو، بيا نو تر هغې وروسته به د امتحان اخيستلو تر نېټې انتظار باسي، کله چې اعلان و شو هغو کسانو چې ثبت نام کړی، ورځي به خپل کارت به اخلي.

غمي: د کارت لپاره به خپل عکسونه او د تذکرې فوټوکاپي هم وروړي کنه؟

اجمل: هو بالکل له عکسونو او تذکرې پرته خو بالکل ثبت نام نه کېږي.

نواب: چې کارت ورته ورکړي، بيا به يې په کې تاريخ، د امتحان اخيستلو ځای او ټول شيان ورته ليکلې وي کنه؟

اجمل: هو بالکل، دا هر څه ورته ليکي، خو که څوک په اطراف کې دغسې امتحان ورکوي، نو هغوی هم بايد د هماغې حوزې د امتحان اخيستلو ځای ته ور شي.

غمي: هلته هم بايد اول رياست ته عريضه وکړي.

اجمل: عريضه کوي، فورمه ورکول کېږي، ټول معلومات به په فورمه کې ليکي.

نواب: که منفکک شوی نه وي منفکي هم بايد وليکي.

اجمل: خو ما درته وويل ټول معلومات، بيا به دا فورمه وړي هغه ښوونځي ته چې دی ترې فارغ شوی، ښوونځی به يې تاييدوي، بېرته به يې د هماغه ولايت د پوهنې په رياست کې هم تصديقوي له هغه وروسته دې د حوزې د کانکور آزموينې اخېستلو مرکز ته وروړي.

غمي: هغه مرکز به ورته وايي چې انتظار وباسه چې کله امتحان اخيستل کېږي.

اجمل: هو، کله چې د امتحان اعلان وکي، بيا به هماغه مرکز ته ورځي او خپل کارت به اخلي.

نواب: او بيا به نو امتحان ورکوي.

غمي: اجمل جانه کور دې ودان، پوره معلومات دې را کړل، نور نو موږ هم درنه ځو د خدای ﷻ په امان.

اجمل: په مخه مو ښه.

د متن لنډيز:

هر ځوان هيله لري چې ښې زده کړې وکړي او هم لوړې زده کړې سرته ورسوي. زموږ په هېواد کې ځوانان د لسانس او آن د ماسترۍ په کچه زده کړې سر ته رسولای شي، خو هغه کسان کولای شي لوړې زده کړې وکړي چې په کانکور کې بريالي شوي وي. د کانکور آزموينه د دولسم ټولګي د فارغانو د زده کړې د ارزونې لپاره ډېره ښه وسيله ده. هغوی چې په دولس کلنه ښوونيزه او روزنيزه دوره کې زيار ايستلی، لوستونه يې ښه زده کړي وي، هرومرو د پوهنتون د کانکور په آزموينه کې بريالی کېږي او د خپلې خوښې وړ پوهنځي ته ورځي، دکانکور د آزموينې ټول پړاوونه د پوهنې وزارت او د لوړو زده کړو د وزارت په مرسته سمباليږي.

فعاليتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې متن په چوپتيا سره ولولي، ستونزمنې کلمې دې په پنسل په نښه کړي، بيا دې زده‌کوونکي نوموړي لغتونه پر تخته وليکي او ښوونکی دې معنا کړي، نور زده‌کوونکي دې په خپلو کتابچو کې وليکي.

۲ـ يو زده‌کوونکی دې د خبرو اترو څو جملې ووايي او له بلې ډلې څخه دې يو زده‌کوونکی ددې په هکله خبرې وکړي.

ښوونکی دې له زده‌کوونکو څخه لاندې پوښتنې وکړي:

۱ـ څوک د کانکور آزموينه ورکولای شي؟

۲ـ د کانکور آزموينه چېرې او د چا له خوا اخيستل کېږي؟

۳ـ آيا د هېواد په مهمو ولايتونو کې د کانکور آزموينه اخيستل کېږي او که نه؟

۴ـ څو تنه زده‌کوونکي دې د خپلې خوښې پوهنځي په اړه خپلو ټولګيوالو ته خبرې وکړي او هغوی ته دې څرګنده کړي چې ولې يې هماغه پوهنځی غوره کړی دی؟

۵_ ښوونکی دې زده‌کوونکي پر دوو ډلو وویشي: یوه ډله دې په متن کی له راغلو څو فعلونو څخه جملې جوړې کړي او بله ډله دې په متن کې د خاص نومونو په اړه څو جملې جوړې کړي او بیا دې هره ډله خپلې جوړې کړې جملې د ټولګیوالو په مخ کې ولولي.

٦_ که چیرته له تاسو څخه د کانکور د آزموینې په اړه څوك پوښتنه وکړي، کولای شئ دغه بهیر هغو ته تشریح کړئ، لنډ مفهوم یې د خپلو ټولګیوالو په وړاندې هم وواياست.

٧_ هغه توکي چې د کانکور د آزموینې لپاره پکاربږي، په تفصیل سره یې نومونه واخلئ.


٨_ څو زده‌کوونکي دې د خبرو اترو د اصلي مفهوم په هکله و غږیږي.

٩_ څو زده‌کوونکي دې ددې لوست په زده کړې سره په راتلونکي وخت کې د خپل تصمیم په باره کې خبرې وکړي.

کورنی دنده

زده کوونکي دې د کانکور د آزموینې د بهیر په هکله څو کرښې مطلب ولیکي او په راتلونکي درسي ساعت کې دې خپلو ټولګیوالو ته خپله ولولي.

د پښتو ادبي مکتبونه


ـ تاسی د مخه د ادبي مکتب نوم اورېدلی؟

ـ پوهېږئ چې ادبي مکتب څه ته وايي؟

د ادبي مکتب اصطلاح په ادبياتو کې هغه پراخ ادبي بهير (جريان) يا د نظم او نثر د وينا او ليکنې لارې (طريقې) ته کارول کېږي چې په يوې فرهنګي او جغرافيايي حوزه کې د ګڼ شمېر شاعرانو او ليکوالو د ځانګړو شعري يا نثري سبکونو له ګډون څخه را منځته کېږي. د يوې ډلې شاعرانو يا ليکوالو په آثارو کې دغه ګډې ځانګړنې د هم مهالو شاعرانو او ليکوالو له تخليقي آثارو څخه د بېلتون سبب ګرځي.

د پښتو ادبي تاريخ په کلاسيکه يا منځنۍ دوره کې څلور داسې پراخه ادبي جريانونه شته چې ادبپوهانو په خپلو ادبي څېړنو کې هغو ته د ادبي مکتبونو نوم ورکړی، په دې لوست کې دغه ادبي مکتبونه در پېژنو.

په عام ډول د مکتب لغوي معنا د لیک، زده کړې او د ښوونې روزنې ځای دی، خو د ادبي مکتب اصطلاح د هغه پراخ ادبي جریان او لارې لپاره کارول کېږي، چې د زیات شمېر ادیبانو (لیکوالو او شاعرانو) د لیکنې یا وینا د سبکونو له ګډون څخه منځته راغلې وي. په یوې بلې پېژندنې کې یې لولو چې: ادبي مکتب د هغو نظریو، ادبي او فرهنګي ځانګړنو مجموعه ده چې د یو یا څو هېوادونو د فرهنګي ټولنیزې او سیاسي اوضاع په بهیر کې را منځته شوې وي.

دغه ځانګړنې معمولاً د لیکوالو او شاعرانو د یوې ډلې په آثارو کې سره ګډې او مشترکې وي او د نورو شاعرانو او لیکوالو له تخلیقي آثارو څخه د توپیر او بېلتون سبب ګرځي.

کله چې موږ د پښتو د ادبي تاریخ د کلاسیکې یا منځنۍ دورې پاڼې را اړوو په بېلابېلو پړاوونو کې د ځینو داسې سترو ادبي جریانونو بېلګې مخې ته راځي چې د ادبي مکتب بنسټیزې ځانګړنې پکې څرګندې دي، زموږ ادبي څېړونکو او ادب پوهانو پخپلو لیکنو کې دغه ادبي جریانونه د پښتو ادبي مکتبونه بللي او نومولي دي، چې دلته یې په لنډه توګه له خپلو ځانګړنو سره درپېژنو:

۱ــ روښاني ادبي مکتب:

دغه ادبي مکتب د لسمې هجري پېړۍ په دویمه نیمايي کې رامنځته شوی دی. د دې ادبي مکتب بنسټ ایښودونکی پیاوړی علمي، ادبي او فرهنګي شخصیت او ملي مبارز بایزید انصاري (۹۲۵ــ۹۸۵ هـ.ق.) دی چې په پیر روښان شهرت لري. نوموړي د خپلې تصوفي او عرفاني لارې د تبلیغ او خپراوي لپاره ادبي او فرهنګي هلې ځلې پیل کړې. په خپلو منثورو او منظومو لیکنو کې یې ځانګړې ادبي لاره او سبک را منځته کړ، ډېر پلویان یې و موندل، هغوی دده لاره تعقیب کړه او دغسې زموږ په ادبي تاریخ کې روښاني ادبي تصوفي عرفاني مکتب را منځته شو. ددې مکتب د پیاوړو لیکوالو او شاعرانو په ډله کې دا لاندې نومونه د بېلګې په توګه یادوو:

ارزاني خويشكى، علي محمد مخلص، دولت لوانى، ابابكر كندهارى، واصل روښاني، ميرزاخان انصاري، ورکزى، قادرداد او نور.

ددې ادبي مكتب له ډېرو سترو ځانګړتياوو څخه دادي:

(۱) تصوف او عرفان پېچلو مسايلو او اصطلاحاتو په پراخه پيمانه پښتو ادب ته لاره کړې.

(۲) د عربي او فارسي شاعرۍ زياتره شكلي فورمونه، لکه قطعه، رباعي، قصيده، او نور پښتو ادب ته راغلي او شاعرانو د عربي او فارسي ژبو د شاعرانو په څېر مردف ديوانو نه جوړ کړي دي.

(۳) په نثري ليکنو کې مسجع نثر رواج شوى.

(٤) اخلاقي او ديني مسايل په پښتو شعر او ادب کې زيات شوي او د عربي او فارسي ادب اغېز پر پښتو ادب زيات شوى دى.

۲_ خوشحال ادبي مكتب:

دغه ادبي مكتب كله كله په ادبي څېړنو کې د ((خټکو ادبي مكتب)) په نوم هم ياد شوى دى.

په يوولسمه هجري قمري پېړۍ کې منځته راغلى، بنسټ اېښودونكى يې د پښتو ژبې پياوړى ليكوال، شاعر، د تورې او قلم خاوند خوشحال خان خټک (۱۰۲۲_۱۱۰۰هـ.ق.) دى.

د خوشخال خټک ادبي لاره د ده زامنو، لمسيانو او نورو پلويانو پاللې او تعقيب کړې او د خوشحال ادبي مكتب يې جوړ كړى دى. د دې مكتب نوميالي استازي: اشرف خان هجري، عبدالقادر خان خټک، سكندرخان خټک، صدرخان خټک او نور دي.

ددې مكتب سترې ځانګړتياوې دادي، چې پښتو شعر او ادب يو نوي پرمختيا يې پړاو ته داخل او د ودې او پرمختيا لپاره يې په شعوري توګه هلې ځلې پيل شوي دي. د مسجع او متكلف نثر پر ځاى ساده، روان او د خلكو محاورې ته نژدې نثر ليکنه پيل شوې او د

ختځکو ځانګړی لیکدود (رسم الخط) را منځته شوی دی. په شعر او ادب کې حماسي، رزمي او ملي روحیه پیاوړې شوې. شعر او ادب د مضمون له پلوه ډېر بډای شوی او په پخوانیو عشقي، عرفاني، پند او نصیحت او اخلاقي مسایلو سر بېره بېلابېل موضوعات تاریخي پېښې، پر ټولنه او حاکمه طبقه انتقادونه، له قوم او وطن سره د مینې احساسات په پراخه پیمانه په ادب کې انعکاس مومي، د پښتو ملی کیسې (لکه آدم خان درخانۍ، دلی شهۍ) لیکل شوې او له نورو ژبو څخه هم په پراخه پیمانه کیسې او نور علمي، دیني او ادبي آثار وژباړل شول.

۳ـ د رحمان بابا تصوفي – عرفاني ادبي مکتب:

د پښتو پیاوړی شاعر رحمان بابا (۱۱۲۸-۱۱٤۲ هـ ق) د یو ستر ځانګړي تصوفي – عرفاني ادبي سبک خاوند و چې هغه پخپل وخت کې له زیات ټولنیز مقبولیت نه برخمن شو. په هماغه مهال او را وروسته زمانو کې یې ډېر پلویان او لارویان وموندل، چې دده ادبي لاره یې تعقیب او دوخت په تېریدو یې د یو ادبي مکتب بڼه غوره کړه او زموږ په ادبي څېړنو کې د رحمان بابا تصوفي ـ عرفاني ادبي مکتب نوم ورکړل شوی دی.

ددې ادبي مکتب نومیالي استازي او پلویان: یونس خېبری، معزالله مومند، اخون ګدا، حافظ الپوری، میا نعیم متي زی، عبدالعظیم رانیزی، عبدالرحیم هوتک، مطیع الله پیرخېل او نور دي.

ددې ادبي مکتب سترې ځانګړنې دادي چې ویناوال د اخلاقو پند او نصیحت خواته ډېره پاملرنه کوي. د عربي او فارسي ژبو ډېرې کلمې اصطلاحات، تشبیهات او استعارې په پراخه پیمانه پښتو شعر او ادب ته را ننوتي دي. په دې ادبي مکتب کې ویناوال واقعیت او حقیقت ته ډېره پاملرنه کوي. د خیال اومبالغې پلویتوب پکې ډېر کم دی. د پښتني چاپېریال خپل رنګونه پکې په ځلیدو او د هندي سبک اغېزې پکې ډېرې نه لیدل کېږي.

٤ـ د نازکخیالۍ ادبي مکتب:

د پښتو نازکخیالۍ ادبي مکتب د دولسمي هجري پېړۍ په اوږدو کې د فارسي د هندي ادبي مکتب تر اغېزو لاندې را منځته شوی دی. بنسټ ایښودونکی یې د پښتو نازکخیاله شاعر عبدالحمید مومند (تر ۱۱٤۸ هـ.ق. پورې ژوندی) او بشپړونکی یې کاظم خان شیدا (۱۱۳۵ـ۱۱۹۵ هـ.ق.) علي خان اونور ګڼل شوي دي.

سره له دې چې د دغو پیاوړو شاعرانو ادبي سبکو نه یو له بله لږو ډېر توپیر او خپلې خپلې ځانګړنې هم لرې او په زماني لحاظ هم یوه له بله څو لسیزې وړاندې وروسته دي، خو دا چې دغه شاعران د هندي سبک د لږو یا ډېرو اغېزو په منلو سره په پښتو شعر کې د نازکخیالۍ لاره تعقیبوي او د پیاوړو ادبي سبکونو خاوندان کېږي. د خپل وخت او یا وروسته زماني ډېر شاعران د دوی د ادبي لارې پلویتوب کوي، د دغو بېلابېلو ادبي سبکونو له ګډون څخه یو ځانګړی ادبي مکتب منځته راځي چې په ادبي څېړنو کې د نازکخیالۍ ادبي مکتب او کله کله ((د حمید او شیدا د نازکخیالۍ ادبي مکتب)) نوم ورکړل شوی دی.

ددې ادبي مکتب پیاوړي استازي او پلویان له حمید او شیدا سر بېره چې ددې مکتب بنسټګر بلل شوي دي، قلندر اپریدی، محمدي صاحبزاده، علي خان، کامګار خټک، بیدل هشنغری، حنان بارکزی او نور دي.

د نازکخیالۍ ادبي مکتب سترې ځانګړنې: لوړ تخیل، نازکخیالي، نوښت، نادرې استعارې او تشبیه ګانې، د غزل فورم پکې د کمال پوړ ته رسیدلی، د اشعارو موضوع زیاتره د مینې او محبت مسایلو ته وقف شوې، په شعرونو کې متلونه، اصطلاحات او محاورې ډېرې کارول شوي او ویناوالو د فارسي ادب اغېز په پراخه پیمانه منلی دی.

د متن لنډيز:

ادبي مکتب هغه پراخه ادبي لاره ده چې د ګڼو شاعرانو يا ليکوالو د ځانګړو ادبي سبکونو له يو ځای کېدو څخه د يو ستر ادبي جريان په توګه را منځته شوې ده. موږ د پښتو ادبي تاريخ په منځنۍ يا کلاسيکه دوره څلور ادبي مکتبونه لرو چې د دغې دورې په بېلابېلو پړاوونو کې را منځته شوي، وده او پرمختيا يې موندلې ده. په دغو ادبي مکتبونو کې لومړنی روښاني ادبي عرفاني مکتب دی، چې بنسټګر يې بايزيد روښان (۹۲۵_۹۸۵ هـ.ق.) دی او ډېرو شاعرانو او ليکوالانو يې پېروي کړې ده. دويم ادبي مکتب د خوشحال ادبي مکتب دی چې بنسټګر يې خوشحال خټک (۱۰۲۲_۱۱۰۰هـ.ق.) دی. دريم ادبي مکتب د رحمان بابا ادبي عرفاني مکتب دی چې بنسټ ايښودونکی يې رحمان بابا (۱۰٤۲ _ ۱۱۲۸ هـ.ق.) دی. څلورم ادبي مکتب د حميد او شيدا د نازکخيالۍ ادبي مکتب دی چې په پښتو کې د هندي ادبي مکتب په پيروۍ را منځته شوی، خو پښتني رنګ او امتياز يې خوندي دی. دغه مکتبونه خپل لړرو ډېر پيروان لري چې دسبکونو ګډې ځانګړنې پکې جوتې دي.

فعاليتونه

۱_ زده‌کوونکي دې متن په چوپه خوله په غور او دقت مطالعه کړي او بيا دې په خپل وار سره يو يو پرګراف د ټولګي په وړاندې ولولي، ښوونکی دې له هغوی سره د اړتيا په مهال په متن لوستنه کې مرسته وکړي.

۲_ زده‌کوونکي دې د ټولګي مخې ته را وبلل شي چې په متن کې د پېژندل شوي يو ادبي مکتب په هکله خبرې وکړي.

۳_ ښوونکی دې د پښتو څلورو ادبي مکتبونو د نوميالیو استازو دا لاندې د شعر څو بيتونه زده‌کوونکو ته په لنډه توګه توضيح او تشريح کړي او د هر استازي شاعر په شعر کې دې د هغه د اړوند ادبي مکتب ځينې ځانګړنې وښيي:

(۱)

ای پـه ځــان لـه خـپـلـه ځـانـه بـې خـبـره
تــه مـعـنـا لــه مـعـنـا وغـــــواړه بـشـره
د ایــمــان لــه روښــنــایــی خــبــره زده کــړه
دا د کــفــر تــیــاره یــوســه تــر ســحــره
(میرزا خان انصاري ـ روښاني ادبي مکتب)

(۲)

مــــردان هـغـه دي چــې هـمـتـنـاك دي
د نــنـگ پــه كــار كــې چــســت و چــالاك
كــار چــې آغــازكــړي انــجــام یــې هــم كــړي
پــه خــولــه هــم پــاك وي پــه زړه هــم پــاك وي
(خوشحال خان خټک ـ خوشحال ادبي مکتب)

(۳)

زه لــه دې جــهــانــه تــلــونــی پــه شــتــاب یــم
لــكــه پــاڼــه د خـــزان پــښــه پــه ركـــاب یــم
كــه هـــزار آبــادانـــي كـــړم پــه جــهــان كې
غــرض دا چـــې نــهــایــت خــانــه خـــراب یــم
(عبدالرحمان بابا ـ د رحمان بابا تصوفي مکتب)

(٤)

مـعـلـومـیـږي سـتـا د سـتـرگـو لــه غـمـزو
چــې یــې مـــرگ د تــیــره تـیـغ دی راپــیـــرزو
سـتـا د سـتـرگـو د بـاڼـو تـرمـنـځ حـیـران یـم
یــو مــې وژنـــي پــه ســره اور بــل پــه نـیـزو
(حمید مومند ـ د نازکخیالی ادبي مکتب)

۴ـ زده‌کوونکي دې په دريو ډلو وويشل شي، متن دې په ډېر غور او دقت ولولي، يوه ډله دې په متن کې خاص نومونه، بله ډله دې صفتونه او دريمه ډله دې قيدونه په نښه او لست کړي. د هرې ډلې استازى دې هغه د ټولګي په وړاندې ولولي. ښوونکى دې د هرې برخې (خاص نومونو، صفتونو، قيدونو) بشپړ لست د تختې پر مخ وليکي.
زده‌کوونکي دې د تختې پر مخ ليکلي لستونه په خپلو کتابچو کې وليکي.

۵ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- ادبي مکتب څوک تعريفولى شي؟
- د پښتو ادبياتو په کلاسيکه ادبي دوره کې څو ادبي مکتبونه پېژنئ، نومونه يې واخلئ.
- د روښاني ادبي مکتب بنسټ اېښودونکى څوک و، د څو ادبي لارويانو نومونه يې واخلئ.
- د خوشحال ادبي مکتب بنسټ اېښودنکى څوک و، د څو ادبي پيروانو نومونه يې واخلئ.
- د رحمان بابا د ادبي مکتب د څو مشهور و پېروانو نومونه واخلئ.
- د حميد او شيدا د نازکخيالى د ادبي مکتب ځانګړ تياوې وواياست او د څو نامتو پيروانو نومونه يې واخلئ.

کورني دنده

زده کوونکي دې پخپله خوښه له څلورو ادبي مکتبونو څخه د يوه ادبي مکتب د يو پيرو شاعر په هکله لنډ معلومات وليکي او په راتلونکى پښتو درسي ساعت کې دې هغه د ټولګيوالو په وړاندې ولولي.

د پښتو نثر ډولونه







ـ څوک نثر تعریفولی شي؟

ـ نثر له نظم یا شعر سره څه توپیر لري؟

هغه وینا چې لیکلې وي که ویلې، خو چې د وزن او قافیې له قید څخه آزاده وي او موږ یې پخپل منځ کې د پوهونې را پوهونې او مطالبو د افادې لپاره کاروو، نثر بلل کېږي. لیکلیو نثرونو د خپل تاریخي پرمختیایي بهیر په اوږدو کې بېلابېلې بڼې لرلې او اوس هم په هره ژبه کې د معنا او منځپانګې (محتوا) او همدارنګه د بڼې او شکل له مخې بېلابېل ډولونه لري، موږ په دې لوست کې په پښتو ادب کې نثر د پخوانیو او اوسنیو دود ډولونو په هکله معلومات درکوو.

نثر په لغت کې شیندل، تیتول او پاشل دي او په اصطلاح کې هغه وینا یا لیکنه ده چې وزن او قافيې له قید او بند څخه آزاده وي.

د اوسنیو ادبپوهانو په نظر نثر یو ادبي ډول دی او څرنګه چې د وزن او قافيې له قید نه خلاص دی، نو د هر ډول افکارو د افادې او بشري پوهنې، دیني، فلسفي، ښوونیزو روزنیزو او ټولنیزو مسایلو د څرګندولو او بیانولو ډېره غوره او مناسبه وسیله ده.

نثر د لیکنې د طرز له مخې په دریو سترو ډولونو ویشل کېږي:

۱ـ ساده یا مرسل نثر: هغه نثر دی چې لفظي او معنوي صنایع پکې نه وي کارول شوي.

۲ـ فني نثر: چې لیکوال ورسره خپل احساسات او عواطف هم ملګري کوي. یا په بله وینا د مطالبو د افادې لپاره له تخیلي ځواك څخه هم کار اخلي.

۳ـ ساده ولسي نثر: چې کټ مټ د خلکو په ژبه چې څنګه ویل کېږي، هغسې لیکل کېږي.

ادبپوهانو د پښتو پخواني نثرونه په درې ډولونو وېشلي دي:

الف ـ متکلف نثرونه:

په پښتو ژبه کې دا ډول نثرونه د باسواده قشر (لیکوالو) له خوا د عربي او دري ژبو تر اغیز لاندې لیکل شوي دي. په پښتو ژبه کېددې نثر ډېره غوره تر لاسه شوې بېلګه د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء (٦١٢ هـ.ق. شاوخوا) د کتاب نثر دی.

ب ـ مسجع یا قافیه وال نثر:

په دې ډول نثرونو کې لیکوالو وزن لرونکې او مسجع کلمې د شعر دقافیو په څېر کارولې وي. په پښتو ادب کې ددې ډول نثر ډېرې ښې پخوانۍ نمونې په لسمه هجري پېړۍ کې لیکل شوي د بایزید روښان ((خیرالبیان)) او دا خوند درویزه ((مخزن الاسلام)) کتابونه دي.

ج ـ ساده او روان نثرونه:

په دې ډول نثر کې نه د مسجع نثر په څېر سجع او وزن لرونکې کلمې لیدل کېږي او نه پکې د متکلفو نثرونو په څېر لفظی کړکیچ او پیچلتیا ښکاري، بلکې لیکوالو یې کوښښ کړی چې د خلکو محاورې ته نژدې نثر ولیکي. د پښتو په لرغوني نثر کې یې ډېره ښه بېلګه د خوشحال ختېك لیکلی اثر ((دستارنامه)) (۱۰۷۶ هـ. ق. تالیف) ده.

د معنا او محتوا له مخې د نثري آثارو ډولونه:

په پښتو ژبه کې د محتوا او موضوع له مخې نثري آثار په عامه توګه ډېر ډولونه لري. دلته یې څو مشهور ډولونه درپېژنو او د ځینو یوازې نومونه اخلو:

حماسي نثري آثار: چې پخواني، اوسني ملي حماسي مسایل، د اتلانو ویاړلې کارنامې پکې بیان یا څېړل کېږي.

غنايي نثري آثار: د مینې، محبت عاطفي او احساساتي مسایل پکې بیانېږي.

تاریخي نثري آثار: چې د ټولنې، قوم، ملت او خلکو سیاسي، ټولنیزې او علمې پیښې پکې بیانېږي. په پښتو کې یې مثالونه بېلابېل لیکلي تاریخونه، لکه: د پوهاند حبیبي د افغانستان لنډ تاریخ، د حبیب الله تږي ((پښتانه)) او نور دي.

دیني نثري آثار: په دې ډول آثارو کې د دیني او مذهبي مسایلو په باب لیکنې شاملې دي. په پښتو کې یې بېلګې کابلی تفسیر، سیرت النبي، د استاد الفت اسلام او په ټولنه کې د هغه نقش او نور دي.

همدارنګه عرفاني نثري آثار، اخلاقي نثري آثار، علمي او فلسفي نثري آثار، انتقادي نثري آثار، د مشاهیرو احوال او تذکرې، په ژبې او ادبیاتو پورې مربوط نثري آثار چې د بلاغت فنون، د عروضو او قافیې علم، د لغاتو او اصطلاحاتو پېژندنه، ګرامري آثار، د لیکوالی او څېړنې په اړه لیکلي نثري آثار او داسي نور دي چې په پښتو کې د ټولو ډېرې بېلګې شته دلته، د ټولو یادونه او په اړه یې څرګندونې د بحث لمنه غځوي، نو ځکه یوازې یې د نومونو په اخیستلو بسنه وشوه.

د بڼې او شکل له مخې د پښتو د اوسني نثر ډولونه:

د بڼې او فورم له مخې اوسني پښتو نثر په دوو سترو برخو بېلېږي:

ساده نثرونه، هنري او ادبي نثرونه .

په ساده نثرونو کې ټولې علمي، ادبي، سیاسي او ژورنالستیکی لیکنې او همدارنګه څېړنیز تحلیلي او تشریحي لیکنې او آثار راځي. چې په ساده ژبه د فکر او نظر د څرګندولو او نورو ته د پوهې او معلوماتو د لېږدولو ډېره غوره او اغېزناکه لاره ده.

هنري او ادبي نثرونه بیا خپلې بیلې ځانګړنې لري چې د هغو له مخې یې له عادي او ساده نثر څخه توپیر کېږي. ډېره مهمه او اساسي ځانګړنه چې ادبي نثر له ساده نثر څخه بیلوي، هغه ((هنري ارزښت)) یا ادبي او هنري ارزښت دی.

په هنري ــ ادبي نثر کې لیکوال د بېلا بېلو منظر کښنو، انساني خصوصیاتو، روحیاتو، عاداتو، حالاتو او داسې نورو مسایلو په الفاظو کې د انځورولو او نورو ته د وړاندې کولو لپاره

له خپل تخیلي ځواک څخه کار اخلي. حالات، واقعیتونه یا پیښې په الفاظو کې داسې را نغاړي چې لوستونکی یا اورېدونکی فکر کوي چې هر څه په خپلو سترګوویني او ځان ورته په صحنه کې شامل ښکاري.

په پښتو کې د هنري او ادبي نثر دا لاندې ډولونه پېژنو:

لنډه کیسه، ناول، ډرامه، طنز، تکل، ادبي ټوټه، سفرنامه (یونلیک) ادبي راپورتاژ، ادبي لیکونه، ادبي انځور، فلمي سناریو او نور چې دا ټول په پښتو ادب کې دود دي او د بې شمیره چاپي آثارو بیلګې یې شته چې دلته د هغو نومونه اخیستل او پر دغو ادبي ډولونو بحث کول موضوع اوږد وي، نو ځکه ترې ډده کوو.

> د متن لنډیز:
>
> نثر هغه وینا یا لیکنه ده چې د وزن او قافیې له قیدوبند څخه آزاده وي. دپښتو ادب په پرمختیایي بهیر کې تر ننه پورې د بڼې او محتوا له مخې د نثر بېلابېل ډولونه رواج وو او دي. په پخوانیو نثرونو کې د شکل او بڼې له مخې متکلف نثرونه، مسجع یا قافیه وال نثرونه او ساده یا روان نثرونه موجودوو، د محتوا له مخې حماسي نثري آثار، غنایي نثري آثار، تاریخي نثري آثار او دیني نثري آثار. او په اوس وخت کې د بڼې او شکل له مخې پښتو نثرونه په عامه توګه په ساده نثرونو او ادبي ـ هنري نثرونو وېشل کېږي چې په هره برخه کې ډېر ډولونه شته. په ساده نثرونو کې ټولې علمي، سیاسي، ژونالیستکي، څېړنیزې تحلیلي او تشریحي لیکنې یا آثار راځي. او په هنري ادبي نثرونو کې لنډه کیسه، ناول، ډرامه، ادبي ټوټه، تکل، سفرنامه، ادبي راپورتاژ او نور شامل دي.

فعالیتونه

۱ـ د ښوونکي له متن لوستنې او لازمو څرګندونو وروسته دې زده‌کوونکي متن په چوپه خوله په ډېر غور او دقت ولولي.

۲ـ زده‌کوونکي دې په وار سره د متن یو یو پراګراف ولولي. د اړتیا په وخت کې دې ښوونکی د سمون لپاره مرسته وکړي.

۳ـ زده‌کوونکي دې په نوبت سره د ټولګي په وړاندې د متن مفهوم او لنډیز ووایي.

٤ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې متن په غور سره ولولي او په هغه کې دې خاص نومونه په نښه او لست کړي. بیا دې هغه په نښه کړي نومونه د ټولګي په وړاندې ولولي. ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې مرسته وکړي.

خاص نوم: چې یو ځانګړی شیز، وګړي، ځای یا کوم شی نوموي، لکه: کابل، ننګرهار، احمد شاه بابا، جمیله، توریالی او نور.

۵ـ زده‌کوونکي دې په وارسره د ټولګي مخې ته ورو بلل شي چې په متن کې د راغلیو آثارو له ډلې څخه د دوو کتابونو او د هغو د لیکوالو نومونه واخلي.

٦ـ په دې لاندې او داسې نورو پوښتنو په کولو دې د زده‌کوونکو په لوست د پوهیدنې د کچې ارزونه وشي:

- څوک د نثر لغوي او اصطلاحي معنا او مفهوم بیانولی شي؟
- څوک ساده یا مرسل نثر تعریفولی شي؟
- څوک په پښتو کې د متکلف نثرلیکلي اثر نوم ښودلی شي؟
- په پښتو کې د مسجع نثرو دوو لیکلیو کتابونو نومونه واخلئ؟
- ساده ولسي نثرونه څه ډول نثرونه دي؟
- څوک د اوسني ادبي نثرونو ډولونه ښودلی شي؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې پخپله خوښه د مسجع، متکلف، ساده او ادبي نثر لږ تر لږه پنځه کرښې د بیلګې په توګه ولیکي او دبلې ورځې پښتو لوست ساعت کې دې هغه د ټولګیوالو په وړاندې ولولي.

نیکي هر شی مغلوبوي، خو پخپله نه مغلوبیږي.

ګابریل کولیت سیدوني د کیسه ییز ادب پیاوړې لیکواله

ـ تاسې پښتو او دري ژبوله لیکوالو او شاعرانو سربېره د نورې نړۍ د کوم لیکوال یا شاعر له نامه او آثارو سره آشنا یاست؟

ـ د کوم بهرني لیکوال کوم ادبي اثر مو لوستی دی؟

وايي چې ادب د ټولنیز ژوند هنداره ده او په هغه کې د یوې ژبې د ویونکو یا ولس د اجتماعي ژوند خېره په ډېر ښه ډول انځورېږي. ددې لپاره چې موږ په بشري ټولنه کې ژوندکوو او دې ته اړ یو چې نه یوازې د خپل هیواد، بلکې د نړۍ د نورو هېوادونو د خلکو او ولسونو د ژوند، فرهنګ او کلتور په باب هم معلومات تر لاسه کړو، نو لازمه ده چې د نورو هېوادونو ادبیات په مستقیمه توګه د هغوی د ژبو د زده کولو او یا له هغو ژبوڅخه زموږ ژبو ته د ژباړلو شویو آثارو له لارې مطالعه کړو او له نومیالیو ادبي او فرهنګی خېرو سره یې آشنایي تر لاسه کړو. په همدې موخه په دې لوست کې د فرانسې د داستاني ادبیاتو یوه مشهوره لیکواله ګابریل کولیت در پېژنو.

سیدوني ګابریل کولیت نومیالۍ کیسه لیکونکې په ۱۸۷۳م. کال د فرانسې په ختیځ د سن سور آن پوازي په سیمه کې زېږېدلې ده. پلار يې د هغو سردارانو له ډلې څخه و چې ناپلیون له دندې ګوښه کړی او په بزګرۍ بوخت و. همدا لامل و چې مېرمن کولیت له هر څه زیاته د طبیعت له زړه وړونکو منظرو سره آشنا شوه.

نومورې خپلې لومړنۍ زده کړې د خپلې سیمې په ښوونځي کې تر سره کړې او بیا د دندې تر لاسه کولو پسې پاریس ښار ته لاړه. هلته يې د کویته ویلار په نوم له یوه ژورنالست سره چې په ورځپاڼه لیکنه کې په ((ویلي)) مشهور و، واده وکړ او د هغه په زیات ټینګار يې د ((کلودین)) تر سر لیک لاندې د یو لړ کیسو په لیکلو پیل وکړ چې هغه يې په څلورو ټوکونو کې د ((کلودین په ښوونځي کې))، ((کلودین په پاریس کې))، ((کولودین په کور کې)) او ((کلودین ځي)) تر سرلیکونو لاندې د ۱۹۰۰م. او ۱۹۰۳م. کلونو تر منځ دده د ژوند ملګری ((ویلي)) په نوم خپاره شول.

د مېرمن کولیت دغه ساده، خو ډېرې په زړه پورې کیسې د خلکو له ډېر تاوده هر کلي سره مخامخ شوې. دده په وړاندې د ویلي ځینې خیانتونه او ځان غوښتنې د دې لامل شوې چې په ۱۹۰۶م. کال له هغه څخه د خپل ژوند لاره بېله کړي. په دې ترتیب کله چې د دوی تر منځ د واده اړیکې و شلیدلې، دې ته اړه شوه چې د ژوند تېرولو لپاره څه کار کسب وکړي، نو يې یو لړ هنري فعالیتونه پیل کړل او د ننداړو تر سره کوونکو له یوې ډلې سره ملګرې شوه. د ننداړو تر سره کولو لپاره يې ډېرو لرې او نژدې ښارونو ته سفرونه وکړل او په دې لړ کې يې د خپلو راتلونکو ادبي فعالیتونو لپاره ډېر مواد تر لاسه کړل. هغې په ۱۹۱۰م. کال د ((ګرځنده ښځه)) په نوم داستاني اثر خپور کړ. په دې پسې يې درې کاله وروسته په ۱۹۱۳م. ((ننداړتون د صحنې تر شا)) ناول خپور کړ. له دې نه مخکې وختونو کې يې د ((لوماتن)) ورځپاڼې له مدیر سره واده کړی او د دغه ورځپاڼې ادبي کلیشې لیکل او ترتیبول هم په غاړه اخیستي وو چې ډېره موده يې دغو لیکنو ته دوام ورکړ. په ۱۹۱۲م. کال له خپل مېړه سره په طلاق دا لړۍ پای ته ورسېده.

هغې چې په ۱۹۲۰م. کال خپل یو ډېر ارزښتمن اثر د ((عزیز)) په نوم خپور کړی و، د هغې پاتې برخه يې د ((د عزیز د کار پای)) تر سر لیک لاندې په ۱۹۲۶ م کال چاپ او خپره کړه.

مېرمن کولیت څو کاله وروسته (۱۹۳۳م.) په خپل لیکلي رومان ((سیدو)) کې له

خپلې مور سره د زياتې مينې څرګندونه وکړه. په ۱۹۳٦م. کال يې د بلژيک د سلطنتي اکاډمي غړيتوب تر لاسه کړ، او د ((ژی ژی)) ناول له خپرولو وروسته په همدې ۱۹٤٤م. کال د کنګور د اکاډمي غړې او بيا د دې اکاډمۍ د رياست چارې هم وروسپارل شوې. په ۱۹٤۸ م کال يې د خپلو ليکلو آثارو بشپړه ټولګه چاپ او خپره کړه، د فلج په ناروغی اخته او له ادبي فعاليتونو پوره پاتې شوه.

نومورې به ۱۹۵۳م. کال د لژيون دونور نښان په تر لاسه کولو وياړل شوه او يو کال وروسته (۱۹۵٤م.) يې هم هلته په پاريس کې له نړۍ نه سترګې پټې کړې.

مېرمن کوليت سربېره پر هغې پياوړې څواک، پوهې او مهارت چې په خپلو آثارو کې يې د هيلو او غوښتنو په منعکسولو کې درلود، دا يې هم کولای شول چې لوستونکي د خپلو آثارو د طبيعي صحنو منځ ته ورولي او له طبيعت سره د هغوی ډېرې نژدې اړيکې ټينګې کړي. دا څواک يې هم درلود چې په لوستونکي کې د ماشومتوب حالت او جذبه راولاړه کړي. هغه هم په داسې لار او روش چې د روانۍ او ساده ګۍ له پلوه او د صحنو په انځورولو کې يې د خپلې زمانې په رومان ليکونکو کې د هغې سارى نه ليدل کېږي.

د يو مشهور کره کتونکي په وينا: ((د نوبل د جايزې ډېر داسې ورونکي شته چې نه شي کولای داسې څه وړاندې کړي چې د دغې ښځې له بديعي نبوغ سره برابري وکړي.))

مېرمن کوليت له دې پورته يادو کړو آثارو سربېره نور چاپي داستاني آثار هم لري چې دلته يې نومونه اخلو: دحيواناتو خبرې اترې (۱۹۰٤م.)، د تاک ځنې (۱۹۰۸م.)، نارسيدلي غنم (۱۹۲۳م.)، د ورځې را دبره کيدل (۱۹۲۸م.)، پيشو (۱۹۲۳م.)، ژولي دوکارنيلان (۱۹٤۱م.)، د ميرابو څواني(۱۹٤۱م.)، ماشامنى ستورى (۱۹٤۷م.)، يو واښه پلورونکى (۱۹٤۹م.)، آبي فانوس (۱۹٤۹م.)، د ښځو زړه (۱۹۵۲م.)، د مېرمن لپاره شعر (۱۹۵۳م.).

د متن لنډيز:

ګاربريل کوليت، مشهوره فرانسوی داستان ليکونکې په ۱۸۷۲م. کال په فرانسه کې زېږېدلې وه. پلار يې د هغو سردارانو له ډلې څخه و چې ناپليون واکمنۍ ته د رسيدو په مهال له دندې ګوښه کړ او په بزګرۍ بوخت شو. کوليت لومړنۍ زده کړه د خپلې سيمې په يو ښوونځي کې وکړه او بيا د دندې تر لاسه کولو پسې پاريس ښار ته لاړه،

هلته يې د يوې ورځپاڼې له ژورنالست سره واده وکړ، خپل څلور داستاني آثار يې د هغه په نوم خپاره کړل، وروسته د خپل ژوند ملګرې دځان غوښتنې له امله له هغه سره د ژوند لاره بېله کړه. په آزادو ننداريزو هنري فعاليتونو يې پيل وکړ. ډېرو ښارونو ته يې سفرونه وکړل او د داستاني آثارو د پنځونې او تخليق لپاره يې ډېر مواد تر لاسه کړل. بيا يې د لوماتن په ورځپاڼه کې د ليکوالې په توګه دنده تر لاسه کړه او د ورځپاڼې له مسؤول مدير سره يې واده وکړ. څو کاله وروسته يې له ده سره هم د واده اړيکې وشلولې او په خپلو فرهنګي فعاليتونو بوخته شوه. د بلژيك د سلطنتي اکاډمۍ غړې شوه، څه موده وروسته د کنګور د اکاډمۍ غړې او بيا يې د رياست چارې هم ورو سپارل شوې. نوموړې د داستاني ادبياتو پياوړې ليکواله وه. په لس ګونو آثار يې ليکلي او چاپ شوي دي، په زياترو کې يې د ښځو غوښتنې عواطف، هيلې او ارمانونه منعکس کړي، څکه يې نو د يوې پياوړې ليکوالې په توګه لوړ نوم او شهرت تر لاسه کړی دی. دغه نوميالۍ ليکواله په ۱۹۵٤م. کال مړه شوې ده.

فعاليتونه

۱ـ زده‌کوونکي دې متن په چوپه خوله په غور او دقت سره ولولي. بيا دې په نوبت سره يويو د ټولګي په وړاندې د متن د عبارت يوه برخه ولولي. ښوونکی دې د اړتيا په مهال کې له هغوی سره د سمون لپاره لازمه مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې د ټولګي مخې ته په نوبت سره را وبلل شي چې په متن کې د معرفي شوې ليکوالې په اړه نورو ټولګيوالو ته خپل معلومات وړاندې کړي.

۳ـ زده‌کوونکي دې وګومارل شي چې متن په ډېر غور او دقت سره ولولي او په متن کې راغلي فعلونه دې په نښه او لست کړي. بيا دې هر يو خپل لست کړي فعلونه نورو ټولګيوالو ته ولولي.

٤ـ ښوونکی دې د زده‌کوونکو د په نښه کړو فعلونو بشپړ توحيدي لست د تختې پر مخ

و ليکي. هغه دې د زمانې او نوعيت په لحاظ په بېلا بېلو کټګوريو ووېشي او زده‌کوونکو ته دې د هغو په هکله لازم معلومات او توضيحات ورکړي.

۵ـ زده‌کوونکي دې هغه لېست کړي فعلونه په خپلو کتابچو کې وليکي.

۶ـ ښوونکی دې دوه دوه زده‌کوونکي پاڅوي، يو دې له لېست کړيو فعلونو څخه يو فعل وايي او بل دې هغه د زمانې په لحاظ په يو مناسبه جمله کې وکاروي. دا لړۍ دې د ټولګي پر ټولو زده‌کوونکو په عمل کې پلې کړای شي.

فعل: هغې کلمې ته وايي چې په يوه زمانه يا ټاکلي وخت د يو کار يا يوې پيښې په کېدو، يا د يوه حالت په را څرګندېدو دلالت کوي. يا فعل د وينا هغه مهمه برخه ده چې له هغې پرته جمله نيمګړې بلل کېږي، فعل دمعنا له مخې په لازمي او متعدي او د زمانې له مخې په تېر مهال د (ماضي) اوسمهال (حال) او راتلونکی(مستقبل) باندې وېشل کېږي.

۷ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست د زده کړې ارزونه وشي:

- مورږ ولې د نورې نړۍ د خلکو ادبيات لولو او له مشهورو ادبي څېرو سره يې ځان آشنا کوو؟
- مېرمن کوليت څوک وه؟
- د مېرمن کوليت د پنځو مشهورو آثارو نومونه واخلئ.
- د مېرمن کوليت په آثارو کې کومو موضوعاتو ته ډېره پاملرنه شوې او ولې؟
- مېرمن کوليت کومې کومې دندې تر سره کړې؟

کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کورنۍ دندې په توګه د نړۍ د کوم مشهور ليکوال يا شاعر لنډ ژوند ليک وليکي او يا دې د هغوی کوم اثر په لنډه توګه معرفي او خپل را ټول کړي معلومات دې د پښتو لوست په راتلونکي درسي ساعت کې خپلو نورو ټولګيوالو ته ولولي.

پښتو ناول



ــ تاسې ناول پېژنئ چې څه ته وايي؟

ــ تر اوسه مو د ناول په نوم کوم اثر لوستی یا لیدلی دی؟

د ناول کلمې لغوي معنا نوی، تازه او عجیبه څیز دی، په اصطلاح هغې کیسې ته ویل کېږي چې پکې د انساني ژوند بېلا بېل اړخونه په هنري ــ ادبي ژبه وړاندې شوي وي. که د هغې پیښې رښتینې هم نه وي، لیکوال هغه د تخیل په مرسته داسې تخلیق کړي وي چې له انساني ژوند سره اړخ لګوي او د رښتیني ګومان پرې کېږي. ناول له انګریزي ادب نه اردو ژبې او ادب ته او له هغې څخه د ژباړې په لار په پښتونخواکې پښتو ادب ته راغلی دی او بیا پخپله پښتنو لیکوالو هم په دغه ادبي ژانر او ډول کې تجربې کړي او ډېر په زړه پورې آثار یې تخلیق کړي دي.

دلته په دې لوست کې د ناول په پېژندنه او په پښتو ژبه او ادب کې د هغه پر تاریخي بهیر بحث کوو.

د ناول لغوي معنا نوی، تازه او عجیبه څیز دی او په ادبي اصطلاح د نثري کیسه ییز (داستاني) ادب یو ډول دی چې موضوع یې انساني ژوند وي او لیکوال پکې د ژوند بېلابېل اړخونه په ډېره خوږه او ادبي ژبه وړاندې کوي. یا ناول هغه نثري کیسه ده چې له لنډې کیسې څخه اوږده وي او په لیکنې چوکاټ کې یې بېلابېلې برخې، لکه د کیسې طرحه یا پلاټ، اصلي او فرعي لوبغاړي (کردارونه) منظر کښنې، مکالمې او نور شاملې وي. لنډې کیسې سره یې ډېر لوی توپیر دادی چې پېښې او مسایل پکې په تفصیل سره بیانېږي او د لوبغاړو شمېر یې هم زیات وي.

د ناول لیکنې پیلامه په لویدیځ کې شوې، هلته د مخه اوږدې روماني او خیالي کیسې دود وې چې دهغو زیاتره پیښې به داسې وې چې په عام ژوند کې به هغه نه شوې پیښیدلې. په دغو اوږدو کیسو او داستانونو د پیریانو، ښاپیریانو، دیوانو او نورو غیبي موجوداتو کردارونه وو، جادو او کوډو اغېزې به پکې ډېرې وې او له ریښتیني انساني ژوند سره یې اړیکه نه وه، په همدغه مهال د اتلسمې پېړۍ په وروستیو کلونو کې ناول د یو نوي ادبي ډول (ژانر) په توګه په اروپا کې را منځته شو. په لومړي ځل لیکوالو داسې کیسې ولیکلې چې د ریښتیني انساني ژوند سم انځور پکې کښل شوی و او هیڅ یوه پیښه پکې داسې نه وه چې د هغې کېدل یا پېښیدل دې په عام انساني ژوند کې نا شوني وي. دغه ډول کیسو ته د ناول نوم ورکړل شو او په ادب کې یې ډېر مقبولیت تر لاسه کړ.

په انګریزي ادب کې لومړنی ناول سمویل چرډسن سمویل د ((پامیلا)) په نوم په ۱۷۴۱ میلادي کال لیکلی او په ۱۷۴۲ میلادی کال خپور شوی دی. وروسته د نثري ادب دغه ډول لیکنه د نړۍ د نورو ژبو په ادبیاتو کې هم دود شوې. په دې لړ کې ناول له انګریزي ادب څخه په اغېز د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې اردو ژبې او ادب ته راغلی او له هغه ځایه د ژباړې له لارې په پښتونخوا کې پښتو ادب ته راغی.

د ډپټي نذیر احمد لیکلي اردو ناولونه ((مرآة العروس)) او ((توبة النصوح)) پښتو ته را وژباړل شول. د مرآة العروس ناول په پښتونخوا کې میا حسیب ګل کاکا خیل په ۱۲۹۳ هجري قمري (۱۸۷۶م.) کال د ((نقش نګین)) په نوم وژباړه چې وروسته بیا په ۱۹۵۷م. کال په پېښور کې چاپ شو ((توبة النصوح)) میا محمد یوسف کاکا خیل په ۱۳۲۳ (۱۹۰۵ م)کال ژباړلی او په همدغه کال په پیښور کې چاپ شوی دی.

وروسته بیا پښتانه لیکوال د ناول لیکلو له هنر سره آشنا شوي او لومړنی لیکوال چې

پښتو ناول یې لیکلی، سید راحت زاخیلی دی. د هغه لیکلی ناول د ((ناول د ماه رخې)) په نوم په ۱۹۱۰ م کال لومړی په پېښور کې او بیا د دویم ځل لپاره په ۱۳۶۳ لمریز د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي چاپ کړی دی.

په پښتونخوا کې تر ۱۹۵۰ م کال پورې د بل چاپ شوي ناول څرک نه لګېږي. په همدغه کال د صاحبزاده محمد ادریس ((پېغله)) په نوم ناول چاپ شو، وروسته بیا په ۱۹۵۷ م کال د حمزه شینواري لیکلی ناول ((نوې چپې)) او په همدغه وختونو کې د رشید علي دهقان ((د سرو تعویز)) په نوم ناول په پېښور کی چاپ او خپور شو. وروسته بیا تر ننه پورې په پښتونخوا کې د ناول لیکنې هنر ډېره وده او پر مختیا موندله، لیکوالو پکې ښې تجربې وکړې او د هنر له مخې پوره او کره ناولونه ولیکل شول. د بېلګې په توګه د سید رسول رسا پنځه لیکلي ناولونه د (مفرور، شمې، خودکشي، مامونې او میخانه) او د ډاکټر شېر زمان غمژن طایزي د (ګل خان، امانت، رحمان کورونه، غونډۍ، واده و نه شو) په نومونو لیکلي او چاپ شوي ناولونه یادولی شو.

په افغانستان کې د پښتو ناول لیکنې پیلامه په ۱۳۱۷ لمریز کال د برهان الدین کشککي په لیکلي او چاپ شوي ناول ((پټه مینه)) سره شوې ده. یو کال وروسته (۱۳۱۸ لمریز) د محمد رفیق قانع ((دوه سره مین ورونه)) ناول چاپ شو او په را وروسته کلونو کې د قتیل خوږیاني دوه یاران، د غلام غوث خیبري د ((اور لمبې)) او ابدالی توره تاریخي ناولونه، د کبرا مظهري سپوږمۍ، د محمد عیان عیان چپه کښن، د محمد ابراهیم عطایي تاریخي ناول د آسیا په زړه کې توپان، د بشیر دودیال ((د مینې ډالۍ)) لیکل شوي او په دې وروستیو دوولسیزو کې په لس ګونو پښتو لیکل شوي او ژباړل شوي ناولونه چاپ او خپاره شوي، خو لیکل شوي ناولونه یې زیاتره د لیکوالی له مخې فني او تخنیکي کمزوري لري او هنري ادبي معیار یې ټیټ دی چې د لیکوالو ډېرې لیکنې تجربې او هلوځلو ته اړتیا لري، خو له دې سره سره داسې پیاوړي ناول لیکونکی لرو چې لیکلي ناولونه یې کره او په ادبي تول پوره دي.

د متن لنډیز:

د ناول لغوي معنا نوی، تازه او عجیبه څیز او په ادبي اصطلاح هغه تخلیقي کیسې ته وایي چې د ژوند بېلابېل اړخونه را نغاړي. ناول لیکنه لومړی په لویدیځ کې پیل شوې او د اوږدو اوږدو خیالي او روماني یا له واقعیته لرې کیسو ځای یې نیولی دی. ناول له انګریزي ژبې څخه اردو ته او بیا ژباړې له لارې پښتو ادب ته راغلی

دی.لومړني ژباړل شویو ناولونه د ډپټي نذیر احمد مرآة العروس او توبة النصوح دی چې د میا حسیب گل کاکا خیل او میا محمد یوسف کاکاخیل له خوا د ((نقش نگین)) او ((توبة النصوح)) په نوم پښتو ته ژباړل شوي او د پښتونخوا په پېښور کې چاپ شوي دي، وروسته بیا پښتنو لیکوالو هم د ناول لیکنې تجربې پیل کړې او لومړنی لیکوال چې پښتو ناول یې لیکلی سید راحت زاخیلي دی چې د ناول د ماه روخې په نوم یې په ۱۹۱۰ کال چاپ او خپور کړی دی، وروسته بیا په افغانستان او پښتونخوا کې ډېرو پښتنو لیکوالو په ناول لیکنه کې پخه او کره تجربه کړې او ډېر ناولونه لیکل شوي یا ژباړل شوی او چاپ شوي دي.

فعالیتونه

۱ـ ښوونکی دې یو یو پراگراف پر زده‌کوونکو ولولي او د اړتیا په وخت کې دې په سمون او اصلاح کې مرسته وکړي.

۲ـ زده‌کوونکي دې په دوو ډلو ووېشل شي چې متن په چوپه خوله ولولي او یوه ډله دې په متن کې راغلي د اشخاصو او ځایونو نومونه او بله ډله دې د کتابونو نومونه لست کړي. دهرې ډلې استازی دې لست کړي نومونه ولولي. ښوونکی دې هغه لستونه توحید او بشپړ کړي او پر تخته دې ولیکي.

۳ـ ښوونکی دې پر تخته د ځینو لیکل شویو کتابونو او اشخاصو په هکله زده‌کوونکو ته لازمي څرگندونې وکړي.

٤ـ زده‌کوونکي دی په ترتیب سره د ټولگي مخې ته ور و بلل شي چې د لوست عمومي مفهوم او پر هغه څه چې پوهېدلي هغه په خپلو الفاظو نور ټولگیوالو ته بیان کړي.

۵ـ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:

- څوك ناول را پېژندلی شي؟
- ناول لومړی ځل کله او د چا له خوا چېرې ولیکل شو؟
- له لویدیځ ادب څخه ناول څه ډول پښتو ادب ته راغلی دی؟
- پښتو ژبې ته لومړني ژباړل شوي ناولونه څه نومېږي او چا را ژباړلي دي؟
- په پښتو ژبه لومړنی ناول چا لیکلی او څه نومېږي؟
- د پنځو مشهورو پښتو ناولونو نومونه واخلئ؟

- د پنځو مشهورو ناول لیکونکو نومونه واخلئ؟

کورنی دنده

زده کوونکی دی کوم پښتو ناول پیدا، هغه دې ولولي د کیسې لنډیز دې پخپلو الفاظو و لیکي، په راتلونکي پښتو ساعت کې دې هغه نورو ټولگیوالو ته ولولي.

زده کوونکي دې لاندې شعر ولولي او خوند دې ترې واخلي:

د شاعر مسلک

صـحـیـح لاره بـه ښـایـم کـه وم وم که نه وم نه وم
رښتیـا رښتیـا بـه وایـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
د حـق د پـیـروی نه مې بل څـه په زړه کـې نـشـتـه
چـې څـه یـمه همـدا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
ازاد یـم زیـرېـدلـی بـنـدگـي کـولـی نـشـم
بنـده د خپـل مـولا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
پـه بلهو خوشـامندو مې ځـان خوښ نه دی چې غټ شـم
کـه غـټ یـم خـو همـدا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
چې څـوک غـواړي څه سپـکـه مې د قام د څه جهته
دښمـن د هغـه چـا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
خـدمت د خپلـې ژبـې، قام، وطن زما مسـلـک دی
پـه دې مینـه بـه پـایم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
کـرم ښکـلي تخمـونه چې گـلـزار شـي پښتنـو تـه
پـه دغـه تمـنـا یـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
پـه ماتـه کښـتی ناسـت یـم طوفانونـه مې پـه مخ کې
پـه دې لاره یـې بیـایم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم
د ناز په خوب ویـدې غونچـې ورو ورو راویـښـومـه
خـادم بـاد سبـایم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم

((قیام الدین خادم))

قافيه



ــ تاسې قافيه پېژنئ، دمخه مو د هغې نوم اورېدلی؟

ــ په شعر کې د قافيې په ارزښت او اهميت پوهېږئ؟

ــ څوک کولای شي د دې لاندې کلمو هم قافيه کلمې وليکي:

(١) غم = (٢) ژړا = (٣) سر = (٤) ګل = (٥) باغ =

قافيه عربي کلمه ده، لغوي معنا يې څټ يا شا ده. په شعر او شاعرۍ په ځانګړې توګه په کلاسيکې شاعرۍ کې ډېر ارزښت او اهميت لري. د دې لپاره چې زده‌کوونکي يا د شعر لوستونکي د شعر موزونه او هماهنګه برخه ښه وپېژني، د قافيې په علم پوهېدنه ضروري ده، په دې لوست کې قافيه درپېژنو، په دورونو، حرکتونو او ډولونو يې بحث کوو.

قافیه عربي کلمه ده، لغوي معنا یې خټ یا شا ده او په ادبي اصطلاح کې هغه پوهنه ده چې د شعر د بیتونو د دورونو له ورستیو همغږیو او هماهنګیو څخه بحث کوي.

قافیه پخوا په شعر او ادب کې له ډېرو مهمو او اساسي برخو څخه ګڼل کېده، خو اوس چې نوي آزاد او بې قافیې شعرونه دود شوي، هغه پخوانی اهمیت نه ورکول کېږي، اوس ادبپوهان په شعر کې وزن او آهنګ ډېر مهم ګڼي، خو بیا هم قافیه په شاعری کې، په ځانګړې توګه په لرغوني او کلاسیک شعر کې په ډېرې پاملرنې سره رعایت شوې، نو ځکه پرې د زده‌کوونکو پوهېدنه لازمي او ضروري ده.

دلته لومړی د قافیې کلمې، بیا توري، حرکتونه او ډولونه په مثالونو کې در پېژنو:

د قافیې کلمې:

هغه کلمې دي چې د دورونو په پای کې په لازمه همغږی مراعات شوې وي.

لکه په دې لاندې بیت کې:

شـکـلـیـه سـتـا د یـو شـکـلـي نـظـر پـه سر
ځـــای مـــې در لــه د کـــړ د ځـیـګـر پـه سر

په دې بیت کې د (نظر، ځیګر) دقافیې کلمې دي چې لازمه همغږي لري.

د قافیې توري:

د قافیې د کلمو له هغو تورو څخه عبارت دي چې لازمه هماهنګي یې بولي. دا توري (۹) دي:

(۱) روي (۲) ردف (۳) قید (٤) د تاسیس الف (۵) د خیل یا متغایر توري (٦) وصل (۷) خروج (۸) مزید (۹) نایر. یو څو ضروري یې تشریح کوو:

(۱) روی: په لغت کې رسی ته او د ادبي فنونو په اصطلاح د قافیې هغه توری دی چې پرته له هغه څخه قافیه نه جوړېږي، بېلګه یې داده:

پـــه دریـــاب خـــرنـــګـــه تـــر شـــي کـــام زمـــا
چـــې نـــســـکـــور لـــکـــه حـــبـــاب دی جـــام زمـــا
(شیدا)

په پورته بیت کې په (کام) او د جام کلمو کې د (ا ــ م) توري روي ده او (زما) کلمه په دواړو نیم بیتو کې ردیف بلل کېږي.

(۲) ردف: په لغت کې یو په بل پسې سپور او دوه پشته ته وایي او د ادبي فنونو په اصطلاح که د قافیو په کلمو کې لومړی هماهنګ توری خپلواک (الف، و، ی) توری له

روي شخه د مخه راغلي وي (ردف) بلل كيږي. لكه په دې لاندې بيت كې:

يـــار د يـــار د جـــدايـــۍ پـــر وخـــت گـــران شي
پـــس لـــه مـــرگـــه د ســـړي قـــدر عـــيـــان شي
(حميد)

په پورته بيت كې (شي، شي) كلمې رديف دي او (گران ـ عيان) د قافيې كلمې دي (ان ـ ان) يې هماهنگه برخه ده. (الف) چې خپلواك توری او هماهنگي پرې شروع شوې، نو ((ردف)) بلل كيږي.

(۳) قيد: كه چېرې د قافيې په كلمه كې هماهنگي په دوه ځنگ په ځنگ بې حركته يا بېواكه (ساكن) تورو كې راغلې وي، لومړی بې حركته يا ساكن غږ ته قيد وايي، لكه په دې لاندې بيت كې:

زه دې د اداء لـــه رنـــگـــه هـــســـت يـــمـــه
ځـــم لـــكـــه نـــگـــهـــت پـــه لاره مـــســـت يـــمـــه

په بيت كې (يمه ـ يمه) رديف او (هست ـ مست) د قافيې كلمې دي. (س) چې لومړی هماهنگ يا همغږی ساكن توری دی، ((قيد)) بلل كيږي.

(٤) د تاسيس الف: كه چيرې د قافيې په كلمو كې هماهنگي په خپلواك(الف) توري پيل شوې وي او د دغه الف او روي نه مخكې د خيل يا متغاير توری راغلی وي، نو دغه الف ته د تاسيس الف وايي. بېلگه يې داده:

خـــر د ســـرو زرو د زيـــن نـــه دی لايـــق
شـــه خـــېـــرې ورلـــــره بـــويـــه مـــوافـــق
(خوشحال)

په دې بيت كې د لايق او موافق د قافيې كلمې دي. په هماهنگه برخه چې (الف) خپلوك غږ دی او وروسته ترې د خيل توری راغلې، د تاسيس الف يې بولو.

(۵) دخيل يا متغاير توری: هغه مخالف توري چې په مؤسسه قافيه كې د تاسيس الف او روي تر منځ راغلي وي د خيل يا متغاير توري بلل كېږي، بېلگه يې داده:

نـــازيـــنـــنـــه كـــه د حـــســـن ســـخـــاوت كـــا
لـــه اولـــه دې پـــه مـــا دا عـــنـــايـــت كـــا

دلته (سخاوت او عنايت) د قافيې كلمې او (كا ـ كا) يې رديف دی (اوت او ايت) يې هماهنگه برخه ده (و ـ ی) چې د تاسيس الف او روی تر منځ موقعيت لري، دخيل يا متغاير توري دي.

د قافيې حرکتونه:

د قافيې کلمه شپږ حرکتونه لري چې په بېلابېلو ځايونو کې راتلای شي. د قافيې حرکتونه دادي:

(۱) رس (۲) اشباع (۳)حذو (٤) توجيه (٥)مجرى (٦)نفاذ

يو څو يې تشريح کوو:

(۱) رس: په لغت کې پيل ته او د ادبي فنونو په اصطلاح کې د تاسيس الف څخه دمخکې توري حرکت (چې زور دی) رس بلل کېږي، مثال:

لکـه ته هسې رقيب په مـا غالب دی   که سپې دی ستا د در زما صاحب دی
(حميد)

په پورته بيت کې د غالب او صاحب د قافيې کلمې او (دی ـ دی) رديف دی. هماهنگه برخه کې چې د تاسيس له الف څخه د مخه تورو (غ، ص) حرکتونه زورونه دي (رس) بلل کېږي.

(۲) حذو: په لغت کې برابر ته وايي او په اصطلاح کې د قيد او ردف له تورو څخه د مخه تورو حرکت ته حذو ويل کېږي، بېلګه:

د اشفاق طمعه به څه کړې له اخوانه   نتيجـــه يې ورکـــيده دي له کـنعانه
(شيدا)

په دې بيت کې (اخوانه ـ کنعان) د قافيې کلمې دي. هماهنګه برخه يې (الف ـ ن ـ ه) ده. له ردف څخه د مخکې تورو (و ـ ع) حرکتونه چې زورونه دي، حذو يې بولي.

(۳) اشباع: په لغت کې مړښت ته وايي او په اصطلاح کې د دخيل تورو حرکت ته اشباع وايي. بېلګه:

هېڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل   هسې پاتې شـــــوم مـردود و نا قابل
(رحمان بابا)

په دې بيت کې د قافيې کلمې (حاصل ـ ناقابل) دي. الف چې خپلواک غږ او د تاسيس الف دی (ص، ب) د تاسيس الف اوروي تر منځ راغلی، دخيل توري دي. د همدغو دوو تورو (ص ـ ب) حرکتونه چې (زيرونه) يا کسرې دي، اشباع بلل کېږي.

(٤) توجيه: په لغت کې د يو شي د مخې کولو په معنا ده او په اصطلاح کې د قافيې په کلمو کې د روي له توري څخه د مخه توري حرکت ته توجيه وايي، مثال:

ځـواني زمـا شـوه دود لـه غريـبه د دلـبر سـره ځي
ډېـوه د هـوش مې پـه سلګو شـوه لـه سحر سـره ځي
(حمزه)

د قافيې ډولونه:

قافيه په دوه ډوله ده: الف: حكمي قافيه   ب: حتمي قافيه

حكمي قافيه عموماً په لنډيو كې مراعات كيږي چې د هرې لنډۍ آخر ته بايد (نه ـ مه) آهنگ راشي، لكه:

زما دلرې وطن ياره   رب دې سپوږمۍ كړه چې دې وكړم ديدنونه

او حتمي قافيه هغه د نظم په دواړو نيم بيتو كې داسې كلمې راغلې وي چې لازمه هماهنگي ولري. دا قافيه دكلمو د مراعات په لحاظ په دوه ډوله ده: ١ـ غبرگه قافيه ٢ـ مركبه قافيه.

الف ـ غبرگه قافيه: كله كله شاعر په ځان دا لازموي چې په هر نيم بيتي كې دې د قافيې دوه كلمې راوړي او كله بيا دا پر ځان لازم گڼي چې ټول نيم بيتی دې مصرع وي. دغه دواړو ډولونو ته د قافيې په اصطلاح كې غبرگه قافيه وايي.

ب ـ مركبه قافيه: هغې قافيې ته وايي چې د قافيې د كلمې په هماهنگه برخه كې له روی سره (ردف، قيد، تاسيس الف يا وصل، خروج، مذيد او ناير) له تورو څخه يو توری راغلی وي. دا قافيه په څلور ډوله ده، يوازې نومونه يې اخلو: (١) مؤسسه قافيه (٢) مقيده قافيه (٣) مردفه قافيه (٤) موصله قافيه.

د متن لنډيز:

قافيه عربي كلمه ده، لغوي معنا شا يا څټ او د ادبي فنونو په اصطلاح هغه پوهنه ده چې د شعر د بيتونو د وروستيو دورونو له هم غږيو او هماهنگيو څخه بحث كوي، دقافيې كلمې هغه دي چې د دورونو په پای كې په لازمه هماهنگۍ او همغږۍ مراعات شوي وي. قافيه (٩) توري لري چې هغه: روي، ردف، قيد، د تاسيس الف، دخيل يا متغاير توری، وصل، خروج، مزيد او ناير دی.

قافيه شپږ حركتونه لري چې هغه په بېلابېلو ځايونو كې راتلای شي. حركتونه يې دادي: رس، اشباع، حذو، توجيه، مجریٰ، نفاذ.

قافيه په دوه ډوله ده: حكمي قافيه، حتمي قافيه

حتمي قافيه دكلمو د مراعات په لحاظ په دوه ډوله ده: غبرگه قافيه، مركبه قافيه.

فعاليتونه

١ـ زده‌كوونكي دې متن په غور او دقت سره په چوپه خوله ولولي او بيا دې په ترتيب سره زده‌كوونكي د متن څوڅو كرښې د ټولگي په وړاندې ولولي.

۲ــ ښوونکی دې د هرې برخې بېلګه پر تخته ولیکي او زده‌کوونکې دې په نوبت سره تختې ته ورشي او په هغه کې د قافیې کلمې، ردیفونه، د قافیې توري او حرکتونه په عملي توګه وروښيي.

۳ــ ښوونکی دې له متن څخه بهر ځینې بیتونه پر تخته ولیکي او زده‌کوونکي دې ور وبولي چې په هغه کې د قافیې کلمې، توري، حرکتونه وښيي.

ښوونکی دې د اړتیا په وخت کې مرسته او سمون وکړي.

٤ــ ښوونکی دې یو بیت زده‌کوونکو ته ووایي چې هغوی یې د املاء په بڼه په خپلو کتابچو کې ولیکي او په کې د قافیې توري پیدا کړي.

٥ــ په دې لاندې پوښتنو دې د لوست ارزونه وشي:

- څوك قافیه په لغوي او اصطلاحي معنا او مفهوم را پېژندلی شي؟
- څوك په شعر کې د قافیې ارزښت او اهمیت بیانولی شي؟
- څوك د قافیې توري ښودلی شي؟
- څوك ویلی شي، چې قافیه څو حرکتونه لري او هغه کوم دي؟
- قافیه په څو ډوله ده؟ نومونه یې واخلئ.

کورنی دنده

ښوونکی دې زده‌کوونکو ته له متن څخه بهر دا لاندې دوه بیتونه ورکړي چې زده‌کوونکي یې په کور کې د قافیې کلمې، ردیفونه او هماهنګې برخې، په نښه او د پښتو لوست په راتلونکي درسي ساعت کې هغه نورو ټولګیوالو ته د تختې پر مخ تشریح کړي:

هــر ســاعــت زمــا د غــوږ پــه تــاوولــو
د رقیــب لاســونــه ســره شــي تــر څنګلو
عبدالرحمٰن بابا

× × ×

الٰــهــي د مــحبــت ســوز او ګــداز را
پــه دې اور کــې د ستــي سـمـنـدر ساز را
عبدالحمید مومند

وییپانگه

((ا))

اترنگ: یو ډول نکریزې دي

اتلان: قهرمانان

ارزونه: ارزيابي، ارزښت موندنه

اړ: مجبور او مکلف

اړېستل: مجبورول

اړیکې: ارتباطات

آزموینه: امتحان

استازی: نماینده

استوګن: اوسېدونکی

اشجار: ونې

اعزاز: عزت، لوړاوی

اغېز: تاثير

اوډنه: تدوين او تنظیم

اوسمهال: اوس زمانه

اونیزه: جریده، هفته نامه

ایجاد: رامنځته کېدل

((ب))

بډای: غني، شتمن

بصیرت: بینایي، پوهه

بڼه: شکل

بهیر: جریان

بیړه: تلوار

بېلګې: نمونې، مثالونه

بېلګه: نمونه، مثال

((پ))

پانګه: شتمني، مال

پرمختګ: ترقي، پیشرفت

پرښتې: ملایکې

پړاوونه: مرحلې

پسو للی: سینګار شوی

پلازمېنه: پایتخت

پلوي: طرفدار

پلویان: طرفداران

پلې: تطبيق، عملي

پنځول: تخلیقول، نوي رامنځته کول

پېروپلور: اخیستل، خرڅول

پیلامه: شروع

((ت))

تړاو: ارتباط، اړه

تصدیعه: زحمت، تکلیف

تملق: چاپلوسي، خوشامندي

توکم: اصل، نسل - قوم

توکي: برخې، مواد

تېر مهال: تېره زمانه

((ټ))

ټاټوبی: هېواد، د اوسېدو سیمه

ټبر: قوم، ولس

ټکنده غرمه: پوره غرمه

ټکنی: ځلېدنی

ټولګې: مجموعې

ټولنیز : اجتماعي

((ج))

جوت: معلوم، څرګند

((چ))

چاپېریال: محیط

چارې: کارونه

((ځ))

ځواک: قوت

ځیرک: هوښیار

ځانګړنه: ځانګړتیا، خصوصیت

ځواکمن: د زور او قوت خاوند

((څ))

څرګندونې: توضیحات

څېړنیز: تحقیقي

څېړونکي: محققین

((ح))

حجاب: پرده

حرکات: حرکتونه

((خ))

خار: اغزی

خصلت: خوی، عادت

خوندي: ساتل شوې

خیام: خېمه

((د))

داد: عدالت، انصاف

دود: رسم او رواج

دودیز: عنعنوي

((ذ))

ذوق:

((ډ))

ډاډه: مطمین

ډالۍ: سوغات، تحفه

ډګر: میدان

((ر))

ربړه: مشکل، ستونزه

روزنه او پالنه: تربيت او پرورش

((ز))

زبون: ځپل شوی، بدحال

زرغون: شین، راټوکېدل

زرینه: طلایي

((ژ))

ژغورنه: ساتنه، خوندي کول

ژغورل: ساتل

ژباړه: ترجمه

((س))

ستاینه: صفت

ستونزمن: مشکل
سحاب: وريځ
سرفرازه: سرلوړې
سکنات: ځای پرځای درېدل
سلوك: چلند، رويه
سوگند: قسم
سويل: جنوب
((ښ))
ښکېلاك: استعمار
ښېگڼې: ښه والی، غوره والی
ښکېل: نښتي
((ط))
طراوت: تازه گي، ښېرازي
طرز: ډول
((ع))
عظمت: لوړوالی
((غ))
غورچاڼ: منتخب
غوره: ښه، عالي
غور: تاکيد
((ق))
قدام: قدمونه
قشر: طبقه، پوړ
قديم: پخوانی
((ك))
کټ مټ: عيناً
کچه: سويه، سطحه
کرونده: د کښت ځمکه، مزرعه
کلتور: د عنعنو مجموعه
کيف: اغېز ـ خوند
((گ))
گروېږنه: پوښتنه، سپړنه، پلټنه، تحقيق
گرمايي: تودوخه
گواه: شاهد
گړنگ: ژور ځای، کنده
گنج: خزانه
گومارل: مؤظف کول
((ل))
لاسته راوړنه: لاس ته راوړی شی، دست آورد
لامل: سبب، عامل
لرغوني: پخوانی
لړی: سلسله
لورول: پيرزو کول
لويه وچه: براعظم
لېږدول: انتقالول
ليکدود: رسم الخط
((م))
مراحل: مرحلې، پړاوونه
مرتبه: درجه، پوړ، مقام
مرشد: پير، لارښود
مزرعه: کرونده
مسند: ځوکی، مقام، رتبه
مشاور: سلاکار، مشوره ورکوونکی
مغلق: پېچلی
مکان: ځای
منځپانگه: محتوا
منظومه: په شعر يا نظم وينا
موخې: هدفونه
مهال: وخت
((ن))
ناشونې: نه کېدونکې، ناممکنه
نچوړ: نتيجه
نغوته: اشاره
نامتو: مشهور، نوميالی
نغښتې: پېچلی، راتاو شوی
((و))
ورد: ذکر، په ژبه تکرارول
ورين: پراخ، پرانستې
وړ: لايق، مناسب
ولېږدېد: انتقال شو
ونډه: برخه
وياړ: افتخار
((هـ))
هڅونه: تشويق
هورې: هلته
هوساينه: ارامې، سوکالې
((ي))
يون: حرکت
يونليکونه: سفرنامې